# اوبه انرژي

د اوبو او انرژي وزارت خپروونکی ارگان

یوولسم کال، نولسمه گنه، د ۱۴۰۱هـ ش کال دوهم ربع ( سرطان، اسد، سنبله ) چې د ۱۴۴۳ - ۱۴۴۴هـ ق کال سره سمون لري



بند دهله در ولایت کندهار

اعوذ بالله من الشيطان الرجيم

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيم

# أَفَرَأَيْتُمُ الْمَاءَ الَّذِي تَشْرَبُونَ ﴿٦٨﴾
# أَأَنتُمْ أَنزَلْتُمُوهُ مِنَ الْمُزْنِ أَمْ
# نَحْنُ الْمُنزِلُونَ ﴿٦٩﴾ لَوْ نَشَاءُ
# جَعَلْنَاهُ أُجَاجًا فَلَوْلَا تَشْكُرُونَ

﴿٧٠﴾ ﴿٥٦﴾ سوره واقعه

آیا تاسو د هغو اوبو پهٔ اړه فکر کړی، چې تاسو یې څښئ؟! (٦٨) آیا تاسو
دغه لهٔ سپینو وریځو نه نازلې کړې دي، یا هم دا مونږ یې نازلوونکي یو؟!
(٦٩) که مونږ وغواړو، دغه اوبه به ترووې ترخې وګرځوؤ، نو تاسو ولې شکر نه
وباسئ؟! (٧٠)

# د دې ګڼې په پاڼو کې


سـرمقاله ---------- ۲
هلمند ولایت کې د کجکي بند د پروژې دوهم فاز پرانیستل شو او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو ---------- ۳
په هیواد کې د انرژي د تولید د پروژو د پلي کیدو په موخه د پاورچاینا (Power China) شرکت له استازي سره د همغږۍ ناسته ترسره شوه ---------- ۴
جلسه هفته وار تخنیکی معینیت آب برگزار شد ---------- ۴
جلسه هماهنگی به منظور حل مشکلات پروژه بند بخش آباد و آغاز کار مجدد آن برگزار شد ---------- ۵
د دعوت او ارشاد روزنیز او اصلاحي پروګرام د ذالحجې د ورځې ("ایام قادمه عشرة ذیالحجة") د فضیلت په هکله ترسره شو ---------- ۵
د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر د یوه مطبوعاتي کنفرانس په ترڅ کې د دغه وزارت کړنې او لاسته راوړنې د رسنیو ---------- ۶
جلسه هماهنگی به منظور بررسی وضعیت پروژه های تحت کار بندهای آب برگزار شد ---------- ۶
سرپرست وزارت آب و انرژی، سرپرست وزارت اقتصاد و سفیر کشور ترکیه جلسه مشترک برگزار کردند ---------- ۷
دیدار مسئولین وزارت آب و انرژی با سرمایه گزاران افغان و ایرانی ---------- ۷
د اوبو او انرژي په سکتورونو کې د ملي او نړیوالو خصوصي پانګونو د جذب او هڅونې کنفرانس ترسره شو ---------- ۸
د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر د کمال خان بند څخه لیدنه وکړه ---------- ۹
د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر د خپلو ولایتي سفرونو په لړ کې لوګر ولایت ته سفر وکړ ---------- ۹
سرپرست وزارت آب و انرژی در راس یک هیئت بلند رتبه عازم بند بخش آباد ولایت فراه گردید ---------- ۱۰
د اوبو او انرژي سرپرست وزیر ارزګان ولایت ته سفر وکړ ---------- ۱۱
جلسه تخنیکی معینیت آب در مورد بررسی وضعیت بندهای کشور و تهیه و طرح مدیریت آبهای زیرزمینی برگزار شد ---------- ۱۱
د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر کندهار ولایت ته کاري سفر تر سره کړ ---------- ۱۲
معین آب وزارت آب و انرژی با معین مالی و اداری شرکت انکشاف ملی دیدار کرد ---------- ۱۲
د اوبو او انرژي وزارت د انرژي نوی معین د یاد وزارت رئیسانو او کارمندانو ته وروپېژندل شو ---------- ۱۳
د اوبو او انرژي وزارت او د تخنیکي او پراختیایي همکاریو اداري (ACTED) تر منځ د همکاري تړون لاسلیک شو ---------- ۱۳
د کابل ښار د اوبو د مدیریت په موخه د همغږۍ ناسته ترسره شوه ---------- ۱۴
جلسه تخنیکی معینیت آب در مورد تکمیل سازی دیزاین پروژه انتقال آب از پنجشیر به کابل برگزار شد ---------- ۱۴
سرپرست وزارت آب و انرژی با مسئول بخش آب اداره یونسیف در افغانستان دیدار کرد ---------- ۱۵
د اوبو او انرژي وزارت د رهبري غونډه د ځینو اداري او تخنیکي مسایلو د څېړنې په موخه ترسره شوه ---------- ۱۵
مسئولین حوزه فرعی دریایی کابل وسطی از جریان کار پروژه ولسوالی خاکجبار ولایت کابل نظارت کردند ---------- ۱۵
د شمال سیندیزې حوزې عمومي رئیس او ورسره مل د اوبو او انرژي وزارت تخنیکي پلاوي په سمنګان ولایت کې ---------- ۱۵
د افغانستان لپاره د اقتصادي نظام چوکاټ ---------- ۱۶
د اوبو د چارو د تنظیم قانون ارزونه ---------- ۲۲
د څـمـکـــې په کـره کې د اوبو شـتـون ---------- ۲۴
چالش ها و فرصت های سکتور انرژی در کشور ---------- ۲۷
د نړیوالو سیندونو د حقوقي بهیر بشپړتیا شالید د تاریخ په اوږدو کې ---------- ۲۹
د هریرود سیندیزې حوزې اړوند د افغانستان او ایران تر منځ د اختلافاتو ارزونه ---------- ۳۱
لمریز بریښنایي سیستم ---------- ۳۶
دسیلابونو د زیانونو عوامل او د هغه د کنټرول حل لارې ---------- ۳۸
د افغانستان د اسلامي امارت د استقرار څخه راوروسته د اوبو او انرژي وزارت د انرژي معینیت اړوند د انرژي د پالیسیو ریاست ---------- ۴۰
تحلیل اوسط بارند گی سالانه در سطح حوزه های دریایی افغانستان ---------- ۴۱
قرارداد پروژه بند پاشدان ولایت هرات مورد بررسی و بازنگری قرار گرفت ---------- ۴۳
د سترو پروژو د قراردادونو د څېړنې د رهبري پلاوي دوهمه ناسته د کجکي بند د قرارداد په هکله ترسره شوه ---------- ۴۳
د انرژي معینیت اونیزه ناسته د رئیسانو د راپورونو د څېړنې او د یاد معینیت د یو شمېر پروژو د ستونزو د هوارولو په هکله ترسره شوه ---------- ۴۴
رئیس جدیدالتقرر ریاست تنظیم آبیاری و آبرسانی به همکاران معرفی شد ---------- ۴۴
باغیس ولایت کې د دایزنګۍ او تګاب کانالونو د پاکاري ، د اندړي او قرغیطو کانال د پاکاري او د محافظوي دیوار ---------- ۴۴
د میدان ښار سیندیزې حوزې رئیس د دادل او جوقل چکډمونو د چارو له بهیر څخه څارنه وکړه ---------- ۴۵
رئیس حوزه دریایی تالقان از امور پروژه نمک آب ولایت تخار نظارت نمود ---------- ۴۵
کار بازسازی کانال چپ ولسوالی خان آباد ولایت کندز با هزینه بیش از ۷ صدهزار افغانی آغاز شد ---------- ۴۵
کندز ولایت کې د یوه کانال د بیارغونې چارې د ۹ میلیونه افغانیو په لګښت پرانیستل شوې ---------- ۴۵
بازسازی سه کانال با هزینه دومیلیون افغانی در ولایت بامیان آغاز شد ---------- ۴۵
مسئولین حوزه فرعی دریایی وسطی کابل به منظور انجام بهتر و به موقع امور جلسه برگزار کردند ---------- ۴۶
د ګوملې په سیندیزه فرعي حوزه کې د چارو د ښه توګه او پر وخت د ترسره کولو په موخه د همغږۍ ناسته ترسره شوه ---------- ۴۶
پروژه تصفیه، ذخیره سازی و استفاده از آبهای سطحی به عوض آبهای زیرزمینی برای سرسبزی و آبیاری ---------- ۴۶
د غزني په ولایت کې د سروکانو بند چارې پیل شوې ---------- ۴۷
سروی تخنیکی سربند قریه جلګه درازګرد در ولایت پروان انجام شد ---------- ۴۶
پکتیا ولایت کې د ټنډانو سربند رغنیزې چارې د څه باندې ۹۹ زره آمریکایي ډالرو په ارزښت پیل شوې ---------- ۴۷
د کابل ولایت په پغمان ولسوالۍ کې د دریو ټولګټو پروژو پرانیسته ---------- ۴۷
تخار ولایت کې د اوبو ګټه اخیستونکو ټولنو ته د فعالیت د جواز ورکولو غونډه ترسره شوه ---------- ۴۸
سمینار اصلاحی و تربیوی ریاست دعوت و ارشاد پیرامون توبه و اهمیت آن برگزار شد ---------- ۴۸
استیشن هایدرومیتیورولوژی پل خوست ولایت پکتیا پس از تغییر موقعیت به بهره برداری سپرده شد ---------- ۴۸
بامیان ولایت کې د دوو ټولګټو پروژو چارې د دوه میلیونه افغانیو په لګښت پیل شوې ---------- ۴۸
کمیته انرژی ولایتی در ولایت بغلان ایجاد شد ---------- ۴۸
مطبوعاتي اعلامیه ---------- ۴۹



**د امتیاز خاوند: د اوبو او انرژۍ وزارت**

**مسؤول مدیر:** خواجه فقیر محمد "صدیقی"

**د تحریر هیئت تر نظر لاندې:**
قاری محمد عبدالعزیز "عزیز"
الحاج غلام جیلانی "حق پرست"
انجنیر میرویس "میرزاد"
برکت الله "آریوبی"
انجنیر همت الله "امین زی"
اسدالله "زیرک"
سید عطاالله "صدیقی"

**سموونکی:** بازمحمد" درمل "

**راپور ورکوونکی:** نعمت الله " اخلاقی" او اسدالله "ایوبی"

**عکس اخستونکی:** محمد حکیم "فیض"

**توزیع کوونکی:** سیدعادل "سادات"

**آدرس: د دارالامان عمومی سرک**

**ایمیل پته:** chiefofstaff@mew.gov.af
Info@ mew.gov.af

**د اړیکو شمیره :** ۰۷۷۷۹۱۷۸۹۸
۰۷۷۳۲۱۸۴۱۸


**درنو لوستوونکو!**
**د اوبو او انرژي وزارت مجلې او میاشتنی جریدې د سافټ موندلو لپاره کولای شئ د دې اداراې ویب سایټ ته مراجعه وکړئ.**

**یادونه: د اوبو او انرژي فصلنامه کې چې کومې مقالې خپرېږي،په لیکوالانو پورې اړه لري؛هر لیکوال ته بویه چې د خپلې لیکنې دفاع پخپله وکړي، د مجلې د نوم په یادولو سره هر چاته د مأخذ په توګه د استفادې اجازه ده.**

د اوبو او انرژي فصلنامه

یوولسم کال نولسمه گڼه، د ۱۴۰۱ هـ ش کال دوهم ربع چې د ۱۴۴۳- ۱۴۴۴هـ - ق کال سره سمون لري

# ســـــــــرمقاله

هر ملت، دولت، قوم او ولس پهٔ هر وخت کې بېلا بېلې اړتیاوې لري، چې د لومړیتوبونو لهٔ مخې یې درجه بندي کوي او بیا د خپلو اړتیاوو د پوره کولو لپاره پلان او نقشه جوړوي، زمونږ هېواد چې د خپل ټول تاریخ پهٔ جریان پهٔ تیره بیا پهٔ تیره نژدې نیمه پیړۍ کې د نړۍ لهٔ خورا جابرو اشغالگرو سره لاس او گرېوان وو، چې الحمدلله زمونږ مؤمن هېوادوال وتوانېدل چې شوري او امریکا دواړو ته عبرتناکه ماتې ورکړي، چې ددغو بریاوو کریډېت یوهٔ قشر ته  نشو ورکولای؛ بلکې د یرغلگرو ماتې او د هیواد خپلواکي د ټول ملت د قربانیو او همکاریو پهٔ نتیجه کې شونې شوه، نو اوس افغانان د وخت کورنیو، بهرنیو، سیمه ایزو او نړیوالو گواښونو او خنډونو ته پهٔ کتو تر هر څهٔ زیات ملي وحدت ته اړتیا لري، باید تر بل هر وخت زیات ملي یووالي ته متوجه واوسو او پهٔ هېڅ صورت باید متضرر نه شي، د افغانستان هر وگړی باید یواځې او یواځې دوه پیژند نښې ولري، چې هغه اسلامیت او افغانیت دی او همدغه دوو (اسلام او افغانستان) ته باید پهٔ خورا اخلاص او صداقت خدمت وکړو، همدغه زمونږ پیژند نښې دي او پهٔ همدغو دواړو کې زمونږ د بقا راز نغښتی دی.

زمونږ پورته ادعا د نړۍ پهٔ تیره بیا زمونږ د هېواد تاریخ پهٔ وار وار رښتیا ثابته کړې ده، نو لهٔ همدغه تاریخي ثبوت او تجربې څخه باید درس واخلو، د پرونیو ناخوالو لهٔ تکرار څخه ځان وژغورو او لهٔ پرونیو غمیزو څخه پهٔ درس اخیستو نن د سبا لپاره لاره، لوري موخه او مخه  وټاکو، اوس هر افغان مسؤل او مکلف دی، چې د خپلو ټولو کړو وړو موخه یې باید اسلام، افغانستان او افغانانو ته چوپړ وي.

هو! ډیره اړینه ده، چې مونږ هر یو باید ویښ او خپلو کړنو ته متوجه واوسو ترڅو خدای مکړه چې پهٔ شعوري یا غیر شعوري ډول زمونږ وینا او عمل د دښمن تبر ته لاستی نه شي، زمونږ د حکومت او ولس ټولې کړنې باید د ملي وحدت او ملي گټو پر محور راټولې وي، هیڅ یوې بهرنۍ او کورنۍ کړۍ ته اجازه ورنکړو چې د افغانانو ملي وحدت ته صدمه ورسوي.

مونږ ته پهٔ تجربو ثابته شوې ده، چې پردیو یواځې د هغوی د خپلو گټو پهٔ خاطر لهٔ مونږ سره تعامل کړی دی، کاذبه خواخوږي یې راسره ښودلې ده او زیاتره وخت یې پهٔ زهرو ککړې گوړې د شاتو پهٔ بیه راباندې پلورلې دي، او خپل خو پهٔ یو نه یوه بڼه راباندې دردیدلي او خفه شوي دي ځکه چې خپل خپل وي. که هرڅومره ترخه وي او پردي پردي وي، که هر څومره خواږه وي، چارواکي هم ځانونه باید واکداران نه! بلکې د دین، هېواد او ملت خادمان وگڼي، واک او ځواک باید د ځان امتیاز نه بلکې یو دروند دیني او ملي مسؤلیت وگڼي او ددغه مسؤلیت پهٔ ترسره کولو کې باید هر ډول ستونزې پهٔ ورین تندي وزغمي، د ملي وحدت او ملي گټو خوندیتوب پهٔ لاره کې ددوی مسؤلیت تر ملت ډېر زیات دی او هره شېبه باید دغه مسؤلیت ته متوجه واوسي.

د اوبو او انرژي وزارت د یو مهم دولتي ارگان پهٔ توگه ځان د خدای ج او ولس پهٔ وړاندې مسؤل گڼي، د دین، هېواد او ولس چوپړتیا د ځان لپاره ویاړ گڼي، او ژمن دی، چې ددیني او ملي ایجاباتو پهٔ رڼا او د خپلو شته امکاناتو پهٔ چوکاټ کې او د متوازن انکشاف د اصل پر بنسټ خپلو هېوادوالو ته خدمت وکړي، د هېواد پهٔ بیا رغونه او پرمختگ کې به لا زیات هاند او هڅې وکړي، تر څو د اوبو د مدیریت او نرژي د تولید پهٔ برخه کې د هېوادوالو هیلو او ارمانونو ته د عمل جامه ورواغوندي.

چې الحمدلله لهٔ تیر یوه کال راهیسې دیاد وزارت کړنې او هڅې ټولو هېوادوالو ته څرگندې دي لکه د کمال خان، شاه وعروس، کجکي بندونو د پاتې کارونو بیا پیل کول لهٔ پنجشیر څخه کابل ته د څښاک اوبو د انتقال، د ډېرو سکرو، لمر او باد څخه د انرژي تولید، د سلهاو کانالونو د ترمیم او پاک کاري، د لسگونو نوو پروژو د ابتدائي سروې او ډیزاین چارې پیلول او د اوبو د مدیریت او بریښنا د تولید پهٔ برخه کې د کورني او بهرني خصوصي سکتور د پانگونې د جلب او جذب نړیوال کنفرانس تدویر او له لسگونو کورنیو او بهرنیو شرکتونو سره ترسره شوي او روان مذاکرات یې څرگند ثبوتونه دي، داوبو او انرژي وزارت رهبري د هېوادوالو چوپړ د ځان لپاره تر ټولو ستر ویاړ گڼي او په دې لاره کې د هېوادوالو هرراز مرستې او مشورې په ډېر درانه نظر گوري.

د تلپاتې، خپلواک، هوسا، او بسیا افغانستان په هیله!

حق پرست

# هلمند ولایت کې د کجکي بند د پروژې دوهم فاز پرانیستل شو او گټې اخیستنې ته وسپارل شو



هلمند ولایت کې د کجکي بند د پروژې دوهم فاز د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزرا اقتصادي مرستیال ښاغلي ملا عبدالغني برادر، د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزرا اداري مرستیال ښاغلي مولوي عبدالسلام حنفي، د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر ښاغلي ملا عبداللطیف منصور، د ترکیې هېواد سفیر ښاغلي جهاد ارگیناى، د اقتصاد وزارت سرپرست وزیر ښاغلي قاري دین محمد حنیف، د بهرنیو چارو وزارت سیاسي معین ښاغلي شیرمحمد عباس ستانکزی، د ترکي ۷۷ شرکت رئیس ښاغلي سلیمان جیلیو ، د اسلامي ا مارت گڼ شمېر لوړ پوړو مسؤلینو ، د هلمند او کندهار ولایتونو د مخورو پهٔ حضور کې پرانیستل شو او گټې اخیستنې ته وسپارل شو.

د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر ښاغلي ملا عبداللطیف منصور د دې پروژې پرانیسته د اوبو او انرژي وزارت یوه مهمه لاسته راوړنه و بلله او د عام المنفعه پروژو اهمیت ته پهٔ اشارې سره یې څرگنده کړه: "د پراختیایي پروژو پلي کول او اقتصادي وده لهٔ امنیت وروسته د هېواد د پرمختگ او پرڅان بسیاینې لپاره د ټولنې لهٔ مهمو اړتیاوو څخه ده. " هغه زیاته کړه: "مونږ هوډ لرو چې د انرژي د تولید او د اوبو د مدیریت پروژې پلې کړو چې زمونږ د هېوادوالو اړتیاوې پوره کړي."

د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر د خپلو خبرو پهٔ دوام کې د کجکي بند د دوهم فاز پروژې پلي کول د خصوصي سکتور د پانگونې لهٔ خوا د وزارت یوه بریالۍ تجربه د وزارت د پروژو د پلي کولو پهٔ برخه کې وبلله او ټینگار یې وکړ چې د اوبو او انرژي وزارت پهٔ پام کې لري چې پهٔ راتلونکې کې د افغانستان پهٔ بېلابېلو ولایتونو کې لا زیاتې پروژې د عامه او خصوصي مشارکت لهٔ لارې پلې کړي.

وروسته د ریاست الوزرا سیاسي مرستیال ښاغلي ملا عبدالغني برادر پهٔ خپلو خبرو کې د افغانستان د اسلامي امارت لاسته راوړنو ته اشاره وکړه او د دې پروژې پلي کول یې د هېواد د پراختیا او ځان بسیاینې په لور یو مثبت گام و باله.

پهٔ ورته وخت کې، د ریاست الوزرا اداري مرستیال ښاغلي مولوي عبدالسلام حنفي د یادې پروژې د اهمیت او د هېواد پهٔ پراختیا باندې خبرې وکړې او یادونه یې وکړه چې د دې پروژې پهٔ پلي کېدو سره د هلمند، کندهار او د هلمند ولایت یو شمېر گاونډې ولایتونه د برېښنا لهٔ نعمت څخه برخمنې شي.

همدارنگه د ترکیې هېواد سفیر ښاغلي جهاد ارگیناى د دواړو هېوادونو د ښو اړیکو او گډې همکارۍ ته پهٔ اشارې سره، د دې پروژې پرانیستلو پهٔ مناسبت د افغانستان خلکو ته مبارکي وویل او د عامه المنفعه پروژو د پلي کولو پهٔ برخه کې یې د ترکیې هیواد د همکارۍ پهٔ دوام ژمنه وکړه.

د پروگرام پهٔ دوام کې د کابینې او د افغانستان د اسلامي امارت مسؤلینو او د ترکي ۷۷ ودانیز شرکت یو شمېر غړو د دې پروژې د حیاتي اهمیت پهٔ هکله خبرې وکړې، چې زیاتره ویناوالو د دې پروژې پرانیسته د افغانستان د خلکو لپاره یوه ارزښتناکه لاسته راوړنه وبلله.

**د یادولو وړ ده، چې د کجکي بند پروژه د لومړي ځل لپاره په ۱۹۵۳ زېږدیز کال کې پهٔ لاره اچول شوې وه، چې د دې پروژې لومړی فاز د ۵۱ میگاواټه برېښنا د تولید وړتیا درلوده او د یادې پروژې دوهم فاز د ۱۰۰ میگاواټه برېښناد تولید وړتیا په درلودو سره د ۱۳۹۷ لمریز کال د چنگاښ میاشتې پهٔ ۲۳ نیټه د اوبو او انرژي وزارت او د ترکي ۷۷ ودانیز شرکت ترمنځ قرارداد شوی وو او نن پرانیستل شو او گټې اخیستنې ته وسپارل شو. اوسمهال د کجکي د برېښنا بند ټولیزه وړتیا ۱۵۱ میگاواټو ته لوړه شوې چې کولای شي د هلمند او کندهار ولایتونو د ټولو ساحو د اړتیا وړ برېښنا تامین کړي.**

# په هېواد کې د انرژۍ د تولید د پروژو د پلي کېدو په موخه د پاورچاینا (Power China) شرکت له استازي سره د همغږۍ ناسته ترسره شوه



د اوبو او انرژۍ وزارت سرپرست وزیر ښاغلي ملا عبداللطیف منصور د خپل کار په دفتر کې د پاور چاینا (Power China)شرکت له استازي سره ناسته ترسره او د انرژۍ د تولید د پروژو د پلي کېدو په برخه کې یې د پانگونې لپاره پر لازمې همغږۍ باندې بحث او د نظر تبادله وکړه.

په دغه ناسته کې، د اوبو او انرژۍ وزارت سرپرست وزیر په افغانستان کې د یاد شرکت د پانگونې له لیوالتیا څخه د انرژۍ د تولید په پروژو باندې هر کلی وکړ او د لازمې همغږیو په چټکتیا او د عملي کړونو په پیلولو یې ټینگار وکړ.

ښاغلي منصور د نوموړي شرکت استازي ته د پروژو د پلي کیدو په برخه کې د هر راز همکارۍ ډاډ ورکړ او له هغوی څخه یې و غوښتل چې ژر تر ژره دې خپل پروپوزل چمتو او د وزارت له رهبرۍ سره شریک کړي، ترڅو د یاد شرکت پروپوزل ته په کتو دواړه لوري د ترون د لاسلیک کیدو په طی مراحلو او د عملي کړنو په ترسره کولو باندې لاس په کار شي.

په ورته وخت کې، د پاور چاینا شرکت استازي د اوبو او انرژۍ وزارت د رهبرۍ له اعتماد څخه په قدرداني سره یادونه وکړه، چې ډېر ژر به د دوی تخنیکي ټیم د وزارت له تخنیکي ټیم سره په گډه د پروژو د پلي کیدو ساحې له نږدې څخه د مطالعې لاندې ونیسي او له هغه وروسته به خپل پروپوزل په کره او اقتصادي ډول د وزارت له رهبرۍ سره شریک کړي.

د یادولو وړ ده، چې څه موده وړاندې د اوبو او انرژۍ وزارت او د پاورچاینا شرکت سره د همکارۍ هوکړه لیک لاسلیک شوی او تر هغه وروسته تر اوسه پورې څو گډې تخنیکي او د همغږۍ ناستې د دواړو لورو ترمنځ ترسره شوې دي.

# جلسه هفته وار تخنیکی معینیت آب برگزار شد




جلسه هفته وار تخنیکی معینیت آب در مورد هماهنگی های لازم با ادارات ذیربط در تطبیق پروژه های آب، آرشیف سازی منظم اسناد پروژه‌ها و شماری دیگر از موضوعات مهم این معینیت برگزار شد.

این جلسه تحت ریاست محترم انجنیر مجیب الرحمن عمر آخندزاده معین آب وزارت آب و انرژی با حضور رؤسا و شماری از مسئولین تخنیکی که در سکتور آب وزارت فعالیت دارند، برگزار گردید.

در این جلسه پیرامون تقویت آمریت استملاک پروژه ها، هماهنگی های لازم با وزارت‌های زراعت و انکشاف دهات در راستای تطبیق پروژه های آب، توسعه دیزاین موجود بند کمال خان و بررسی کیفیت آب‌های سطحی در شهر های بزرگ کشور بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

محترم انجنیر مجیب الرحمن عمر آخندزاده معین آب وزارت آب وانرژی در جریان جلسه پس از بررسی هدایات ضروری را به مسئولین مربوطه ارایه کرد.

قابل یادآوری است که در اخیر جلسه محترم معین آب همرا با رؤسا از کتابخانه منابع آب،لابراتوار وسایر ماشین آلات تحقیقاتی ریاست عمومی منابع آب وزارت بازدید نمودند.

# جلسه هماهنگی به منظور حل مشکلات پروژه بند بخش آباد و آغاز کار مجدد آن برگزار شد

این جلسه به منظور تطبیق مصوبه دهمین جلسه کمیسیون اقتصادی امارت اسلامی افغانستان تحت ریاست محترم قاری محمد عبدالعزیز "عزیز" رئیس دفتر مقام وزارت آب و انرژی با حضور رئیس کنترول کیفیت پروژه های آب، نمایندگان وزارت مالیه، د افغانستان بانک، شرکت قراردادی و شماری از بزرگان ولایت فراه برگزار گردید.

در این جلسه گزارش وضعیت عمومی و فعلی پروژه مورد بررسی قرار گرفته جهت حل مشکلات و آغاز کار مجدد آن بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

نماینده شرکت قراردادی نیز در جریان جلسه آمادگی خویش را به آغاز مجدد کار پروژه اعلام نموده پیشنهادات شان را جهت حل مشکلات موجود ارایه کرد.

در ادامه یکی از بزرگان مردم ولایت فراه به نمایندگی از مردم آن ولایت پیرامون ضرورت شدید مردم به تطبیق پروژه بند بخش آباد صحبت نموده خواستار آغاز دوباره کار آن گردید.



محترم قاری محمد عبدالعزیز "عزیز" پس از بررسی همه جانبه وضعیت پروژه و نظرات اشتراک کنندگان جلسه به بزرگان ولایت فراه اطمینان داد که رهبری امارت اسلامی افغانستان این پروژه را به اساس ضرورت آن اولویت داده و به تطبیق آن مصمم می باشد. وی از نمایندگان وزارت مالیه و دافغانستان بانک خواست که در قسمت پرداخت انوایس پروژه بررسی های لازم را انجام دهد تا هرچه زود تر کار پروژه از سوی شرکت تطبیق کننده در ساحه آغاز گردد.

# د دعوت او ارشاد روزنیز او اصلاحي پروګرام د ذالحجې د ورځې ("ایام قادمه عشرة ذیالحجة" ) د فضیلیت په هکله ترسره شو

د تېرو درسونو او روزنیزو پروګرامونو په دوام کې نن پنجشنبه د ۱۴۴۳/۱۱/۲۴ د اوبو او انرژي وزارت د دعوت او ارشاد رئیس ښاغلي مولوي ګل الرحمن عارف په شتون کې روزه نیزه او اصلاحي ناسته ترسره شو.

په یاده ناسته کې، چې د اوبو او انرژي وزارت ګڼ شمېر رئیسانو او کارمندانو ګډون کړی ؤ، ښاغلي مولوي عارف د اسلام دین یو جامع دین وباله چې د بشر د دنیا او آخرت په ټولو برخو کې لازمي لارښوونې لري.

ښاغلي مولوي عارف په خپلو خبرو کې، د قرآن کریم او نبوي احادیثو په استناد وویل: په اسلام کې درې فضیلتونه ذکر شوي دي چې " امکنه، ازمنه او ایام" پکې شاملې دي. هغه په خپلو خبرو کې هغو وختونو ته چې د ډېر فضیلت لرونکي دي اشاره وکړه او زیاته یې کړه: " چې د جمعې، د قدر شپه، د عرفې او د لوی اختر ورځې لهٔ هغو ورځو څخه دي چې بې شمېره فضیلتونه لري" .

د دعوت او ارشاد رئیس لهٔ ټولو کارمندانو څخه و غوښتل، چې د دې با فضیلتو ورځو څخه سمه ګټه پورته کړي، او لهٔ هغوی څخه یې غوښتنه وکړه، چې د الله تعالی په



رښتیني طاعت او عبادت سره د دې مبارکو ورځو لهٔ فضایلو څخه ګټه پورته کړي.

د یادولو وړ ده، چې د دعوت او ارشاد اصلاحي ا و روز نیزې ناستې په اونۍ کې یو ځل د اوبو او انرژي وزارت د کارمندانو لپاره د دې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست لهٔ خوا ترسره کېږي چې پهٔ یادو ناستو کې د اسلام د سپېڅلي دین د ارزښتمندو ښوونو پهٔ هکله رئیسانو او کارمندانو ته موعظې وړاندې کېږي.

# د اوبو او انرژۍ وزارت سرپرست وزیر د یوهٔ مطبوعاتي کنفرانس پهٔ ترځ کې د دغه وزارت کړنې او لاسته راوړنې د رسنیو پهٔ شتون کې وړاندې کړې




د اوبو او انرژۍ وزارت سرپرست وزیر ښاغلي ملا عبداللطیف منصور د یوه مطبوعاتي کنفرانس پهٔ ترځ کې چې د حکومت د رسنیو پهٔ مرکز کې جوړ شوی و، د وزارت د کړنو او لاسته راوړنو پهٔ هکله مفصل معلومات د رسنیو پهٔ شتون کې وړاندې کړل.

د اوبو او انرژۍ وزارت سرپرست وزیر پهٔ یاد مطبوعاتي کنفرانس کې د یوې واحدې، منظمې، کارنده او مسلکي تشکیلاتو رامنځته کولو، د اوبو او انرژۍ پهٔ سکتورونو کې د ملي او نړیوالو پانګوالو جلبولو، د مسلکي کدرونو ساتنه او ګمارنه، ګاونډیو هېوادونو ته د برېښنا پورونو ورکړه، د وارداتي برېښنا قراردادونو غزونه، د اوبو او انرژۍ قانوني کیدل او د۱۰۰ میګاواټه برېښنا د تولید پهٔ وړتیا د کجکي بند پروژې د دوهم فاز بشپړېدل یې د دغه وزارت لهٔ مهمو لاسته راوړنو څخه یاد کړل.

ښاغلي منصور د خپلو خبرو پهٔ دوام کې د هلمند سیند تړون ته اشاره وکړه او زیاته یې کړه" د اوبو او انرژۍ وزارت د ایران د حقابې د تامین پهٔ برخه کې د یاد تړون سره سم عمل کوي". هغه زیاته کړه چې د سختې وچکالي له امله د هېواد اوبه کمې شوې او دې موضوع د هېواد کروندګرو او هم د ایران د حقابې د تامین پهٔ برخه کې د پام وړ ستونزې رامنځته کړې دي، خو د اوبو او انرژۍ وزارت لهٔ ایران سره د دواړو هېوادونو د ګډو کمیشنرانو پهٔ کچه د پرله پسې ناستو پهٔ ترځ کې دغه ستونزه هواره کړې ده.

د اوبو او انرژۍ وزارت سرپرست و زیر پهٔ کابل ښار کې د ځمکې لاندې اوبو سرچینو د مدیریت پهٔ هکله وویل چې لهٔ پنجشیر څخه کابل ته د اوبو رسولو پروژې د پلي کیدو لپاره لهٔ ګڼو پانګوالو سره خبرې شوې او لهٔ نېکه مرغه یو شمېر یې پهٔ دې برخه کې د خپلې پانګونې لپاره لېوالتیا ښودلې ده. همدارنګه د للندر- شاتوت پروژې د پلي کیدو لپاره هم لهٔ قراردادي شرکتونو سره لازم اقدامات او همغږي دوام لري؛ ترڅو چارې یې پهٔ عملي توګه پیل شي.

د کنفرانس پهٔ پای کې، پهٔ هېواد کې د انرژۍ د تولید او د اوبو مدیریت د پروژو د پلي کیدو پهٔ برخه کې د دغه وزارت د کړنو او پلانونو پهٔ هکله د خبریالانو لهٔ خوا ګڼې پوښتنې مطرح شوې، چې د اوبو او انرژۍ وزارت سرپرست وزیر دغو ټولو پوښتنو ته پهٔ ربښتیني او مسؤلانه ډول ځوابونه وړاندې کړل.

# جلسه هماهنگی به منظور بررسی وضعیت پروژه های تحت کار بندهای آب برگزار شد



این جلسه تحت ریاست محترم الحاج انجینر مجیب الرحمن عمر آخندزاده معین آب وزارت آب و انرژی با حضور روئسای سکتور آب برگزار گردید.

در این جلسه وضعیت بندهای تحت کار به ویژه وضعیت پیشرفت کار کانال های آبیاری بند کمال خان مورد مطالعه و بررسی قرار گرفته روی تطبیق کارهای باقی مانده این پروژه ها بحث و تبادل نظر صورت گرفت.محترم معین آب ضمن ارائه هدایات لازم جهت آغاز کار مجدد پروژه ها به تسریع عملی سازی اقدامات لازم جهت آغاز کار های باقی مانده تاکید ورزید.

# سرپرست وزارت آب و انرژی، سرپرست وزارت اقتصاد و سفیر کشور ترکیه جلسه مشترک برگزار کردند

این جلسه با حضور محترم ملا عبداللطیف منصور سرپرست وزارت آب و انرژی، محترم قاری دین محمد حنیف سرپرست وزارت اقتصاد و محترم جهاد ارگینای سفیر کشور ترکیه برگزار گردید.




در این جلسه که در ساحه کجکی ولایت هلمند برگزار شده بود، هرسه جانب در نخست تطبیق پروژه فاز دوم بند کجکی و افتتاح این پروژه بزرگ را به همدیگر و همه ملت شریف افغانستان تبریک عرض نمود.

در ادامه سرپرست وزارت آب و انرژی ضمن قدردانی از همکاری های کشور ترکیه خواستار تداوم این همکاری ها شده روی تطبیق پروژه های عام المنفعه به همکاری مشترک بیشتر تاکید ورزید.

در ادامه سرپرست وزارت اقتصاد نیز روی اهمیت همکاری های مشترک هردو کشور صحبت نموده خواهان همکاری های بیشتر کشور ترکیه در راستای تطبیق برنامه های اقتصادی در افغانستان گردید.

در همین حال سفیر کشور ترکیه با ابراز خُرسندی از تکمیل شدن موفقیت آمیز دستگاه تولید برق ۱۰۰ میگاوات بند کجکی به همکاری های بیشتر در راستای تطبیق پروژه های عام المنفعه و عملی سازی برنامه های انکشاف اقتصادی در افغانستان وعده سپرد.

# دیدار مسئولین وزارت آب و انرژی با سرمایه گزاران افغان و ایرانی

مسئولین وزارت آب و انرژی با سرمایه‌گذاران افغان و ایرانی به منظور سرمایه‌گذاری روی پروژه انتقال آب دریای پنجشیر به کابل جلسه برگزار کردند

شماری از روئسای وزارت آب و انرژی با سرمایه‌گذاران افغان و ایرانی در هوتل سرینای کابل به منظور سرمایه‌گذاری روی پروژه انتقال آب دریای پنجشیر به کابل بحث و تبادل نظر نمودند.



در این جلسه، در کنار شریک کردن برخی از مسایل تخنیکی و مالی پیرامون قانون مندسازی امور جاری و در آینده بر چگونگی کار مشترک میان هر دو طرف موافقه صورت گرفت.

د اوبو او انرژي فصلنامه

بوولسم کال نولسمه گڼه، د ۱۴۰۱ هـ ش کال دوهم ربع چې د ۱۴۴۳- ۱۴۴۴هـ - ق کال سره سمون لري

# د اوبو او انرژي په سکتورونو کې د ملي او نړیوالو خصوصي پانگونو د جذب او هڅونې کنفرانس ترسره شو

یاد کنفرانس د ریاست الوزرا اقتصادي مرستیال ښاغلي ملا عبدالغنی برادر، د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر ښاغلي ملا عبداللطیف منصور، د کانونو او پترولیم وزارت سرپرست وزیر ښاغلي شیخ شهاب الدین دلاور، د صنعت او تجارت وزارت سرپرست وزیر ښاغلي نورالدین عزیزي،د بهرنیو هېوادونو سفیرانو، د کابینې ځینې غړو او د ملي او نړیوالو شرکتونو په گډون په کانتیننتال هوټل کې ترسره شو.

همدارنگه په یاد کنفرانس کې د اوبو او انرژي وزارت لهٔ دوو بهرنیو شرکتونو سره د گازو لهٔ سرچینو څخه د برېښنا انرژي د تولید او د اوبو بند د جوړولو هوکړه لیکونه لاسلیک کړل.

په دې کنفرانس کې، د ریاست الوزرا اقتصادي مرستیال ښاغلي ملا عبدالغني برادر څرگنده کړه چې د اسلامي امارت مسؤلین شپه او ورځ هڅه کوي چې د هېواد اقتصادي وضعیت ښهٔ کړي، ترڅو افغانستان د اقتصادي پلوه د پرڅان بسیاینې په لور پرمخ ولاړ شي. هغه لهٔ ټولو کورنیو او بهرنیو پانگوالو څخه و غوښتل چې پهٔ هېواد کې د اوبو مدیریت او د انرژي د تولید په برخه کې پانگونه وکړي.

همدارنگه د اوبو او نرژي وزارت سرپرست وزیر ښاغلي ملا عبداللطیف منصور پهٔ یاد کنفرانس کې د اوبو د مدیریت او د انرژي د تولید پهٔ برخه کې د کورنیو او بهرنیو پانگوالو د جذب او هڅونې پهٔ هکله هر اړخیزه وینا وکړه.

د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر د اوبو سرچینو مدیریت او د انرژي تولید د بشر پهٔ ژوند کې دوه اړین عنصرونه وگڼل او ټینگار یې وکړ چې د اوبو او انرژي وزارت د اوبو مدیریت او د انرژي تولید ته ژمن دی او لهٔ ټولو کورنیو او بهرنیو پانگوالو څخه یې و غوښتل چې پهٔ یادو دوو سکتورونو کې دې پانگونه وکړي.

د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر پهٔ دې کنفرانس کې د یاد وزارت د پلي شویو پروژو د اوبو



د مدیریت او د انرژي دتولید پهٔ برخه کې هم معلومات وړاندې کړل او د کجکي بند د دوهم فاز لومړی پړاو پرانیسته یې د دې وزارت تر ټولو لویه لاسته راوړنه و بلله. هغه زیاته کړه، چې په سلگونو نورې کوچنۍ او سترې پروژې هم سروې او ډیزاین شوې دي او عملي کار به یې ډېر ژر پیل شي.

ښاغلي منصور څرگنده کړه، چې تر دې مخکې د هېواد د اوبو بندونو ډیزاین او سروې د بهرنیو هېوادونو د انجنیرانو له لوري پهٔ ډېرو مالي لگښتونو ترسره کېده، خو لهٔ نېکه مرغه د لومړي ځل لپاره پهٔ زابل ولایت کې د توري بند ډیزاین د وزارت پهٔ شته امکاناتو د دې وزارت د انجنیرانو لهٔ خوا ډیزاین شوی او عملي کار به یې ډېر ژر پیل شي.

پهٔ ورته وخت کې، پهٔ یاد کنفرانس کې د اوبو او انرژي وزارت او اړونده وزارتونو د گازو له سرچینو څخه د برېښنا انرژي د تولید هوکړه لیک د Yellow Riverچینایي شرکت او د سروبي د برېښنا دوهم بند هوکړه لیک د ۷۷ ترکي ودانیز شرکت سره لاسلیک کړ.

د کنفرانس پهٔ دوام کې، د کانونو او پترولیم وزارت سرپرست وزیر ښاغلي شیخ شهاب الدین دلاور د پانگوالو لپاره د پانگونې پهٔ برخه کې د آسانتیاوو پهٔ هکله پهٔ هر اړخیز ډول خبرې وکړي او زیاته یې کړه، چې کوچني کانونه یې کورنیو پانگوالو ته ځانگړې کړي. هغه زیاته کړه چې اوسمهال د پانگوالو لپاره تر ټولو ښهٔ فرصت چمتو شوی دی.

د کانونو او پترولیم وزارت سرپرست وزیر زیاته کړه چې ۱۵۰ کانونه اعلان ته چمتو دي او ټینگار یې وکړ، چې افغانستان د سرچینو لهٔ پلوه پهٔ نړۍ کې تر ټولو غني هېواد دی او باید د هېواد د اوبو سرچینو څخه پهٔ اغېزمنده توگه گټه پورته شي.

پهٔ ورته وخت کې، د صنعت او تجارت وزارت، د مالیې وزارت سلاکار، د زراعت وزارت معین او د اسلامي امارت یو شمېر نورو مسؤلینو هم د کورنیو او بهرنیو پانگوالو لپاره د پانگونې د زمینې د چمتو کیدو پهٔ هکله خبرې وکړې.

د کنفرانس پهٔ پای کې،د ۷۷ ترکي ودانیز شرکت، بیات پاور او زولرستان شرکتونو استازو پهٔ افغانستان کې د اوبو او انرژي پهٔ برخه کې معلومات وړاندې کړل او د اوبو او انرژي پهٔ پروژو کې یې د لا زیاتې پانگونې لېوالتیا څرگنده کړه.

یاد کنفرانس د چارو د اداري د لوی رئیس شیخ نورالحق انور لهٔ خوا د دعائیې پهٔ لوستلو سره پای ته و رسېده.

# د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر د کمال خان بند څخه لیدنه وکړه

د ۱.۱.۱ د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر ملا عبد اللطیف منصور او ورسره پلاوي، پهٔ داسې حال کې چې د نیمروز سېندیزې حوزې رئیس، سید محمد ولي اغا هم حضور درلود، د کمال خان بند څخه لیدنه وکړه.

د لیدنې پر مهال د نیمروز ولایت د سېندیزې حوزې رئیس د کمال خان بند پهٔ اړه هر اړخیز معلومات وړاندې کړل.

ښاغلي ملا عبداللطیف منصور د معلوماتو لهٔ اورېدو وروسته وویل، چې د کمال خان بند د پاتې کارونو بشپړول د دې وزارت د رهبری لهٔ لومړیتوبونو څخه دي او هڅه به وشي، چې د کمال خان بند پاتې چارې هم ژر تر ژره پیل شي.

د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر دغه سفر پهٔ داسې حال کې نیمروز ولایت ته وکړ، چې تېره اونۍ د افغانستان کابینې د ځو بندونو د ارزونې کمېټې ته لارښوونه



وکړه، چې لهٔ بندونو څخه ځارنه وکړي او خپل راپور بشپړ کړي.

د کمال خان بند د هېواد له مهمو او حیاتي بندونو څخه دی، چې د زرنج ښار په ۹۵ کیلومتري کې د دغه ولایت پهٔ چهاربرجک پهٔ ولسوالي کې موقعیت لري.

او همدا راز یاد بند ۱۷۴ زره هکتاره ځمکه خړوبوي.

# د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر د خپلو ولایتي سفرونو پهٔ لړ کې لوګر ولایت ته سفر وکړ

د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر ښاغلي ملا عبداللطیف منصور د خپلو ولایتي سفرونو پهٔ لړ کې نن د لوګر ولایت برکي‌برک او خروار ولسوالیو ته سفر وکړ.

پهٔ دغه سفر کې، د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر د یادو ولسوالیو د محلي مسؤلینو او مخورو سره وکتل او هغوی د اوبو او انرژي وزارت لهٔ سرپرست وزیر څخه پهٔ دې ولسوالیو کې د اوبو ذخیروي بند د جوړولو او د برېښنا شبکو د پراختیا غوښتنه وکړه.

د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر د لوګر ولایت د برکي برک او خروار ولسوالیو محلي مسؤلینو او مخورو ته ډاډ ورکړ، چې د وزارت د شته امکاناتو ،بودجې او په ټول هېواد کې د متوازنې پراختیا اصل پهٔ پام



کې نیولو سره به ډېر ژر د دوی غوښتنو ته رسیدګي وشي.

د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر ښاغلي ملا عبداللطیف منصور پهٔ یاد سفر کې د شهیدانو لهٔ کورنیو سره هم وکتل او د خدای(ج) لهٔ دربار څخه شهداو ته جنت الفردوس او کورنیو ته د جمیل صبر او عظیم اجر غوښتنه وکړه.

# سرپرست وزارت آب و انرژی در راس یک هیئت بلند رتبه عازم بند بخش آباد ولایت فراه گردید




محترم ملا عبداللطیف "منصور"، سرپرست وزیر آب و انرژی ا.ا.ا، در راس یک هیئت بلندپایه که در آن معینان وزارت مالیه، وزارت انکشاف دهات و وزارت زراعت و مالداری حضور داشتند، عازم بند بخش آباد ولایت فراه گردید.

سرپرست وزارت آب و انرژی در نخست از بند بخش آباد این ولایت بازدید کرد و سپس در یک نشستی که با بزرگان ولسوالی‌ها و مرکز این ولایت داشتند، مشکلات، پیشنهادات و سخنان آنان را استماع نمود.

در این نشست که شماری از مسئولین ملکی و نظامی، انجنیران تخنیکی مرکز، بزرگان چند ولسوالی و مرکز فراه حضور داشتند، شماری از بزرگان ولایت فراه، از این هیئت خواستند که برای شان یک حساب بانکی بسازند؛ زیرا به گفته آنان شمار زیادی هموطنان از بیرون کشور وعده داده اند که در اعمار بند بخش آباد کمک مالی می‌نمایند.

در مقابل سرپرست وزارت آب و انرژی ا.ا.ا ضمن خرسندی از این اقدام مردم فراه، وعده سپرد که حکومت مرکزی در جهت تخصیص بودجه بند بخش‌آباد تلاش‌های خودرا انجام می‌دهد.

وی نیز علاوه کرد که ا.ا.ا ششصد هزار دالر در خصوص پروژه ناتمام این بند را برعهده می‌گیرد، و در آینده نزدیک کار فازهای دیگری این بند آغاز خواهد شد.

باید گفت بر بنیاد سروی که از سوی وزارت آب و انرژی صورت گرفته است نشان می‌دهد که با تکمیل شدن کار این بند، ۱۰۴ هزار هکتار زمین زراعتی در این ولایت آبیاری می‌شود و ۲۷ میگا وات برق نیز از آن تولید خواهد شد.

همچنان این سروی نشان می‌دهد که بند بخش آباد با ارتفاع ۸۱ متر می‌تواند ۱۳ هزار و شصت میلیون متر مکعب آب را در خود ذخیره نماید.

بند بخش آباد در (۳۰) کیلو متری ولسوالی فرارود ولایت فراه قرار دارد.

# د اوبو او انرژي سرپرست وزیر ارزګان ولایت ته سفر وکړ



د ۱.۱.۱ د اوبو او انرژي سرپرست وزیر محترم الحاج ملا عبداللطیف منصور د کندهار ولایت د والي محترم حاجی محمد یوسف وفا صاحب په ملتیا د خپلو ولایتي سفرونو په بهیر کې نن د ارزګان ولایت څخه لیدنه وکړه.

دغه ولایت ته په رسیدو د ارزګان ولایت د والي مرستیال محترم مولوي صاحب مزمل، د امنیې قوماندان او نورو امارتي مسئولینو ښاغلي وزیر صاحب او ملګرو ته یی ښه راغلاست وواېه.

وروسته ښاغلي وزیر په داسې حال کې چې پورته یاد شوو مسئولینو څخه علاوه د ارزګان د سیندیزې حوزې رئیس محترم نقي صاحب، د کندهار د سیندیزې حوزې رئیس ملا سید محمد شرافت او د ارزګان بریښنا رئیس محترم صفی الله انعام هم ورسره ملګري وو، د ارزګان ولایت د اغاجان او دهراود درې د اوبو بندونو له سیمې څخه لیدنه وکړه.

محترم منصور صاحب د ارزګان ولایت د سینـــدیزې حوزې او بریښنا رئیسانو ته هدایت وکړ چې د یادو بندونو لومړنی سروې دې ژر تر ژره تر سره کړي، تر څو چې وروستی سروې او ډیزاین لپاره مونږ له مرکز څخه تخنیکي ټیم سیمې ته ولېږو.

# جلسه تخنیکی معینیت آب در مورد بررسی وضعیت بندهای کشور و تهیه و طرح مدیریت آبهای زیرزمینی برگزار شد



این جلسه تحت ریاست محترم انجنیر مجیب الرحمن عمر آخندزاده معین آب وزارت آب و انرژی با حضور تمام روئسای مرکزی سکتور آب وزارت برگزار گردید.

در این جلسه پریزنتیشن وضعیت بندهای بزرگ به ویژه بند سلما به منظور شناسایی آسیب پذیری ها و اتخاذ تدابیر لازم جهت حفظ مراقبت و مصئونیت آنها ارائه گردید.

همچنان روی تهیه طرح مدیریت آبهای زیرزمینی در شهرهای بزرگ کشور به ویژه شهر کابل و شریک سازی این طرح با مقامات ذیصلاح نیز بحث و تبادل نظر صورت گرفته هدایات لازم از سوی محترم معین آب به مسئولین مربوطه داده شد.

# د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر کندهار ولایت ته کاري سفر تر سره کړ




د ۱.۱.۱ د اوبو او انرژي سرپرست وزیر الحاج ملا عبداللطیف منصور د خپلو کاري سفرونو په لړ کې له کندهار ولایت څخه لیدنه وکړه. محترم منصور صاحب لمړی د کندهار ولایت له والي محترم حاجی یوسف وفا سره د ولایت په مقر کې لیدنه وکړه او د کندهار په ولایت کې یې د اوبو د دوو بندونو (شین نري او لوړې) چې د ارغستان په ولسوالي کې موقعیت لري؛ په هکله خبرې او د نظرونو تبادله وکړه.

تر دغې ناستې وروسته محترم وزیر صاحب د کندهار د والي محترم حاجي یوسف وفا، د کندهار د سیندیزې حوزې رئیس ملا سیدمحمد شرافت، د یادې حوزې د تخنیکي ټیم او د افغان انویسټ شرکت د استازو محترم عبیدالله کندهاري، قلندري صاحب او د دوی د ملگرو په ملتیا پریکړه وکړه چې د هیلي کاپټر په واسطه یادې ساحې ته سفر وکړي تر څو سیمه له نژدې څخه ووینې.

د کندهار هوایی ډگر ته په رسېدو د یاد نظامي هوایي ډگر د قوماندان محترم الحاج مولوي فتح الله منصور صاحب له خوا ورته تود ښه راغلاست وویل شو او نوموړي هم له دوی سره د یادو شوو بندونو د ساحې د لیدلو لپاره ملگری شو، یاد گډ پلاوي د شین نري او لوړې سیمې له نژدې وکتلې او پریکړه وشوه چې فني او تخنیکي ټیم دې د راتلونکې شنبې له ورځې د بندونو لمړنی سروې پیل کړي. باید یادونه وکړو چې د فني ټیم د اټکل له مخې به یاد بندونه د میلیونونو متر مکعب اوبو د ذخیره کولو او د ارغستان، بولدک، تخته پل،ډنډ او دامان ولسوالیو څلور اویا زره هکتاره ځمکې د خړوبولو ظرفیت ولري.

# معین آب وزارت آب و انرژی با معین مالی و اداری شرکت انکشاف ملی دیدار کرد




محترم انجنیر مجیب الرحمن عمر آخندزاده معین آب وزارت آب و انرژی در دفتر کار خویش با محترم مولوی عبدالولی عادل معین مالی و اداری شرکت انکشاف ملی دیدار نمود.

در این دیدار پیرامون همکاری های مشترک میان وزارت آب و انرژی و شرکت انکشاف ملی بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

همچنان آقای مولوی عادل به معین آب تطبیق پروژه اعمار بند ذخیروی آب در ارغندی بالا را پیشنهاد کرد.

محترم معین آب به معین مالی واداری انکشاف ملی اطمینان داد که تیم تخنیکی وزارت جهت سروی بند متذکره در ساحه اعزام خواهد شد.

# د اوبو او انرژي وزارت د انرژي نوی معین د یاد وزارت رئیسانو او کارمندانو ته وروپېژندل شو



ښاغلی ملا محمد عیسی "ثاني" چې مخکې د افغانستان برېښنا شرکت د اجرائیوي رئیس په توګه دنده ترسره کوله د عالیقدر امیر المومنین د فرمان او لزوم دید پر بنسټ د اوبو او انرژي وزارت د انرژي معین په توګه ټاکل شوی او د یو لړ رسمي مراسمو په ترڅ کې د اوبو او انرژي وزارت د سرپرست وزیر ښاغلي ملا عبداللطیف منصور له خوا د یاد وزارت رئیسانو او کارمندانو ته وروپېژندل شو.

د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر ښاغلي ملا عبداللطیف منصور د انرژي معین په توګه د ښاغلي ملا محمد عیسی "ثاني" د پېژندنې په مراسمو کې یادونه وکړه، چې په اسلامي نظام او شریعت کې هر ډول ټاکنې او بدلونونه د عالیقدر امیرالمومنین د فرمان او لزوم دید پر بنسټ ترسره کېږي، چې له شکه پرته دا بدلونونه به د نظام، هېواد او ملت په خیر وي.

همدارنګه ښاغلي منصور د ښاغلي ملامحمدعیسی" ثاني" له کارنامو او تجربو څخه په ښه توب سره یادونه وکړه او د انرژي سکتور د اهمیت او په هېواد کې د هغې د پراختیا او ضروت په یادولو سره د انرژي نوي ټاکل شوي معین لپاره د خدای(ج) له درباره د دې مسؤلیت د ترسره کولو په برخه کې د لا زیات توفیق غوښتنه وکړه.

په ورته وخت کې، د ا.ا.ا د چارو ادارې د دفاع او امنیت رئیس ښاغلي مولوي محمد شاه د ښاغلي ملامحمدعیسی" ثاني" د ټاکلو په هکله د امیرالمومنین فرمان د غونډې د ګډونوالو په حضور کې ولوست؛ او د انرژي نوي معین ته یې د لا بریالیتوت غوښتنه وکړه.

د یادونې وړ ده، چې تر دې مخکېې د اوبو او انرژي وزارت د انرژی معین په توګه ښاغلي مولوي عارف الله عارف دنده ترسره کوله، چې په یادې ناستې کې د هغوی له کړنو او هڅو څخه په ښه توب او قدردانی سره یادونه وشوه.

# د اوبو او انرژي وزارت او د تخنیکي او پراختیایي همکاریو ادارې (ACTED) تر منځ د همکارۍ تړون لاسلیک شو




دا تړون د اوبو او انرژي وزارت د اوبو معین ښاغلي انجنیر مجیب الرحمن عمر آخندزاده او د اکتید اداري مرستیال ښاغلي شاه جهان رحیمي له لوري لاسلیک شو.

د اوبو برخې ښاغلي معین د دې تړون د لاسلیک پر مهال په اوسنیو شرایطو کې په افغانستان کې د اوبو د مدیریت پر ارزښت او د اقلیمي بدلونونو د اغیزو په هکله خبرې وکړې او ویې ویل چې د اوبو د پروژو د مدیریت په برخه کې د ملي او نړیوالو موسسو د هر ډول همکارۍ څخه هرکلی کوي.

په ورته وخت کې، د اکتید د دفتر مرستیال د دې تړون د لاسلیک څخه خوښي څرګنده کړه، او ویې ویل، چې د دې تړون پر بنسټ به د اکتید اداره د افغانستان د شمال په څلورو ولایتونو کې د اوبو او انرژي وزارت د اوبو د پروژو د مدیریت په برخه کې همکاري وکړي.

ښاغلي رحیمي په خپلو خبرو کې زیاته کړه، چې د اکتید اداره په پام کې لري چې په راتلونکي کې د دې همکاریو لمنه پراخه کړي او د اوبو پروژو د مدیریت په برخه کې د افغانستان په نورو ولایتونو کې هم همکاري وکړي.

د یادولو وړ ده، چې له دې مخکې هم د افغانستان په بېلابېلو ولایاتو کې د اوبو د مدیریت یو شمېر پروژې د یادې ادارې په همکارۍ سره پلې شوې وې، او اوسمهال د دې تړون لاسلیک د پروژو په مدیریت کې یو ښه ګام دی.

## د کابل ښار د اوبو د مدیریت پهٔ موخه د همغږی ناسته ترسره شوه



یاده ناسته د اوبو او انرژي وزارت د سرپرست وزیر ښاغلي ملا عبداللطیف منصور تر مشري لاندې د ښارجوړونې ، مالیې، کلیو پراختیا او کرهنې، اوبولګولو او مالداري وزارتونو د معینانو او با صلاحیته استازو، د عمومي ښاروالیو، د کابل ښاروالۍ، د چاپېریال ساتنې ادارې ، د اوبو رسولو او د ښاري فاضلابوشرکت د استازو پهٔ ګډون ترسره شوه.

دا ناسته چې د کابل ښار د اوبو د مدیریت د هر اړخیزې طرحې د چمتوکولو پهٔ هکله د افغانستان د اسلامي امارت د کابینې د ۱۰/ ۱ / ۱٤٤٤ نېټې د دوهمې ګڼې مصوبې د څلورم بند د پلي کېدو پهٔ موخه جوړه شوې وه، د کابل ښار د اوبو د مدیریت د طرحې پهٔ چمتوکولو او وروستي کولو باندې بحث او د نظر تبادله وشوه.

د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر ښاغلي ملا عبداللطیف منصور پهٔ یاده ناسته کې د کابل ښار د ځمکې لاندې اوبو وضعیت د اندېښنې وړ وباله او د ټولو اړوندو ادارو څخه یې د کابل ښار د اوبو د مدیریت پهٔ برخه کې د همکارۍ غوښتنه وکړه.

همدارنګه پهٔ یاده ناسته کې د اوبو او انرژي وزارت د رئیسانو لهٔ لوري له ګډونوالو سره، کابل ښاریانو ته د څښاک اوبو د برابرولو د طرحې د مسودو پهٔ هکله د شاه و عروس او شاه توت بندونو د جوړولو لهٔ لارو ،لهٔ پنجشیر څخه د اوبو لېږد او خلکو ته د اوبو څخه د اغېزمنې ګټې اخیستنې او لهٔ اوبو څخه پهٔ بې ځایه ډول د ګټې نه اخیستنې د پوهاوي ورکولو پهٔ اړه لازم معلومات شریک شول.

## جلسه تخنیکی معینیت آب در مورد تکمیل سازی دیزاین پروژه انتقال آب از پنجشیر به کابل برگزار شد



این جلسه تحت ریاست محترم انجنیرمجیب الرحمن عمر آخندزاده معین آب وزارت آب و انرژی با حضور روئسا و مسئولین تخنیکی سکتور آب این وزارت برگزار گردید.

در این جلسه روئسای مربوطه گزارش فعالیت های کاری خویش را در ارتباط به پروژه متذکره با معین آب شریک نموده همچنان پیرامون اقدامات لازم جهت تکمیل نمودن دیزاین آن به صورت همه جانبه بحث و تبادل نظر نمودند.

محترم معین آب پس از بررسی گزارش فعالیت های روئسای مربوطه در مورد پروژه انتقال آب از پنجشیر به کابل، ضمن ارائه هدایات تخنیکی لازم به تسریع کار دیزاین پروژه تاکید ورزید.

قابل یادآوری است که پروژه انتقال آب از پنجشیر به کابل یکی از پروژه های بزرگ وزارت آب و انرژی می باشد که به منظور تامین آب آشامیدنی برای شهروندان کابل به جای استفاده از منابع آبهای زیرزمینی در نظر گرفته شده است تا از استفاده بیش از حد منابع آبهای زیرزمینی در شهر کابل جلوگیری به عمل آید.

## سرپرست وزارت آب و انرژی با مسئول بخش آب اداره یونسیف در افغانستان دیدار کرد

محترم ملا عبداللطیف منصور، سرپرست وزارت آب و انرژی قبل از ظهر امروز در دفتر کار خویش با شاغلی Dominique Porteaud مسئول بخش آب اداره یونسیف در افغانستان دیدارکرد و پیرامون تهیه آب آشامیدنی برای شهروندان کابل از طریق پروژه انتقال آب دریای پنجشیر به کابل و تقویت آب‌های زیر زمینی در شهر کابل بحث و تبادل نظر کردند.

در این دیدار، مسئول بخش آب اداره یونسیف در افغانستان همکاری‌شان را در بخش تقویت آب‌های زیرزمینی در شهر کابل، هماهنگی با موسسات خارجی به منظور جلب سرمایه‌گذاری‌شان در پروژه انتقال آب دریای پنجشیر به کابل و اعمار بندها وچکدم‌ها، همکاری در بخش پالیسی‌سازی و مدیریت آب را با وزارت آب و انرژی ابراز کرد.

سرپرست وزارت آب و انرژی در این دیدار از همکاری دفتر مذکور در بخش‌های متذکره ابراز خرسندی کرد و در مورد پلان‌های وزارت آب و انرژی مبنی بر اعمار بندها و چکدم‌ها معلومات همه جانبه را بامسؤل آن اداره شریک نموده و از آنها خواست، تا در بخش اعمار بندهای آب وچکدم‌ها نیز با این وزارت همکاری نماید.

محترم ملا عبداللطیف منصور، سرپرست وزارت آب و انرژی به تامین امنیت سرتاسری در کشور اشاره نموده افزود که با استقرار حاکمیت امارت اسلامی در تمام افغانستان امنیت تامین شده و از آنها خواست تا در اعمار بند شاه توت- للندر و دیگر بندهای آب نیز با این وزارت همکاری نماید.

در آخر این یدار، مسئول بخش آب اداره یونسیف بر همکاری نزدیک شان با وزارت آب و انرژی و جلب دونر های خارجی به منظور سرمایه‌گذاری دربخش اعمار بندها و چکدم‌ها وعده هر نوع همکاری را داد.

## د اوبو او انرژي وزارت د رهبري غونډه د ځينو اداري او تخنيکي مسايلو د څېړنې پهٔ موخه ترسره شوه

ياده غونډه د اوبو او انرژي وزارت د سرپرست وزير ښاغلی ملا عبداللطيف منصور، د انرژي معين ښاغلي ملا محمد عبسی ثاني، د اوبو معين ښاغلي انجنير مجيب الرحمن عمر آخندزاده او د عمومي رئيسانو پهٔ شتون کې ترسره شوه.

پهٔ ياده غونډه کې د دې وزارت د دوو پروژو مالي مسايلو د څېړلو ، د سروې او ډيزاين رياست د څلور قلمه د نه استعمال وړ اجناسو، د بندونو د موډلينګ کولو د وسايلو څېړل او د اوبو څېړنيزو لابراتوارونو پهٔ فعالولو باندې بحث او د نظر تباله وشوه.

د دې غونډې پهٔ ترڅ کې اړوند مسئولينو د يادو موضوعاتو پهٔ اړه د اړتيا وړ معلومات د اوبو او انرژي وزارت محترم مقام سره شريک کړل. د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزير اړوند مسئولينو ته د اړتيا وړ لارښووني وکړې او يادو مسئولينو ته يې دنده وسپارله، تر څو د دې موضوعاتو بيالابيل اړخونه وڅېړي او خپل وروستی راپور د وزارت رهبري مقام ته وسپاري.

## مسئولین حوزه فرعی دریایی کابل وسطی از جریان کار پروژه ولسوالی خاکجبار ولایت کابل نظارت کردند

مسئولین حوزه فرعی دریایی کابل وسطی از جریان کار پروژه حوض قریه قفس ولسوالی خاکجبار، حوض‌های خاکی قریه برملنگ و کانال خورد کابل نظارت نمودند.

در این نظارت، انجنیران حوزه فرعی دریایی وسطی کابل سنگی که به منظور استفاده در پروژه مذکور به ساحه آورده شده بود، به خاطر نداشتن شکل و کیفیت مناسب رد نموده و به مسئولین ّپروژه به منظور سرعت کار پروژه و پیشبرد بهتر امور هدایات لازم تخنیکی دادند.

## د شمال سيند يزې حوزې عمومي رئيس او ورسره مل د اوبو او انرژي وزارت تخنيکي پلاوي پهٔ سمنګان ولايت کې د څلورو پروژو څخه ليدنه وکړه

د شمال سيند يزې حوزې عمومي رئيس ښاغلي مولوي عبدالحکيم حاجي حکمت او ورسره مل د اوبو او انرژي وزارت تخنيکي پلاوي د سمنګان ولايت پهٔ خلم ولسوالي کې د ختيځې او لويديځې درياخاني پروژې څخه ليدنه وکړه او همدارنګه د دالان کانال، ايبک او آزاد قريه دار پروژو د چارو لهٔ بهير څخه هم څارنه ترسره کړه.

د يادو پروژو چارې د آلمان هېواد پهٔ مالي ملاتړ د شمال سيند يزې عمومي حوزې تر څارنې لاندې پرمخ وړل کېږي.

د شمال سيند يزې حوزې عمومي رئيس د خلم- ايبک سيند يزې حوزې لهٔ رئيس سره هم وکتل او د پروژو د چارو د څرنګوالي د پلې کولو پهٔ هکله يې بحث او د نظر تبادله کړه.

د اوبو او انرژي فصلنامه
یوولسم کال نولسمه ګڼه، د ۱۴۰۱ هـ ش کال دوهم ربع چې د ۱۴۴۳- ۱۴۴۴هـ - ق کال سره سمون لري

**بسم الله الرحمن الرحیم**

# د افغانستان لپاره د اقتصادي نظام چوکاټ

ډاکټر فاروق اعظم

**اقتصادي نظام څه ته وايي؟**

اقتصادي نظام هغه منظم او پلان سوي فعالیتونه دي، چې په ذریعه یې اقتصادي او ټولنیزه وده داسې عیاریږي چې په نتیجه کې یې فقر، لوږه، بې‌سوادي او مرض کم او بلاَخره ورک سي او ولس ته د یو هوسا ژوند چاپیریال برابر سي. انکشاف په حقیقت کې هیواد ته د یوې منظمي عملیې له لارې اقتصادي او ټولنیزه وده ورکول دي. یا په بل عبارت په ټولنه کې هغه منظم تغییر چې ګڼ اړخیز پرمختګ میسر کړي انکشاف بلل کیږي.

په نړۍ کی څو قسمه اقتصادي نظامونه سته (سرمایه داري، اشتراکی، مختلط). د افغانستان لپاره یو مناسب اقتصادي نظام هغه دی چی دولت او شخصي تشبث یو له بله همکار وي. دلته د هیواد د ملي اقتصاد په چوکاټ کې اولیتونه تر ډیره حده دولت تعیینوي او شخصي تشبث ته په همدغه چوکات کې موقع ورکوي چې کار وکړي. دولت د عامه رفاه د مدافع په توګه شخصي تشبث ته تر هغه ځایه د فعالیت مجال ورکوي چې د مستهلک په ضرر نه وي.

د اسلامي دولت لخوا ټولنه باید داسې تنظیم سي چې خلکو ته د باکیفیته ژوند په منظور ابتدائي ضروریات لکه امنیت، صحت، تعلیم او کار میسر وي. دلته د انکشاف تعریف په داسې یوه اقتصادي پرمختګ کې موندل کیږي چې د دولت او شخصي تشبث د همکارۍ په نتیجه کې ټولني ته په یو سالم چاپیریال کې مادي هوسايي او روحي آرامي تضمین سي. په سرمایه داري او اشتراکي نظامونو کی یوازې مادي ښېرازي مورد بحث ده؛ خو په اسلام کی د مادي رفاه سره روحی آرامی هم مطرح ده. داځکه چې په اسلام کی ځان، مال، عزت، عقل او دین له تعرضه محفوظ دي. په یو اسلامي نظام کې اوسنی نسل باید راتلونکی نسل ته د هغوی د پرمختګ لپاره په هر لحاظ یو سالم چاپیریال په میراث پریږدي. اوس یو مناسب فرصت دی چې امارت د اسلام په چوکات کې یو مناسب اقتصادي نظام ولري او هغه د خلکو د رفاه لپاره عملي کړي.

په اقتصادي انکشاف کې سرمایه مهمه ده؛ که په دننه کې سرمایه د متوقع اقتصادي رشد لپاره کافي نه وي، له بهر څخه باید په ډیر احتیاط او دقت راوړل سي. د اقتصادي رشد ډول او مسیر په هیوادونو کې توپیر لري چې تر ډیره ځایه د هماغه هیواد د طبیعي منابعو په نوع او وفرت، د حکومت اهداف او پالیسي، د داخلي او بهرنۍ سرمایې موجودیت، عصري تکنالوجي ته لاسرسی او د نړیوال تجارت په چاپیریال پورې اړه لري. اکثره کمزوره بیخبناوي، بنسټونه او سازمانونه، لږ سرمایه او محدود بازار هغه عوامل دي چې د یوې ټولنې اقتصادي رشد متاثره کوي. په کار دا ده چې پر بشري قوه، د هغې پر تعلیم، علمي څیړنو او د بنسټونو پر جوړولو ډیر کار وسي. د دغې پالیسۍ جانبي مثبت اثرات پر ټولنه ډیر دي. په دغسې یو حالت کې د دولت سهم مهم دی. دا ځکه د تعلیم، څیړنو، بیخبناؤ او د بنسټونو د جوړولو سره شخصي تشبث اکثره دلچسپي نه لري او دا دولت دی چې د عامه منفعت لپاره به په حساسو ملي سکتورونو کې پانګونه کوي، پانګونو ته به اولیتونه ټاکي، د شخصي تشبث سره به لازمه مرسته کوي، ملي تولیداتو ته به د بازار په پیدا کیدو کې هلي ځلي کوي او په نتیجه کې به ملي اقتصاد د شخصي تشبث په مرسته اقتصادي انکشاف ته رهبري کوي.

څرنګه چې اقتصادي انکشاف یو ګڼ اړخیزه عملیه ده چې ډیر عوامل پکښې سهیم دي، نو یو لړ منظمو سنجول سویو پالیسیو او ستراتېژیو ته اړتیا لري په کوم کې چې ټولنیز، کلتوري او سیاسي سازمانونه او سیستمونه د هغوی د متغیر او متحرک فطرت سره په نظر کې ونیول سي. دلته اقتصادي وده باید داسې تنظیم سي چې د هغه په نتیجه کې د خلکو عواید ډیر سي او ژوند یې په کیفي لحاظ دوامداره ښه سي.

د یو منظم فکري اقتصادي چوکات په حساب، افغانستان نن د عنعنوي اقتصاد او د اقتصادي جهش د مقدماتي مرحلې په منځ کې واقع دی. عنعنوي اقتصادي مرحله هغه ده، چې بزګر په حیوان مځکه کري، د غنمو، جوارو، شولو او داسې نورو حاصلاتو راشه او درمند د حیواناتو په پښو غوبل کوي او په باد یې پاکوي. دلته بزګر او اولاد یې ټول کال په زراعت مصروف وي خو بیا هم دومره تولیدوي چې د بل کال تر دغه وخته یې په مشکله بس سي. اضافي تولید چنداني نه لري. دغسې ټولنه سره له دې چې خپل ځان یوه زراعتي ټولنه یا هیواد بولي او اتیا فیصده خلک یې په کرنه مصروف وي، بیا هم غنم او زراعتي توکې واردوي. د اقتصاد په دغه مرحله کې چې زه ورته د بدوي یا عنعنوي اقتصاد مرحله وایم د اقتصاد یوه بله مهمه برخه پر مالدارۍ داسې تکیه ده، چې پوونده او کوچیان خپل پسونه او رمه په دښتو او غرونو کې پیایي او رمې ته د هوا او اقلیم سره حرکت ورکوي؛ په ژمي یو ځای او دوبی بل ځای، په وښو پسې ځي. په دغه برخه کې زراعت او مالدارۍ دواړه د طبیعت سره ډیر نژدې تړون لري. هر څومره چې دا تړون ډیر وي، هغومره ټولنه د بدوي اقتصاد په مرحله کې ده. دلته تولیدي کفائت محدود دی.

د داؤدخان په وخت کې موږ له عنعنوي اقتصاده راوتلي و؛ او د اقتصادي جهش په مقدماتي مرحله کې واقع و. د اقتصادي جهش مقدماتي مرحله هغه حالت دی چې د عنعنوي اقتصادي فعالیتونو څنګ ته په ټولنه کې صنعت هم څه نا څه موجود وي. مثلاً، یو شمیر بزګران په غویو یوې او غوبل کوي؛ خو تر څنګ یې تراکتور او تریشر هم سته. که خلک وطني غنم کري او له حیواني سري استفاده کوي، نو اصلاح سوی تخم، کمیاوي سره، زراعتي او مالداري دوا او

زراعتي کوپراتیفونه هم په کلیو کې وجود لري. د ثور کودتا پر دغه اقتصادي بدلون منفي اثر وکړ او پرې یې نښوول چې زموږ ټولنه د جهش له مقدماتي مرحلې د جهش اصلي مرحلې ته، چیرې چې زراعت مکانیزه دی، داخله سي. د ثور د کودتا له پیله ۱۴ کاله د خانمانسوز جنگ ښکار ته داسې یو دولتي اقتصادي نظام حاکم و چې شخصي تشبث، آزاد بازار، په بازار کې آزاد رقابت او ابتکار یې د خپل نظام د فلسفې پر بنیاد مردود گڼه. زمیندار او سرمایه دار وځپل سول، ووژل سول او فرار سول. په زراعت او صنعت کې شخصي سرمایه گذاری تشویق نه سوه. کوشش دا وو چې په اقتصادي لحاظ هر څه د دولت تر کنترول لاندې وي. دا وخت چې افغانستان د شوروي په اشغال کې و، د دولت منابع ټول جنگ ته متوجه وه چې دغه حالت اداري فساد ډېراوه، د سرمایې او مغزونو فرار یې چټک کاوه او کار یې د اهل کار پر ځای حزبي وفادارو ته سپاره. دغه حالت د هیواد اقتصادي او علمي بنسټونه ټول سخت متضرر کړل او هیواد چې د داؤدخان په وخت کې د اقتصادي جهش د مقدماتي مرحلې څخه مخ په وړاندې د عبور په حالت کې و، په ټپه ودرید او په ځینو ساحو کې شاته ولاړ.

له ۲۰۰۱م څخه بیا تر ۲۰۲۱م یعني شل کاله، د تیر کمونستي دور برعکس، د امریکا په رهبري د آزاد بازار اقتصاد پر هیواد حاکم او په اساسي قانون کې د یو اصل په صفت تسجیل و. له ټولې نړۍ کافي تعلیم یافته مسلکي متخصص افغانان او نړیوال پوهان د کافي معاش او بېحده زیاتې سرمایې سره راغلل چې افغانستان د آزاد بازار د اقتصاد په برکت د نړۍ د پرمختللو هیوادونو په قطار کې ودروي. په دغه منظور ټول دولتي تشبثات لکه زراعتي او صنعتي بانکونه، جنگلک صنعتي کامپلیکس، سپین زر، نساجي او نور دولتي مهمې تصدۍ او تاسیسات ټول فلج او لیلام سول. له یوی خوا پر جنگ اصرار او له بلې خوا گاونډیانو ته د آزاد بازار په نوم زموږ د سرحداتو خلاص ساتل او د دولت لخوا زموږ د زارعینو او متشبثینو سره مرسته نه کول د هیواد اقتصاد له پښو وغورځاوه، داخلي پانگونه یې د حریصو گاونډیانو د حرص ښکار کړه او موږ یې د گاونډیانو د کچه او بېکیفیته مال مارکیت کړو. تصور وکړئ چې د ایران شلومبې په بدخشان کې چې په مالداری مشهور ولایت دی او د پنجاب هندوانې په هلمند او فراه کې خرڅیدې. افغانستان یو داسې هیواد دی، چې کافي اوبه لري. خو موږ یې د خپلو رودونو پر غاړه وږي او تږي ساتلي و. پر پردو بیځایه تکیې، زموږ په ټولنه کې پراخ اداري او اخلاقي فساد خپور او د ولس په منځکې یو پر بل بې اعتمادي حاکمه کړه. پر هیواد جنگي او جرمي اقتصاد حاکم و چې د ډېرو امکاناتو او نړیوال وسیع ملاتړ سره سره زموږ اقتصاد وده ونه کړه. نتیجتاً، په تیر ۴۴ کاله کې د نړۍ د لویو طاقتونو د قوي حضور باوجود موږ د اقتصادي جهش مرحلې ته ونه رسیدو کوم چې کیدای سو که داؤدخان پاته وای په څو معدودو کلونو کې رسیدلي وای. موږ جنگ او د پردو مداخلو د نورو مصیبتونو څنگ ته له اقتصادي ودې هم واچولو.

سره له دې چې افغانستان اوس یو مستقل هیواد دی، پکې امن دی او عامې عفوې د هغو کسانو لپاره لاره هواره کړې ده، کومو چې په تیر رژیم کې پیسې پیدا کړې؛ او غواړي اوس یې د ځان او په ضمن کې د خلکو د خیر لپاره په هیواد کې ولگوي. خو تشویش دا دی چې آیا په سیاسي او اقتصادي لحاظ امریکا خپل جنگ په افغانستان کې بالکل ختم کړیدی؟ عام خلک دا سؤال کوي چې آیا نړیوال په افغانستان کی امن غواړي؟ د امریکا ډرون الوتکې د هیواد پر فضا پخپل سر گرځي، د افغانستان سرمایه امریکا بنده کړېده، افغان دولت یې په رسمیت نه دی پیژندلی چې داخلي او خارجي پانگوالو ته د پانگوني ډاډ پیدا سي. تر ټولو خطرناک دا دي چې امریکا او ناټو غړي هیوادونه ټول هغه تعلیم یافته افغانان او کورنۍ یې د یو منظم پروگرام لاندې د دروغو په ادعا له افغانستانه باسي کوم چې په تیر شل کاله کې یې یوه څه زده کړې وه. د امریکا د وتلو سره زموږ له هیواده سرمایه هم ووتل او په نورو هیوادونو کې په کار واچول سوه. دغه حالت زموږ اقتصاد نور تر فشار لاندې راؤست.

د دغه ټولو ناخوالو سره اوس یو غنیمت فرصت هم میسر دی. د اسلامي امارت مشران دین او وطن ته وفادار او د افغانستان خلکو ته د خدمت تعهد لري. اخلاقي او اداری فساد هم د پخوا په نسبت حد اقل دی. ملت توقع لري چې د سیاسي نظام و څنگ ته اقتصادي نظام ورته معرفي کړل. اوس یو طلایي فرصت دی چې استفاده باید ور څخه وسي. څوارلس کاله روسانو زموږ د هیواد اقتصادي نظام پر یوه خوا بیوی او شل کاله بیا برعکس امریکا پر بله خوا بوت. زموږ هیوادوال، خصوصا پانگوال په دغه سل په سلو کې مخالف اقتصادي نظامونو کې سخت وځپل سول او حتی د خپل طبیعي مسیر څخه هم وغورځول سول. اوس دغه ستړی ملت غواړي پوه سي چې دولت څنگه اقتصادي نظام غواړي ولري، د دولت او شخصي تشبثاتو او سرمایه گذارانو ترمنځ به څه اړیکې وي؟ د هیواد د اقتصاد په وده کې به د دولت ونډه څنگه، څومره او په څه ډول وي؟. شخصي تشبثات او سرمایه گذاران به په کوم مسیر حرکت کوي چې هم دوی وده وکړي، هم خلکو ته کار پیدا سی؛ خو په عین حال کې د سرمایه دار د ډېر حرص او احتکار مخه هم ونیول سي څو مستهلک او عام خلک متضرر نه سي.

د امارت لخوا په هیواد کې د امن او سیاسي ثبات یقیني کول د اقتصادي ودې لپاره حتمي او لازمي عنصر دی. ملموس کوښښ حتمي دی چې په دننه کې په اتفاق او په بهر کې د نورو سره معمول ژوند وکړای سو. دغسي یو نوښت موږ ته سیاسي ثبات او د اقتصادي رشد فرصت راکوي. موږ د نړۍ په کلي کې یو کور یو. اول پخپل کور کې باید په اتفاق واوسو او دوهم د کلي د خلکو سره راشه درشه ولرو. اسلامي امارت د افغانانو راغ او پلار دی. که د کور یو څوک له پلاره خوابدی سی، پلار یې په مهرباني پر سر لاس ور تیروي، په غیږ کې یې نیسي، شیریني او پتاسې ورکوي او په یو شي یې راضي کوي. قهر او چپلاخه وروستۍ وسیله ده. پلار هغه وخت له چپلاخې کار اخلي چې هیڅ چاره ونلري، هغه به هم داسې وي چې د هلک له کوره زړه تور نه سي چې یا ډانگ پر را واخلي او یا کور ورپریږدي. حکومت به زور لري خو د استعمال پر ځای به یې ډیر فکر کوي. همداسې افغانستان د نړیوال کلي یو کور دی. زموږ له دنیا څخه هیڅ چاره نسته. که په کلي کې یو کور هرڅومره پخپلو منځو کې جوړ وي خو چې کلي ورسره جوړ نه وي، انسان او حیوان یې نه پریږدي چې له کوره راووزي، بندیزونه یې پر لگولي وي او راشه درشه نه ورسره کوي، دغسې کور ته ژوند تر ډیره اسانه نه دی. دا د کور د مشر دنده ده چې دغه حالت ته ژر د حل یوه لار پیدا کړي.

## د اقتصادي ودې لپاره دا لاندې نکات د توجه وړ دي:

(۱) په دولت کې مسلکي او فني کارونه او خصوصاً اقتصادي سکتور چې مسلکي او تخصصي دی باید حتماً اهل خلکو ته وسپارل سي. د ادارو مشران باید په مسلک پوه، امين او نظام ته وفادار کسان وي.

(۲) په دولتي ادارو کې د فساد مخه ونيول سي.

(۳) د اقتصادي تشبث د ادارو په سر کې دي نه قوماندان او نه سرمايه دار مقرر کيږي. قوماندان يې چلولای نه سی او فساد ته مخ خلاصوي او سرمايه دار بيا کيدای سی خپل صلاحيت او مالي توان د عام ولس په ضرر استعمال کړي. سرمايه دار ته که په دولت کې د اقتصادي سکتور واک په لاس ورسي، بيا د سياست شوق کوي او د هيواد سرمايه او دولتي قدرت پر غلط چينل سوق کوي، فساد پيدا کوي او قوانين پايمالوي. پيسه، وسله او سياسي قدرت بايد د يوه چا په لاس کې نه وي، چې بيا په هيواد کې د قدرت جزيرې جوړيږي او په نهايت کې د دولت حاکميت کمزوری کيږي. په تير شل کلن رژيم کې د بشر د حقوقو ناقضين، جنګسالاران او د مخدره موادو مافيا حاکمان وه، چې دولت يې د سقوط سره مخ کړ. دغه حالت بايد تکرار نه سي. اقتصادي ادارې باید د مسلکي کسانو لخوا رهبري سي.

(۴) د هيواد د اقتصادي پرمختګ په منظور دولت بايد رامخته سي او شخصي تشبثاتو او پانګونو ته د ملي اقتصاد د ودې مسير او اولیتونه وټاکي، د پانګونو لپاره لازم تسهيلات برابر او ضروري قوانين او مقررات، لازمي اقتصادي ادارې او مؤسسات د اقتصاد د ودې او شخصي تشبثاتو د ملاتړ په منظور جوړ او تقويه کړي.

(۵) د داخلي توليداتو د تقويې په منظور دې پر هغو زراعتي او صنعتي وارداتي شيانو بنديز او يا لوړه ماليه ولګول سي، کوم چې په هيواد کې دننه توليديږي.

(٦) په اوسنی مرحله کې دې پر کرنې او مالداری ولاړ کوچني صنايع په کليو کې عام سي، ښځو ته په کورنو کې کار پيدا سي. د متوازن انکشاف په منظور دې کرار کرار صنعت هم حتی المقدور کليو ته يو وړه سي چې له کليو ښارونو ته د مهاجرت مخ ونيول سي.

(۷) اصلاح سوي تخمونو، د ښه حيواني نسل لپاره مصنوعي القاح، کوچني بندونو او د بريښنا توليد ته، چې د سرو خونو او د صنعت د ودې لپاره ډير ضرور ده، خاصه توجه وسي. په ځينو ځايونو کې دي دولت د شخصي پانګوالو سره په شريکه پانګونه وکړي. کله چې ځه وخت وروسته نوموړی تشبث پر پښو ودريد، دولت دې خپله برخه په هماغه تشبث کې پر خپل شريک يا بل پانګوال خرڅه کړي. مثلا، همدا اوس په بخش‌آباد کې دولت پر فراه رود له خلکو سره په شراکت بند جوړوي. کوچني بندونه او ويالي اکثره له خلکو سره په شراکت جوړيدای سي.

(۸) د حشر (رضاکارانه کار) دود دي بيرته را ژوندی سي. پخوا لويې ويالي، کاريزونه او غټې بناوي د ولس په حشر جوړيدې. د تيرو څلورو لسيزو ناخوالو زموږ د خلکو په عاداتو کې تغيير راوست او تر ډيره يې پر بهرنيانو متکي کړو. دا عادت بايد موږ پخپلو متو د وطن د ابادېدو په سوچ بدل کړو. همدا اوس په هلمند کې لويې ويالي او زابران امارت د خلکو په همکاری پاکوي. پر فراه رود د بخش آباد بند به امارت د خلکو په همکاری جوړوي.

(۹) څرنګه چې اوس امارت د نړيوالو لخوا په رسميت نه دی پيژندل سوی او اقتصادي بنديزونه هم دي، نو امارت بايد د بنديزونو د اثر د کمولو په منظور دولتي عايد ډېر او عامه رفاه متيقنه کړي. په دغسې يو تکليفي اقتصادي حالت کې امارت بايد د خلکو د سهولت لپاره د سرمايه دارانو انحصار او مافيا مات کړي او د حالاتو تر عادي کيدو دي ځينې مهم سکتورونه چې د عامو خلکو ډير ورسره سروکار دی، په کنترول کې وساتي. مثلاً، تيلفون، انترنيت، تيل، غاز او بوره دي د دولت په انحصار کې راسي. په دغه صورت کې به بې ساري عايد دولت ته پيدا سي او هغه پيسه او اسعار چې د تيلفون او انترنيت ښتنان يې اوس خارج ته وړي، تر ډيره په دننه هيواد کې پاته سي. همداراز، اوس بې‌کيفته تيل او غاز هيواد ته تجاران د خپلو شخصي ګټو لپاره راوړي. که دا د دولت په کنترول کې وي، د تيل او غاز کيفيت به سم او معياري سي، زموږ موټران او وسائل به ژر نه خرابيږي، زموږ هوا به نوره نه ککړه کيږي او زموږ روغتيا ته به نوره صدمه نه رسيږي. دلته به د اقتصادي مافيا د انحصار او احتکار مخ ونيول سي چې بازار د مستهلک په ضرر پخپله ناجائزه ګټه څرخوي او هم به با کيفيته مال په مناسبه بيه و ولس ته ورسيږي. دغه کار به د دولت اعتبار د خلکو په وړاندي ډير کړي.

(۱۰) د دولت د عايد د زياتولو په منظور دي زموږ طبيعي زېرمي او معدنيات داسې استخراج سي چې په دننه کې د صنعت د ودې سبب سي. مثلا د ډبرو له سکرو دي په دننه هيواد کې د بريښنا په توليد، د اوسپنې په ويلولو او په نورو دا ډول پروژو کې کار واخيستل سی. مس دي په دننه هيواد کې د برقي لائنونو، کيبلونو او الاتو په جوړولو کې وکارول سي. په دې ډول دي د معدني اومو موادو له صدور څخه جلوګيري وسي. همدا راز، د غذايي امنيت لپاره دي موجوده سيلوګانې فعالې او نورې هم جوړې کړه سي.

(۱۱) زموږ په عادات او رواجونو کی د مثبت تغيير ضرورت. مثلا، موږ په کال کی ۳۰۰ ميليون ډالره چای له بهره رانيسو. که موږ د چايو پر ځای نانا (نعناع) استعمال کړو، هم مو نانا صحت ته ترچايو ډيره ښه ده او هم د کاله ډيره پيسه په هر کور کی راپاتيږي. نانا داسی نبات دی چی زموږ په هر کور کې دننه کرل کيدای سي، پاک او نظيف نبات دی چې تازه او وچ يې دواړه کاريدلای سي. امارت کولای سي د مساجد او منابر له لارې د چايو پر ځای د نانا د استعمال تبليغ وکړي او په دې ډول د خلکو او دولت د اقتصاد سره مرسته وکړي.

همداراز امارت دي د روغتيا وزارت سره په مشوره د مساجد او منابر له لارې په خلکو کې د ترکاری او حبوبات د استعمال تبليغ وکړي. د ډيرې غوښې استعمال مضر دی؛ د ترکاری او حبوبات په استعمال سره ډيرې ناروغی ښه او د بدن پوست تازه ساتل کيږي. د غوښو استعمال دي کم سي، مثلا په اونۍ کې دي دوه ورځې غوښه وخوړل سي. دا کار نه يوازې صحت ته ښه دی؛ بلکې خلکو ته به د غوښو د رانيولو پيسه پاته او هيواد به سپمولې غوښه او مواشی بهر ته صادر کړي.

دوستانو!

الله عزوجل موږ ته د طبيعي منابعو په حساب ډير غني هيواد را کړی دی. ښه پراخه ځمکه، پاکې اوبه، مناسب اقليم، ځنګلونه، راز راز معدنيات، ... هر څه يې را کړي دي او تر ټولو مهم زيارکښه خلک مو دي. خو د دې ټولو سره سره موږ خوار، وږي او تل نورو ته اړ يو. دومره محتاج يو چې که دښمن هم د مرستې په نوم لاس را اوږد کړي دی، موږ هغه له مجبوريته قبول کړی دی چې بيا همهغه ناولي لاس په مصيبتونو اړولی يو. د دې ناکامه ژوند پړه تر ډيره ځايه پر حکومتونو او بيا زموږ پر پوهه او عالمه طبقه ده؛ داځکه الوالأمر او راع همدوی دي. دوی دا هيواد ولې داسې وروسته پاته ساتلی دی، چې وقتا فوقتا د بل تر ګونډو لاندې او تل يې دښمنانو ته د احتياج لاس اوږد دی. اوس چې الحمدلله استقلال لرو او هيواد کې امن دی، بايد يوې خبرې ته متوجه سو چې سياسی استقلال او ثبات بې له اقتصادي پياوړتيا نه سي ساتل کيدای. چېرې چې امن نه وي، نو انسان ته اول د امن ضرورت دی او ور پسې اقتصاد. ابراهيم عليه السلام چې کله خپله ښځه

او زوی د مکې په دښته کې پریښوول، نو اول یې د امن او بیا یې د هغوی د رزق دعا وکړه (رب اجعل هذا بلدا آمنا وارزق أهله من الثمرات). خو کله چې یو ځای امن وي، بیا نو اقتصاد ته توجه لومړیتوب لري ( الذي أطعمهم من جوع و آمنهم من خوف). اوس چې الحمدلله افغانستان آزاد او سرتاسري امن پکې قایم دی، اقتصاد ته توجه ارجحیت لري.

په افغانستان کې د ۲۰۰۱م څخه تر ۲۰۲۱م پورې د ټولو نړیوالو اقتصادي مرستو مالکیت او مدیریت رسماً د بهرنیانو په لاس کې و. په ۲۰۱۰م کې په لندن کې فیصله وشوه چې تر دې وروسته به د نړیوالو مرستو ۵۰٪ د دولت له لارې کیږي. تر پایه دغه ۵۰٪ هم د دولت له لارې پوره مصرف نه سوی. یعنې تیر شل کاله له بهره راغلي پیسې د دولت له سیستم، اولیتونو او رجحاناتو پرته بهر لګیدې او اکثره بیرته هغو هیوادونو ته تلې چې ورڅخه راغلي وې. په لار کې هغو افغانانو ته هم یو غرپ ور ورسید چې ددوی ملګري وه. هغه طریقې نه یوازې کار ور نه کړ؛ بلکې مضره تمامه سوه. اوس چې امارت پر ټول هیواد حاکم دی، باید خارجي مرستې د دولت د اولیتونو په چوکاټ کې د دولت تر نظارت لاندې مصرف سي. هغسې خارجي مرستې دې نه قبلیږي چې غواړي د دولت تر کنترول بهر ولګیږي. او که د مجبوریت له مخې یې قبلوي، نو حتماً دې د امارت څوک د مرستو د توزیع په وخت کې وي. د دولت له همکارۍ بغیر خارجي مرستې افغان دولت کمزوره کوي او د قیادت په مقابل کې د قدرت متبادلې جزیرې جوړوي. . امارت باید اقتصادي حاکمیت داسې تمثیل کړي چې په هیڅ ساحه کې چاري د امارت له کنترول او نظارت پرته تر سره نشي او پرې نښودل شي چې د نړۍ او سیمې هیوادونه او کورني فرصت غوښتنکي د دغه بیوزله ولس سرچینې ضائع او لکه تیر شل کاله پخپل شخصي ګټه او د پردو لپاره وکاروي.

امارت دې هغو کسانو ته چې تېر شل کاله یې د بهرنیانو سره د خدمت له لارې پیسه ترلاسه کړي ده، فرصت ورکړي چې دغه پیسه د هیواد په انکشاف کې ولګوي.

په هر ولایت کې دې د هغه ولایت والي په نومړي ولایت کې د خلکو ضرورتونه او د پانګونې ځایونه د اولیتونو په تشخیص سره درجه بندي کړي. د سرمایه دارانو لیست دې جوړ او هغوی ته دې د کاري فرصتونو او پانګونې لیست کښیښوول سي چې چیرې پانګونه کولای سي. والي دې د حکومت په نمایندګۍ د ملاتړ ټېر ورته ووهي. هغوی دې تشویق سي چې له امن، عفوې او کاري فرصت څخه د ځان او وطنوالو په ګټه کار واخلي؛ که نه دولت دې بیا د غیر ملي سرمایه دارو سره مناسب چلند وکړي.

د اقتصادي پیاوړتیا لپاره بېړنی اقتصادي پلان

د تیر نظام (۲۰۰۱م – ۲۰۲۱م) سقوط، د امریکا لخوا د افغانستان د پیسو بندول، د امریکا او ناټو لخوا د افغانستان تعلیم یافته طبقه ایستل، د امارت په رسمیت نه پیژندل، کرونا او وچکالي ټول هغه مصیبتونه دي چې اسلامي امارت ته په میراث پاته او ورسره لاس او ګریوان دی. خو چاره ورته حتمي ده. د دې لپاره چې هیواد د اوسني اقتصادي ناورین څخه راووزي لاندې تدابیر باید ونیول سي او عملي سي:

د دولتي سکټور تقویه

(۱) د نرخونو مدیریت، د پولي تورم یا انفلاسیون مهارول او د اقتصادي رشد لپاره زمینه مساعدول.

(۲) بانکي سیستم دې مالیه وزارت د بانکو د مدیرانو، د اقتصاد د علم د پوهانو، اقتصاد وزارت، تجارت وزارت او د اړوندو نورو دولتي مسؤلینو د ګډ تجویز په نتیجه کې فعال سي او خلکو ته دې د بانک له لارې معاشات ورکول سي.

(۳) له هیواده دې د اسعارو د غیرقانوني وتلو مخنیوی وسي.

(۴) د بهرنیو مرستو ښه تنظیم. دلته څو نکتې د توجه ور دي:

**الف:** له بهره را رواني مرستې دې امارت تر خپل جدي مراقبت لاندې ونیسي، چې له یوې خوا د مرستې په نوم خارجیان د امارت خلاف کار ونه کړي، امنیتي مشکلات خلق نه کړي، فساد خپور نه کړي او له بلې خوا مرستې مستحقو ته ورسیږي.

**ب:** خارجي بشري مرستې دې تر وسه نقدي نه ویشل کیږي چې ولس فقیر اموخته کوي؛ بلکې د کار په مقابل کې دې ورکړه سي.

**ج:** بشري مرستې دې اول هغه سکتور ته ورکړه سي چې نورو اقتصادي سکتورونو ته مرسته کولای سي. لکه د ویالو پاکول؛ چې زراعت ته مرسته کوي، د سړکانو جوړول؛ چې ترانسپورت ته ګټه رسوي، د سیلابونو مخ نیول؛ د کرنې او مالدارۍ سره مرسته کول، ځنګلونه ایښوول، معدنو کې کار کول، په کور کې لاسي کارونه، پر زراعت او مالدارۍ ولاړ د کوچنیو صنایع ایجاد او تقویه کول.

(۵) په هیواد کې د سرمایې د سم جریان پیدا کولو لپاره یو جامع ملي پالیسي جوړول او هغه پلي کول. دغه کار د دولتي ادارو بیرته فعالول ایجابوي او دا هغه وخت کیدای سي چې مسلکي او اهل کار کسان اړونده ادارو ته جذب سي او داخلي و خارجي پانګوالو ته د سرمایه ګذارۍ ښه زمینه مساعده سي.

(۶) دولت د کوپون نظام رائج کړي چې ضروري مواد خپلو مامورینو ته په ارزانه (تمام سوي بیه) ورکړي. دا به د مامور د معاش او د بازار د تنظیم سره ډیره مرسته وکړي.

(۷) د ملي اقتصاد په ګټه د صادراتو او وارداتو کنټرول. دلته باید تجار او تجارت کافي تقویه سي؛ خو دا ډول چې مستهلک ضرر نه ویني. د خلکو د ژوند اولیه ضروري وارداتي توکو ته مالیاتي، اداري او بانکي تسهیلات برابر سي. د غیر ضروري، لوکس، تجملي او هغو شیانو له واردولو څخه ډډه وسي چې په هیواد کې دننه تولیدیږي. دغه پالیسي به هم داخلي تولیدات ډیر کړي او هم به بهر ته د اسعارو د وتلو مخ ونیسي.

(۸) د کوچني اقتصاد داسې تنظیمول چې د لوی اقتصاد لپاره زیربناء او بنسټ سي.

(۹) امارت دې تر وسه د هیواد په پولي او مالي مدیریت کې ډیر نظارتي او لږ اجرائیوی کردار اداء کړي.

(۱۰) برېښنا په زراعت، صنعت او علمي ساحو کې سخت ضرورت دی. موږ باید د ډبرو له سکرو، لمر، باد، اوبو او د کورونو او ښارونو له فاضله موادو څخه انرژۍ (برېښنا او غاز) تولید او د هیواد په انکشاف کې کار ور څخه واخلو. په دغه لار کې باید دولت شخصي تشبثات تشویق کړي.

## د خصوصي سکتور تقویه کول

د دې لپاره چې خصوصي سکتور د هیواد د اقتصادي او اجتماعي رشد سبب سي، خو په عین حال کې د اقتصادي مافیا له آفته خلاص وي، دا لاندې اقدامات اړین دي:

(۱) غیر رسمي اقتصادي او تجاري فعالیتونه باید رسمي شکل واخلي. ټول اقتصادي فعالیتونه د کوچني تجارت په شمول لکه د سرک پر غاړه دوکانونه، پر لویو لارو او کلیو کې دوکانونه، کلیوال بزنیسي فعالیتونه دې په اړوند کسبي اصنافو کې راټول او دغه اصناف دې د حکومت سره ثبت سي. دا به هم د دولت عواید ډیر کړي او هم به اقتصادي فعالیتونه منظم او د بررسي قابل کړي.

(۲) د دولت لخوا شخصي پانګوال تشویقول چې د سړو او ښو خونو په جوړولو او په زراعت، مالدارۍ، صنعت، انرژۍ او نورو خدماتو کې پانګونې وکړي.

(۳) دولت دې تر ممکنه حده خپل ټول ضروریات (د عسکرو البسه، خوراکه، د ادارو فرنیچر،

قرطاسیه،...). له داخلي تولیداتو پوره کړي. دلته به پانگونه تشویق، لوی او واړه پانگوال او تجاران به د هیواد د اقتصادي ماشین د څرخولو او اقتصادي رشد سبب سي. دغسې یو حالت به استخدام ډېر کړي، د فقر درجه به کمه سي، مخدره مواد ته به مخه نه کیږي او زموږ د کار قوه به له هیواده نه تښتي.

(۴) خصوصي متشبثینو او پانگوالو ته د مالي او ځاني امنیت ډاډ ورکول، د مالیاتي جرائمو تادیه دې په قسط سي او د پانگوالو لپاره دې لازم قانوني او اداري تسهیلات برابر سي څو د پانگوال روحي تشویش رفع سي. د فابریکو او تولیدي مؤسساتو لپاره ارزانه د سونگ مواد او برېښنا تهیه سي. تولیدي فابریکو ته د دولت او اسلامی هیوادونو لخوا په اسانه شرایطو پور ورکول سي. دلته پانگوال باید د دولت د اولیتونو د تشخیص او لارښوونې په چوکات کې پانگونې ته تشویق سي.

(۵) داخلي تولیداتو ته تشویقي تعرفې منظورول، د صادراتو تشویق او ملاتړ کول او د دولت لخوا د شخصي تشبثاتو سره په بازار پیدا کولو کې مرسته کول. په خارج کې زموږ د سفارتونو یوه دنده همدا ده، چې زموږ مالونو ته په خارج کې بازار پیدا کړي.

(۶) د خلکو په مرسته یا د شخصي پانگونې په تشویق په هیواد کې د کوچنیو بندونو جوړول او د هغه له لارې، برېښنا تولیدول، ځنگلونه او مالداري تقویه کول. دلته دې د کوچنیو بندونو سروې او ډیزان حکومت وکړي او د جوړولو کار یې شخصي پانگونې ته پرېږدي. د دغو بندونو پر شاوخوا دې سیاحت او د توریزم صنعت تشویق سي.

(۷) د اقتصاد په هره برخه کې و داخلي او خارجي پانگونې ته زمینه مساعدول؛ څو خلکو ته کار پیدا سي، مسلکي مهارتونه تقویه او داخلي تولیدات ډېر سي.

## د کرنې او مالدارۍ د سکتور تقویه

وچکالیو، کښت ته د منظمو اوبو نه رسیدلو، د فني او مسلکي خلکو کمبود، د زراعتي تناوب نه مراعات کول، کمزوری مدیریت، د زراعت او مالدارۍ د عنعنوي شکل نه تغییر، دغه سکتور ته کمه توجه او په دغه سکتور کې لږ پانگونه، د کرنې د بنسټیزو شرایطو لکه د مجهزو لابراتوارونو، تحقیقاتي فارمونو، ښه تخم، د حیواناتو اصلاح سوي نسل، سرو او شنو خونو، د دواء او تداوي د مراکزو نه موجودیت، ټولو په گډه زموږ د کرنې او مالدارۍ د لازمي ودې مخ نیولی دی. د دغه سکتور د تقویې لپاره دا لاندې اقدامات ضرور دي:

الف: زموږ د رودونو او تر مځکې لاندې اوبو ښه مدیریت، د ځنگلونو ایښوول، زموږ د آب و هوا سره د مناسبو تخمونو او زراعتي تناوب کارول او گټورو حیواني نسلونو پیدا کول. کرنې او مالدارۍ ته داخلي او خارجي پانگونه جلبول، د دغه سکتور سره د دولت لازمه مرسته او ملاتړ، مسلکي کسان روزل، بزگرانو او مالدارانو ته مسلسله فني او مسلکي مشوره ورکول.

ب: کلیوال کورني بزنسونه تقویه کول، لکه د شاتو مچیو او د وریښمو د چنجیو روزنه، له پیاټو چپس، له رومیانو کیچپ او سوس جوړول، د میوو او ترکاریو وچول، ښځو ته د بازار لپاره قنادي، اشپزي، خیاطي او لاسي کارونه ښوول، قالین اوبدل، د لبنیاتو پروسس، د میوو او ترکاریو وچول او د هغوی پکینگ، ... . دغسې پروگرامونه به ښځو او د کورنی نورو غړو ته په کور کې د کار او د عائد منابع پیدا کړي. په دغه لار کې کیدای سي نړیوال هم مرسته وکړي.

ج: کرنه او مالداري میکانیزه او صنعتي کول. د دې لپاره چې په زراعت او مالدارۍ کې طبیعي او اقلیمي ناخوالې کنترول کړي، نو باید دغه سکتور تر خپله وسه مکانیزه او صنعتي کړو.

د: د زراعت او مالدارۍ د تقویې لپاره کوپراتیفونه جوړول.

هـ: د زراعت او مالدارۍ د انکشاف لپاره زراعتي او مالداري بانک جوړول چې بزگرانو او مالدارانو ته په اسانه او مناسبو شرایطو پور(قرض) ورکړي.

و: د پوونده (کوچیانو) تولیدي حیات ته جدي توجه. پوونده د هیواد یوه معتنابه فیصدي (۸٪) نفوس تشکیلوي. له ډېره وخته د هیواد دغه مؤلده طبقه تر هرې بلې طبقې د دولت له ملاتړه محرومه ده. پوونده د هیواد له طبیعي منابعو (دښت، هوا، لمر، اوبه، وابښه) گټه اخلي، مالونه روزي او په نتیجه کې ولس ته غوښه، پوست، وړی، کولمې، لبنیات، غوړي، حیواني سره، د سونگ مواد... وړاندې کوي. که دوی نه وای دولت او خلکو به دغه ضروري حیاتي مواد واردولای او اسعار به بهر ته پر تلای. خو حکومتونو د دوی سره د هیواد د نورو طبقو په تناسب هیڅ مرسته نه ده کړې؛ حتی د هیواد په سیاسي حیات کې یې ونډه د نورو په نسبت ډېره پیکه ده. د کوچیانو تولیدي ظرفیت باید لوړ سي، ښه نسل مالونه، د حیواناتو دواء، وترنري تسهیلات، په اسانه شرایطو پور، اولاد ته یې فزیکي او آنلاین تعلیم، لمریزه برېښنا، د لبنیاتو اړوند وسائل، فني لارښوونه او نوري لازمي مرسته ورسره وسي.

## د صنعتي سکتور وده

اوسنی پرمختللې نړۍ صنعتي ده. موږ ته اوس ښه فرصت دی چې خپل صنعت ته وده ورکړو او د هغه له لارې زراعت او مالداري مخته بوځو او د دنیا سره د متقابلې همکارۍ او نسبي گټې پر بنیاد اقتصادي مراودات وکړو. خو په دغه لار کې موږ ته پراته مشکلات عبارت دي: د پانگې، پانگونې، انرژۍ، زیربنائي تاسیساتو او فني کدرونو کمبود، د معدنیاتو ناکافي سروې او د استخراج د پوهې او وسائلو کمی.

له ښه مرغه دغه ټول مشکلات په تدبیر او صادقانه کوښښ حل کیدای سي. مثلا،

(۱) په صنعت کې پانگونه یا سرمایه گذاري باید د بازار سره مستقیما رابطه ولري. د اقتصادي اولیتونو پر بنیاد دې پانگونه وسي. پانگوال او دولت د بازار موندلو په لار کې له سفارتونو او شخصي تشبثاتو څخه مرسته غوښتلای سي.

(۲) د صنعتي پارکونو ایجاد.

(۳) د لویو صنایعو څنگ ته د کوچنیو صنائعو تقویې ته جدي توجه وسي. په کلیو کې دې په کورونو کې د مونتاژ او اسمبلي کار وسي (مثلا، د بایسکل، موترسایکل، پنکه، کولر، کمپیوتر، کامره، موبایل، تلویزیون، ... پرزې له خارج راوړل سي او په کلیو کې په کورونو کې سره واچول سي. حکومت دې په دغه لار کې ابتکار وکړي. جنوبي کوریا، جاپان، اندونیزیا او مالیزیا په دغه کار کې ډېر مخته تللي دي؛ د هغوی له تجربو دې گټه واخیستل سي.

(۴) صنعتي بانک دې جوړ او تقویه سي چې صنعتکارانو ته اسانه پور او فني مشورې ورکړي. د صنعتي بانک یوه څانگه او یا یو مستقل بانک دې جوړ سي چې کلیوالو ته پر زراعت او مالدارۍ ولاړ د کوچنیو صنایعو لپاره په اسانه شرایطو پور ورکړي.

(۵) دولت دې د صنعت د تقویې لپاره په هره برخه کې د صنعتکارانو او د اقتصاد پوهانو مشترکې اداري جوړې کړي چې د هغوی په مشوره دولت او صنعتکاران په همږغي د ملي اقتصاد په تقویه کې رغنده ونډه واخلي.

(۶) د مختلط اقتصادي نظام په چوکات کې دې کانونه استخراج سي. که د بهرنیانو سره گډه سرمایه گذاري کیږي، نو بیا دې د ۵۱:۴۹ په تناسب سرمایه گذاری وسي چې مالکیت د افغانانو په لاس کې وي. خو که په داخلي سرمایه زموږ کانونه راایستل کیږي، هغه ته داسې مقررات جوړ سي چې عامه منفعت پکې تامین سي. د کانونو استخراج دې په هیواد کې د لویو او کوچنیو صنایعو د تقویې سبب سي چې داخلي تولیدات تقویه او فني پرسونل تربیه کړه سي. کوشش وسي د کانونو اومه مواد بهر ته ولاړ نه سي.

## د تجارت او خدماتو سکټور تقویه کول

افغانستان په وچه کې راګیر هیواد دی چې د تجارت وده او اقتصادي انکشاف یې تر ډېره د ګاونډیانو په همکارۍ پورې اړه لري. خو د نړیوالو قوانینو په اساس موږ بحر ته د رسیدو خاص امتیازات لرو، چې باید له هغه استفاده وسي. افغانستان بحر ته لار نه لري، هوا زموږ بحر دی چې د نړۍ سره مو نښلوي. موږ باید خپل ملکي هوايي چلند پیاوړی کړو. آریانا هوايي شرکت باید حتما تقویه سي. خپل کارګو ته جدي توجه وکړو. که نور هوايي شرکتونه را غواړو، زموږ هدف باید په نهایت کې د خپل هوايي چلند تقویه وي.

همدارز، موږ د نړیوال تجارت سازمان (ډبلیو تي او) غړي یو. موږ د ټولې نړۍ سره تجارت کولای سو؛ خو لویه ستونزه داده چې زموږ صادرات معیاري نه دي او په نړیوال بازار کې رقابت نشي کولای. دولت باید دغه مهمې موضوع ته جدي توجه وکړي. په مورد یې لاندې تدابیر په کار دي:

(۱) نورم او ستندرد ته ډېره توجه وسي څو زموږ مالونه نړیوال بازار ته لار ومومي.

(۲) پر زراعتي او مالداري صادراتو محصول هیڅ یا کم سي.

(۳) د هغو شیانو پر وارداتو قدغن، قیود او یا لوړه مالیه کښېښوول سي کوم چې په دننه هیواد کې تولیدیږي.

(۴) د تجارت وده او د تجارانو ملاتړ دي وسي؛ خو چې مستهلک متضرر نه سي.

(۵) د تجارت، خدمات، نورم او ستندرد په موضوعاتو کې اړوند خلکو او مؤسساتو ته لازم تعلیم ورکول.

(٦) د شخصي او دولتي ترانسپورت ملاتړ او ښه مدیریت. مواصلاتي لارې او مناسب ترانسپورت چې د صادراتو او وارداتو په انتقال کې مهم رول لري، جدي توجه غواړي. موږ باید لیرې پرتې سیمې چې د تولید منابع دي د ښارونو او تجارتي مرکزونو سره ونښلوو. د دې لپاره چې تازه میوه مو پر سرحد یا بحري بندرونو ته په انتقال کې خرابې نه سي، د سړو لاریو ترانسپورتي نظام باید رامنځته سي. دا کارونه د سرمایه ګذاریو په تشویق کیږي. موږ باید ایران ته د اوبو په بدل کې د ۱۳۵۱هـ ش تړون مطابق په چابهار کې د آزاد بندر تسهیلات ترلاسه کړو څو زموږ مالونه ببله ځنډ او ځنډ خلیج هیوادونو ته ولاړ سي. همداسې د ترکمنستان څخه د اوبو په مقابل کې تیل او غاز او د پاکستان څخه د دوه اړخیز ترانزیت سهولتونه وغواړو. په بهر کې زموږ تولیداتو ته د بازار موندولو په برخه کې سفارتونه وهڅول سي.

## د تعلیمي نظام مثمر کول

زموږ تعلیمي نظام دې زموږ د عملي ژوند سره نژدې اړیکې ولري. خلکو ته باید د ژوند په چارو کې د تعلیم ګټه ورسیږی. مدارس، پوهنتونونه او علمي مؤسسات دې د زراعت، صنعت، تجارت، خدمات او معیشیات سره مستقیماً په رابطه کې وي. زموږ تعلیم باید په عمل کې ګټور وي او د خلکو پر ژوند مثبت اثر ولري.

(۱) د مدارسو پر نصاب بیوه کره کتنه په کار ده څو د ژوند د ښه تنظیم او بهبود سره مرسته وکړي.

(۲) مسلکي او حرفوي روزنې ته ډېره توجه په کار ده. دا د تعلیم ډېره اهمه ساحه ده چې تراوسه کافي توجه نه ده ورته سوې. په هر ولایت کې دې د مسلکي او حرفوي روزنې مجهز ښوونځی او مرکز جوړ سي. په دغه برخه کې جرمنیانو زموږ سره پخوا ډېره مرسته کړې ده، کیدای سي د مراجعې په صورت کې یې بیا وکړي. جاپان او جنوبي کوریا هم مرسته کولای سي. موږ کولای سو په مسلکي او حرفوي روزل سوو ځوانانو لومړی خپل داخلي اړتیاوې پوره کړو او تر داخلي ضرورت زیات همدغه فني، مسلکي او حرفوي ماهرین د یو آبرومنده قرارداد پر بنیاد بهرنیو هیوادونو او د خلیج ملکونو ته د کار لپاره واستوو.

## افغانستان د څلور لارې په توګه فعالول

تیر یونیم سل کاله افغانستان د شرق و غرب، شمال او جنوب ترمنځ یوه حائله منطقه وه، چې نړیوالو ورته بفر زون وایه. له ټولې نړۍ د اورګاډي پټلۍ زموږ تر سرحداتو رارسیدلي دي (په شمال کې له جنوبي کوریا او چین څخه زموږ د شیرخان بندر پورې؛ په یوروپ کې له اوسلو، هلسنګي او ماسکو څخه زموږ تر حیرتان، آقینه او تورغونډۍ پورې. په غرب کې له پاریس، مادرید، استانبول او تهران څخه زموږ تر اسلام کلا او سیستان پورې. په شرق کې له سینګاپور، تایلنډ، مالیزیا، بنګله دیش، هند او پاکستان څخه زموږ تر تورخم او سپین بولدک پورې). تول چې زموږ حدود ته رارسیدلي دي، بند دي. زموږ په خاوره کې د اوسپنې پټلۍ نسته. زموږ دغه حالت د نړۍ تجارت او نړیوال اتصال متضرر کړی دی. موږ له ځان او نړۍ سره بد کړي دي چې دغه مهمه نړیواله څلور لارې مو د ځان او نورو په خیر نه ده فعاله کړې. او د دنیا غټو طاقتونو هم زموږ او ځانو سره پر دغه څلورلارې د مسلسلو تهاجمونو او تخریب په سبب بد کړي دي. اوس موږ ته پکار ده، چې افغانستان د حائل (بفر زون) پر ځای د اتصال مرکز (هب آف کونیکټیویټي) وګرځوو چې موږ، سیمې او نړۍ ته یې لوی خیر ورسیږي. دا به زموږ د امنیت او ثبات په تامین او اقتصادي پرمختګ کې لوی کردار ادا کړي. په دغه لار کې لاندې څو مشخص کارونه په کار دي:

(۱) د اورګاډي پټلۍ له مرکزي ایشیا سره زموږ د سرحد (شیرخان بندر، حیرتان، آقینه او تورغونډۍ) څخه بیا د تورخم، غلام خان، واېه او سپین بولدک له لارې و پاکستان ته غځول. په هیواد کې د اورګاډي د پټلۍ یو حلقوي سرک جوړول او ایران ورسره نښلول. په دغه منظور په دننه هیواد کې د ډبرو د سکرو او اوسپنې د معادنو استخراج او د سمنټ تولید ته وده ورکول کوم چې د رېلګاډي د پټلیو په جوړولو او غځولو کې مهم نقش لري. په دغه لار کې د جاپان، جنوبي کوریا او ځینی نورو هیوادونو څخه مرسته غوښتل کیدای سي.

(۲) د اورګاډي د پټلۍ او سړکانو په جوړولو کې د خارجیانو سره زموږ پانګوال ملګري کول.

(۳) په معادن او اورګاډي کې د خارجي مسلکي کسانو تر نظر لاندې سرمایه ګذاري کول.

(۴) لویې پروژې او ثقیله صنائع داخلیانو او بهرنیانو ته په ګډه په طویل المدة اجاره ورکول او کرار کرار د بهرنیانو رول پکې کمول او بالاخره دغه صنائع افغانانو ته سپارل.

(۵) اړونده قانوني، تعلیمي، مسلکي او خدماتي تسهیلات برابرول

(٦) د څلور لارې په توګه زموږ د هیواد جغرافیایي موقعیت داسې تنظیمول چې د سیمې هیوادونه او نړیوال پرې مطمئن وي، ټول یې فعال ساتل خپل په خیر وګڼي او زموږ تجارت او اقتصاد وده پرې وکړي.

په درښت!

# د اوبو د چارو د تنظیم قانون ارزونه

لیکنه: استاد برکت الله آریوبی

د اوبو چارو تنظیم قانون د ۱۳۹۸ کال ۹میاشتي په ۲۷ مه نېټه د ملي شورا د دواړو مجالسو ګډ هیئت له لوري تصویب او د همدې روان د دلوې میاشتې ۲ نېټه باندې د وخت جمهور رئیس تر توشیح کیدو وروسته نافذ شو. د افغانستان اسلامي امارت په واکمنېدو په هېواد کې د ډېریو قوانینو حقوقي وضعیت مشخص نه دی، خو هغه څه چې واضح شوي دادي چې اسلامي امارت منلې هغه قوانین به پلې کوي، چې د اسلامي شریعت سره تناقض ونه لري. په غالب ګمان د اوبو چارو تنظیم قانون هم هغه قانون دی چې د اسلامي شریعت سره تطابق لري او ظاهرا نافذ دی. په دې لنډه لیکنه کې هڅه شوې چې د اوبو چارو تنظیم قانون په لنډه توګه معرفي او ارزونه وشي تر څو راتلونکې لپاره نیمګړتیاوې یې پوره او د بشپړ پلې کېدو پر لور مناسب اقدامات ترسره شي.

کابو هر هېواد د خپلو اوبو تنظیم او مدیریت لپاره په ملي کچه قانون یا د اوبو کوډ لري چې په کې د اوبو تنظیم او مدیریت په اړه حقوقي چوکاټ توصیف او تعریف شوی وي.

په افغانستان کې په لومړي ځل د افغانستان اسلامي امارت د مخه په ۱۹۹۱ کې د اوبو قانون تصویب شو. له دې مخکې په هېواد کې د اوبو مسایل په جدي توګه نه وه مطرح شوي او دا په داسې حال کې ده، چې زموږ ګاونډیو په ځانګړې ډول ایران ډېر پخوا د خپلو اوبو منابعو مدیریت په اړه حقوقي چوکاټ تعریف کړی وو. پاکستان چې په ۱۹۴۷ کې رامنځته شو د ۱۹٦۰ کال مخکې یې د اوبو په اړه قانون او پالیسي رامنځته کړه چې د همدې حقوقي چوکاټ په رڼا کې یې د هند سره د اندوس سیند پر سر هوکړه لاسلیک کړه. د منځنۍ آسیا جمهوریتونه چې د ۱۹۹۰ م کال وروسته رامنځته شول، د اوبو په اړه یې حقوقي اډانه راوسته ایجاد کړه. په هېواد کې د اوبو لومړني قانون ۵۴ مادې او ۷ څپرکې درلودل. په لومړی برخه کې یې د اوبو څښتنان خلک بلل شوي وو او دولت یې تر مخه مکلف وو، چې د اوبو منابعو حفاظت او ساتنه وکړي. همداراز د دې موادو له مخې؛ ټول نهادونه( دولتي او خصوصي) سیاسي او اداري، مکلف وو چې اوبه د همدې قانون او رایج عرف له مخې مدیریت او تنظیم کړي.

په دویم څپرکي کې د اوبو سرچینې مدیریت د حکومت دنده بلل شوې وه او همداراز د زراعت سکتور ته د ځانګړې مقدار اوبو بېلولو پکې ویل شوي وو. د دې فصل موادو ترمخه، دولت به د زراعتي سیستم پیاوړتیا لپاره کافي اوبه ځانګړې کوي او زیربنایي اوبېزې پروژې یواځې د دولت تایید څخه ورسته تطبیق کېدای شوې. په دریمه برخه کې یې د حقابې مشخص میکانیزم توصیف او تعریف شوی وو، چې پکې د زراعت، څمکې خاوندانو، او په محلي کچه د اوبو ګټه اخیستونکو ډلو حقابې تعریف شوې وې.

د دې قانون په څلورمه برخه کې د غیر زراعتي مقاصدو لپاره د اوبو ځانګړې کول راغلي وو، چې له مخې یې اوبه څنګه د څښاک، صنعت، زیربنایي پروژو او ...لپاره استعمال شي. پنځمه برخه یې د اوبو منابعو حمایت او حفاظت لپاره ځانګړې شوې وه؛ په ځانګړې توګه دولت به د اوبو منابعو ککړېدو مخنیوې په موخه لازم اقدامات ترسره کوي. شپږمه برخه یې د اوبو منابعو څخه راپورته کېدونکي شخړو ته ځانګړې شوې وه؛ او د هواري میکانیزم یې تعریف کړی، همداراز د هغو اشخاصو مجازات پکې پیشبیني شوي وو چې د نورو وګړو اوبو حق ته صدمه رسوي. وروستنې فصل یې دوه مادې درلودې چې نهایي احکام پکې ذکر شوي وو.

د اوبو اوسنی (نافذ قانون)په ۲۰۰۹ م کې د ملي شورا تر تصویب وروسته اجرایي شو. دغه قانون ٦ څپرکي او ۴۰ مادې لري، چې په لومړي فصل کې عمومي حکمونه ذکر شوي دي، په دویم فصل کې د اوبو له سرچینو څخه د ګټې اخیستنې تنظیم او اداره، دریم څپرکي یې د سیندنیزو حوزو اداري او شوراګانو ته ځانګړی شوی، څلورم هغه یې د اوبو څخه ګټه اخیستلو موضوع بررسي کوي، پنځم یې د اوبو سرچینو ساتنه، حفاظت او شپږم څپرکي یې د اختلافاتو حل ته ځانګړی شوی دی.

ولې نوی قانون؟ د ۱۰ کالو تنفیذ وروسته اوس شدیده اړتیا حسابیده چې دا قانون تعدیل شي. د اوبو نافذ قانون لږ تر لږه لاندې نیمګړتیاوې لري: د اوبو مالکیت د څو ادارو په لاس کې دي، د اوبو منابعو په مدیریت کې وظیفوي تداخل شتون، تشکیلاتي تورم او پراګنده ګې، د وخت او بودجې ضایع کېدل، د قانون د تطبیق میکانیزمونو نه شتون، د اوبو اقتصادي ارزښت ته نه پاملرنه، د اوبو په تخصیص کې د لومړیتوبونو نه مشخص والی، د اوبو منابعو په مدیریت کې د خصوصي سکتور ونډې ته نه پاملرنه، د قانون د متن ابهام او مغلقتیا، د قانون د موادو تسلسل او انسجام نه شتون، د اوبو سرچینو په مدیریت کې د محلي نهادونو کثرت او داسې نورې ستونزې وې چې بلاخره حکومت په ځانګړې توګه د اوبو او انرژي وزارت اړ شو چې د نوموړي قانون تعدیل طرح چمتو او ملي شورا ته یې د تصویب لپاره ولېږي.

د تعدیل طرحه یې د اوبو او انرژي وزارت په ځانګړې توګه د اوبو حقوقو ریاست له لوري طرحه او مسوده یې د تدقیق وروسته ملي شورا ته استول شوی ده.

که د اوبو نافذ (۲۰۰۹) قانون او اوسنی د اوبو چارو تنظیم قانون سره پرتله کړو نو په لنډه توګه ویلای شو چې لاندې موارد یې د توپیر ټکي تشکیلوي.

د نوي قانون طرحې لاندې تغیرات او نوښتونه په نظر کې نیولي دي:

- د (انرژي او اوبو وزارت) نوم یې په (اوبو او انرژي وزارت) بدل کړی؛
- د (اراضي، اوبو او چاپیریال ساتنې عالي شورا) یې په (اوبو، اراضي او چاپیریال ساتنې شورا) اړولې؛
- د یوې قوي اداري نهاد رامنځته کول د (داوبو چارو تنظیم کونکې اداري) په نوم نومول شوې ده؛
- د اوبو لګولو، اوبه رسولو، میرآب سیستم، د اوبو په نوي بنه ګټه اخیستنه، د اوبو استفاده کوونکو انجمنونه

A.Dan Tarloc, The law of later-developing riparian states: the case of Afghanistan,iit Chicago- Kent college of law, dtarlock@kentlaw.iit.edu,p.731

يې سره مدغم کړي تر څو د اوبو منابعو مديريت په واحده اداره کې ترسره شي؛

- د شاه وخوا ۲۰ نويو مقرراتو وضع کولو تجويز ورکړل شوی تر څو د اوبو منابعو تنظيم په ښه ډول ترسره شي؛

- د اوبو چارو ښه تنظيم په موخه يې د اوبو قواعدو او مقرراتو مجموعه د (اوبو کوډ) پيشبيني کړی؛

- د اوبو خدماتو قيمت اېښودل؛

- د اوبو منابعو تخصيص لومړيتوبونه په ګوته کول؛

- په افغانستان کې د اوبو تنظيم او مديريت عنعنوي سيستم په معياري هغه بدل شوی؛

- د رسمي او خصوصي سکتور له لوري د اوبو څخه د ګټه اخيستلو په اړه د موافقې او اجازې اخيستنه يې تجويز کړې؛

- د اوبو منابعو تنظيم په موخه يې خصوصي سکتور ته د پانګه اچونې زمينه مساعده کړې ده.

د نوي قانون مسوده ٦ برخې لري چې لومړی برخه يې عمومي احکام، دويمه برخه يې ښه حکومتولي، دريمه هغه يې د اوبو منابعو تنظيم، څلورم يې د اوبو تنظيم او توزيع، ميکانيزم؛ پنځمه برخه يې د اړوند او ذيدخلو اداراتو همغږی ته ځانګړې شوي او آخرنی برخه يې متفرقه احکامو ته ښېله شوې چې منازعات، د سيند حريم، جرايم او مجازات او د مقرراتو وضع کولو تجويز يې، مهمې برخې دي.

لومړی فصل يې عمومي حکمونو ته ځانګړی شوی چې د قانون طرح کولو اهداف پکې بيان شوي، تخنيکي اصطلاحات تعريف شوي او د اوبو څخه د ګټې اخيستلو قانوني اصول يې په لاندې توګه بيان کړي:

الف) پاکو او صحي اوبو ته د لاسرسي حق؛

ب) د اوبو منابعو هراړخيز مديريت( IWRM)

ج)د اوبو څخه د ګټې اخيستنې لومړيتوبونه؛

همداراز د دې قانون پلي کولو اصلي مرجع يې د اوبو او انرژۍ وزارت ښودلی دی.

دويمه برخه يې د اوبو ښې حکومتولی ته ځانګړې شوې چې لاندې نهادونه پکې شامل دي:

الف) د اوبو، اراضی او چاپيريال ساتنې شورا؛

ب) د اوبو او انرژۍ وزارت؛

ج) د سيندېزې حوزې عمومي شورا؛

د) د سيندېزې حوزې فرعي شورا؛

هه) د اوبو ګټه اخيستونکو اتحاديه؛

ک) ميراب سيستم.

دريمه برخه يې د اوبو منابعو تنظيم ته اختصاص شوې چې لاندې موارد يې پکې تر بحث لاندې نيولې دي:

الف) د اوبو د منابعو پلان جوړونه؛

ب) د اوبو منابعو څخه مؤثره او اقتصادي ګټه اخيستنه؛

ج)د اوبو خدماتو عرضه په زراعتي، سياحتي، چاپيريال ساتنې، انرژۍ توليد، کښتۍ چلولو او... برخو کې پرې بحث شوی

څلورم څپرکی يې د اوبو توزيع او تنظيم ميکانيزم ته ځانګړی شوی:

۱. د څښاک اوبو استفاده کولو ميکانيزم؛

۲. د زراعتي اوبو استفادې ميکانيزم؛

۳. د صنعت، معدن او کب روزلو، په موخه د اوبو استفادې ميکانيزم؛

۴. د چاپيريال ساتنې په موخه د اوبو استفاده کولو ميکانيزم؛

۵. د اطلاعاتو او کلتور وزارت په مرسته د سياحت لپاره د اوبو استفاده کولو ميکانيزم؛

٦. هغه پوله تيريدونکې اوبه چې په معاهداتو کې شتون نه لري په جلا مقرره کې تنظيميږي؛

۷. د څو اړخيزو استفادو لپاره د اوبو ميکانيزم؛

۸. د فاضله اوبو تخليې ميکانيزم؛

پنځمه برخه يې د اداراتو او نهادونو ترمنځ همغږي ته ځانګړې شوې چې د اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت، معادن او پطروليم وزارت، صنعت او تجارت وزارت، ښارجوړونې وزارت، ښاروالي او نورې اړوند اداري مکلفې دي چې د اوبو اړوند فعاليتونو چارې د اوبو او انرژۍ وزارت سره په همغږی تنظيم کړي.

شپږم څپرکی يې متفرقه احکامو ته ځانګړی شوی چې پکې لاندې مسايل ارزول شوي دي:

الف) د اوبو څخه رامنځته کېدونکې منازعاتو ته رسيده ګي کول؛

ب) د اوبو منابعو بستر او حريم مصؤنيت؛

ج) د اوبو منابعو کوډ؛

د) د اوبو منابعو تنظيم په موخه د مقرراتو او طرزالعملونو وضع کول.

سره له دې چې د اوبو تنظيم قانون تر اوسه نافذ نه دی، خو تمه ده چې د مشرانو جرګې تر تصويب وروسته يې ولسمشر ژر توشيح او په دې توګه په رسمي جريدې کې د خپراوي وروسته نافذ شي. دا قانون به د اوبو مديريت په برخه کې واضح او روښانه ليدلوری رامنځته او په واحده اداره کې به اوبه مديريت شي؛ د اړوند نهادونو ترمنځ همغږي به لا زياته او په پای کې د اوبو منابعو مديريت په سازماني ښه(چې پکې واک او صلاحيتونه غيرمتمرکز کيږي او د ټولنې ټول وګړي او قشرونه د اوبو منابعو په مديريت کې سهيم واوسي)، اداره شي.

د ګنو ښېګڼو سره سره دا قانون ځينې نيمګړتياوې هم لري چې مهمې هغه يې په لاندې ډول دي: د اوبو استعمال لپاره د محدوديت نشتوالی؛ هغه څه چې په نافذ قانون کې ورته واضحه اشاره شوې ده؛ د اجرايوي ضمانت نشتوالی او د ځينو کلماتو ګونګ والی، د ژبنتو ډيرو مقررو پيشبيني چې په پايله کې يې د قانون ماهيت تر پوښتنې لاندې راوستی او داسې نور يې مهم هغه دي. همداراز د دې قانون د تطبيق په مخ کې جدې خنډونه هم شتون لري چې عبارت دي له : د کافي سازماني ظرفيت نه شتون، د عيني شرايطو نه مساعدتيا، بې ثباتي، د نړيوالې ټولنې له لوري د افغانستان اسلامي امارت تحريم د عامه پوهاوي نشتون، د منسجمو اداري نهادونو رامنځته کولو پر وړاندې خنډونه، بې ځايه اداري پيچلتياوې، د افغانستان په پرمختايي ستراتيژۍ کې د اوبو سکتور ته ډير اهميت نه ورکول او داسې نور....

په ټوله کې د افغانستان اوبو منابعو منسجم او واحد مديريت لپاره د دې قانون تصويب ښه زيری دی، خو دا د کار پای نه دی؛ حکومت ته په کار ده، چې هغه خنډونه چې د دې قانون تطبيق پر وړاندې شتون لري، د ليرې کېدو په موخه يې کوټلي ګامونه واخلي او په دې توګه د قوانينو او پاليسيو عملي تطبيقي اړخ ته اړينه پاملرنه وکړي.

د اوبو چارو تنظيم قانون مسوده، ۱۳۹۸، د انرژی او اوبو وزارت۱

# د ځــمــکـــې په کــره کــې د اوبو شـــتــون

لیک محمد خان « غورځنګ»

په تیر پسې ( پنځمه برخــه)

## د افغانستان د اوبو حوزې

افغانستان د اوبو پنځه سترې سـنـدیـزې حوزې او ۳۶ فرعي سـنـدیزې حوزې (مرستندویه سیندونه) لري. پینځه سترې سـنـدیـزې حوزې: (آمو سیندیـزه حوزه، هریرود-مرغاب سیندیزه حوزه، هلمند سیندیزه حوزه، کابل سیندیزه حوزه او د کابل په شمال کې بهېدونکي سیندونه دي، چې د شمال سندیزه حوزه هم بلل کېږي).

### د آمو سیندیـزه حوزه:

آمو حوزه د ارال بحیرې د سترې حوزې څانګه ده. پنج-آمو سیند د پامیر له غرونو سرچینه اخلي او شاوخوا ۲۲۷۸۰۰ کیلومتره مربع سیمه تر پوښښ لاندې لري . دا سیند دوې اساسي شاخې لري. شمالي هغه یې د پامیر سیند دی، چې د پامیر غرونو له لوړې څوکې (زورکول) څخه سرچینه اخلي او د افغانستان او تاجکستان ترمنځ ګډه پوله جوړوی . سویلي شاخه یې واخان سیند دی، چې له چقمقتین جهیل څخه سرچینه اخلي. دا دواړه سیندونه د قلعه پنج په لوېدیځ کې سره یو ځای کېږي او د پنج په نوم سیند جوړوي او تر علي خانوم پورې غځېږي. له کوکچې سیند سره له یو ځای کېدو وروسته آمو سیند جوړوي؛ شمال ختیځ لوري ته بهېږي او له خم‌آب څخه له تېرېدو وروسته په ازبکستان کې ارال بحیرې ته ورتویـږي.

آمو سـنـدیـزه حوزه د مساحت، کلنیو اوبو اوسط مقدار، په دې حوزه کې مېشت نفوس او په کرنیز سکتور کې یې د ونډې له پلوه د افغانستان له پنځو سترو اوبیزو حوزو شمېرل کېږي. دغې حوزې په افغانستان کې د اوبو د ټولو حوزو ۱۴٪ سلنه سیمه اشغال کړې ده. همدا راز د افغانستان ۱۴٪ سلنه نفوس تر دې حوزې لاندې راځي او په هېواد کې د ټولې کرنیزې ځمکې ۲۳٪ سلنه یې له دې حوزې خړوبېږي. د دغې حوزې د اوبو کلنی کچه ۲۲ ملیارد متر مکعب تخمین شوې ده.

د تخمینونو له مخې، د پنج-آمو سیندیزی حوزې په دښتو کې د ورښتونو کلنی کچه 336ملي متره ده، چې د افغانستان د اوبو د نورو حوزو له کچې زیاته ده. په افغانستان کې د آمو سندیزې حوزې د اوبو اخیستلو سیمه ۹۰۶۹۳ کیلومتره مربع ده، چې د ټولې حوزې ۲۷٪ سلنه اوبه ترې ترلاسه کېږي او له تاجکستان وروسته دویم هېواد دی چې دغې حوزې ته ډېرې اوبه ورکوي.

دغه راز، دا سیند په سیمه کې تر ټولو اوږد سیند هم دی، چې ټول اوږدوالی یې ۲۵۴۰ کیلومترو ته رسېږي. ۱۲۵۰ کیلومتره یې له تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان سره د افغانستان په پوله کې بهېږي او په ارال بحیره کې پای ته رسېږي په اوسط ډول یې هر کال ۵,۱ ملیارد متر مکعب اوبه ازبکستان ته بهېږي، ۴۹,۶ ملیارد متر مکعب اوبه یې تاجکستان ته او ۱,۵ ملیارد متر مکعب اوبه یې هم ترکمنستان ته بهېږي. کافرنهان، وخش او نور سیندونه یې مهم مرستیالان بلل کېږي؛ خو د افغانستان په خاوره کې دننه یې پنج، کنذز او کوکچه مهم مرستیالان سیندونه دي.

### د کابل سینـدېـزه حوزه:

کابل سیند د افغانستان یوازېنی هغه سیند دی، چې د اوبو د یوې سترې حوزې (د سند یا اېندوس سیند) شاخه ده او د هند تر اقیانوس پورې رسېږي. دا سیند د افغانستان په شمال ختیځ کې له لوېدیځ څخه ختیځ لوري ته بهېږي او په پای کې د پاکستان له سند سیند سره یوځای کېږي. ټول اوږدوالی یې ۷۰۰ کیلومتره دی، چې ۵۶۰ کیلومتره یې په افغانستان کې بهېږي او پاتې د پاکستان په خاوره کې بهېږي. دا حوزه په افغانستان کې له ۷۶۹۰۸ کیلومتره مربع ځمکې یا د ټول مساحت له ۱۲ سلنه برخې څخه اوبه اخلي او د مساحت له پلوه، له هلمند او آمو سیندونو وروسته د هېواد دریمه ستره اوبیزه حوزه بلل کېږي.

په دې حوزه کې شاوخوا ۱۱,۶ میلیونه تنه (د افغانستان ۳۷٪ سلنه نفوس) ژوند کوي او له همدې کبله د تر ټولو ډېر نفوس لرونکې حوزه ده؛ څکه د شمال په حوزه کې چې دویمه پرنفوسه حوزه ده، په هر کیلومتر مربع کې د نفوس تراکم ۳۹ تنه دی؛ خو په دې حوزه کې بیا دا کچه ۹۳ تنو ته رسېږي او دا چاره د کابل ښار او دغې حوزې د اوو نورو ولایتونو د شاملېدو له کبله ده .

کابل سیند د پغمان د اوونۍ درې له لوېدیزې برخې سرچینه اخلي او د کابل ښار په منځ کې تېرېږي. په بګرامي سیمه کې له لوګر سیند سره، په نغلو کې له پنجشېر سیند سره، د قرغې په سوېل کې له الینګار سیند سره او په کامه کې له کونړ سیند سره یو ځای کېږي. د دغې حوزې د اوبو کلنی کچه ۲۰,۷۶ ملیارد متر مکعب تخمین شوې او د هېواد ٪ ۲۰ سلنه کرنیزه خاوره ترې خړوبېږي .

کابل سیند له خپلو نورو شاخو سره، لکه لوګر، پنجشېر، غوربند، لغمان-علینګار او کونړ سیندونه، په افغانستان کې د شته اوبو د سرچینو شاوخوا ۲۶٪ سلنه تشکیلوي او دا چې میلیونونه افغانان له دغو سرچینو څخه د څښلو، روغتیا ساتنې، کرنې، د برېښنا تولید او صنعت لپاره ګټه اخلي، د پام‌وړ اهمیت لري. د دې حوزې مهمې سیمې، کابل ښار، جلال‌آباد، چاریکار، پل علم، مهترلام او اسعدآباد دي.

په دې حوزه کې د اورښت کلنی اوسط، چې په ۱۹۵۷-۱۹۷۷م کلونو کې تحلیل شوې وه، ۳۳۰ میلي متره وه؛ خو دا حوزه په ژمي کې د یخې هوا او ډېر اورښت لرونکې وي او په اوړي کې بیا ډېره ګرمه وي او د اورښتونو کچه پکې کمه وي. په اوړي کې د دغې حوزې اوبه د واورو له ویلې کېدو څخه لاسته راځي.

### د هلمند سینـدېـزه حوزه:

هلمند سیند د افغانستان ستر او اوږد سیند دی، چې اوږدوالی یې ۱۱۵۰ کیلومترو ته رسېږي او د افغانستان په سوېل لوېدیځ کې بهېږي. د افغانستان د اوبو د ټولو حوزو ۴۱٪ سلنه سیمه په دې حوزه کې راځي، د هېواد ٪ 31سلنه کرنیزه ځمکه او ۲۸٪ سلنه نفوس تر پوښښ لاندې لري او د افغانستان د اوبو د ټولو سرچینو ۱۰٪ سلنه برخه جوړوي. د اوبو اخیستلو ټوله ساحه یې 262341کیلومتره مربع ته رسېږي او په تخمیني ډول هر کال ۹,۳۰ ملیارد متر مکعب اوبه پکې بهېږي، چې په پراخه کچه د اوبو لګونې او برېښنا د تولید وړتیا لري.

د هلمند سیند د کابل په لوېدیځ کې د بابا غرونو د سوېلي برخې له شېلو څخه په ۴۴۰۰ متره لوړوالي سرچینه اخلي. او له ختیځ څخه د لوېدیځ په لور بهېږي. د میدان وردګو ولایت له لوېدیزې پولې څخه له تېرېدو وروسته د بامیانو او اروزګان سوېلي برخو ته ننوځي. د دغه سیند یوه شېله له اوونۍ درې څخه د هلمند په کجکي ولسوالي کې راوتلې ده .د کجکي بند له تېرېدو وروسته نور هم پراخېږي او د برېښنا د تولید لپاره د اوبو د بندونو د جوړېدو مناسبې سیمې لري. په کمال خان سیمه کې د شمال لور ته مسیر بدلوي او افغانستان-ایران پولې ته رسېږي. د پولې په اوږدو کې

په دوو برخو وېشل کېږي. د سیستان شاخه یې کین لوري ته ځي او ایران ته ننوځي او د نادعلي شاخه یې ښي لوري ته اوړي او له ایران سره لوېدیزه پوله جوړوي.

ارغنداب سیند یې تر ټولو مهم مرستیال سیند دی. نور مرستیال سیندونه یې هم ترنک، ادرسکن، ارغستان، فراه رود، خاشرود، سیستان-هلمند، سردې او غزني سیندونه دي، چې په ټول سوېل لوېدیځ کې شاوخوا ۱٤۰ زره کیلومتره سیمې خړوبوي .د هلمند سیند په افغانستان او ایران کې پراخې ځمکې خړوبوي، چې په افغانستان کې یې ۹۷٪ سلنه اوبه په کرنیز سکتور کې او په ایران کې یې ۸۰٪ سلنه په کرنیز سکتور کې لګول کېږي.

**د هریرود – مرغاب سینــدیــزه حوزه:**

د هریرود-مرغاب سـنـدیـزی حوزې دوه اساسي سیندونه هریرود او مرغاب سیندونه دي. دا سیند د بابا غرونو له لوېدیزو څنډو سرچینه اخلي او له افغانستانه له وتلو وروسته ایران او بیا ترکمنستان ته بهېږي. دا سیند ختیځ لوري ته بهېږي او له هرات وروسته لومړی شمال لوېدیځ او بیا شمال لوري ته تاوېږي؛ له اسلامقلعه څخه تر دهنه ذوالفقار پورې د افغانستان او ایران ترمنځ د پولې شمالي برخه جوړوي او وروسته بیا تر سورخس پورې د ایران او ترکمنستان ترمنځ د پولې سوېل ختیزه برخه جوړوي او په پای کې د ترکمنستان په قرقوم دښتنه کې پای ته رسېږي. په هرات کې سلما بند او دغه راز د ایران-ترکمنستان د دوستۍ بندونه پر همدغه سیند جوړ شوي دي.

مرغاب سیند که څه هم د تیربند ترکستان غرونو له لوېدیزو څنډو او د سپین غره له شمالي څنډو سرچینه اخلي او تر ډېره شمال لوري ته بهېږي؛ خو له هریرود سیند سره یو ځای دواړه سیندونه د ترکمنستان د قرقروم دښتې قاسس سیمه کې ماري او تېجېن د اوبو لګونې کانالونو ته تویېږي.

په هریرود-مرغاب سـنـدیـزی حوزه کې هر کال شاوخوا ۳،۰٦ ملیارد متر مکعب اوبه بهېږي او د اوبو اخیستلو ساحه یې ۷۷٦۰٤ کیلومتر مربع ته رسېږي. دا سیند د افغانستان د اوبو د ټولو حوزو ۱۲٪ سلنه، د هېواد د ټول نفوس ۸٪ سلنه او د ټولې کرنیزې ځمکې ۱۱٪ سلنه برخه تر پوښښ لاندې لري.

**د شمال ســنــدیــزه حوزه:**

دا د افغانستان د اوبو یوازېنۍ حوزه ده، چې اوبه یې له کوم بل هېواد سره ګــډې نه دي او د هېواد د اوبو په ټولو حوزو کې هم تر ټولو کمه ونډه لري. د شمال سـنـدیـزی حوزې سیندونه د هېواد د مرکزي غرنیو سیمو له لوړو غرونو سرچینه اخلي او په کلني ډول ۱،۸۸ ملیارد متر مکعب اوبه لري. د اوبو اخیستلو ټوله ساحه یې ۷۰۹۰۱ کیلومتر مربع ده او د هېواد له ټول نفوس څخه ۱۳٪ سلنه، د اوبو د ټولو حوزو ۱۱٪ سلنه او د ټولې کرنیزې ځمکې ۱۵٪ سلنه تر پوښښ لاندې لري.

په دې ســنــدیــزه حوزه کې بلخ، جوزجان، سرپل، فاریاب او سمنګان ولایتونه راځي. مرستیالان یې بلخاب، خلم، سرپل او شیرین‌تګاب سیندونه دي

له ګاونډیو هېوادونو سره د اوبو ستونزې

د افغانستان د اوبو له پنځو حوزو څخه درې یې (کابل-اندوس، هلمند، هریرود-مرغاب) په ترتیب سره له درېو ګاونډیو هېوادونو (پاکستان، ایران او ترکمنستان) سره شریکې حوزې دي او په څلورمه حوزه (آمو) کې د مرکزي آسیا له درېو جمهوریتونو (تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان) سره د هېواد شمال لوري ته ګډه طبیعي پوله جوړوي. له همدې کبله د افغانستان ډېرې اوبه یا خو ګاونډیو هېوادونو ته بهېږي او یا هم له ګاونډیو هېوادونو سره شریکې/ګډې اوبه بلل کېږي .په ټولیز ډول د افغانستان شاوخوا ۹۰٪ سلنه بهېدونکې اوبه په هغو حوزو کې بهېږي، چې د اوبو د نړیوالو حوزو په کتار کې راځي .له ګاونډیو هېوادونو سره ګډې اوبه، له دغو هېوادونو سره د ګډو اوبو په اړه د شخړو لامل هم شوې دي او له نژدې ټولو ګاونډیانو سره په دې تړاو ستونزې شته دي.

**له ایران سره د ګډو اوبو ستونزې**

له نورو هېوادونو سره د شریکو اوبو په برخه کې تر ټولو ډېرې ستونزې، هم په تېر کې او هم اوسمهال، له ایران سره د افغانستان د تر ټولو اوږده او ستر سیند (هلمند) د اوبو په تړاو دي او له همدې کبله د اوبو یوازېنۍ تړون هم له دغه هېواد سره د هلمند د اوبو د وېش په اړه لاسلیک شوی دی. له بده مرغه د دغه تړون شتون هم دا ستونزې په بشپړ ډول له منځه نه دي وړې. له ایران سره د اوبو د وېش د ستونزې ژورتیا ته په کتلو سره، دا موضوع د نورو حوزو په پرتله یو څه ژورې کتنې او څېړنې ته اړتیا لري، ترڅو د دواړو هېوادونو ترمنځ د اوبو په تړاو د شخړو اساسي لاملونه روښانه او حل‌لارې ورته وړاندې شي.

د هلمند د سیند ترڅنګ د هریرود-مرغاب حوزه هم له ایران سره ګډه حوزه ده، چې په اړه یې تراوسه کوم تړون هم نه دی لاسلیک شوی. هریرود سیند د هېواد په لوېدیځ کې ایران ته له داخلېدو مخکې له هغه هېواد سره د افغانستان پوله جوړوي او د افغانستان له خاورې له وتلو وروسته لومړی ایران او بیا ترکمنستان ته بهېږي؛ خو مرغاب سیند بیا نېغ په نېغه له افغانستانه د ترکمنستان قرقوم دښتې ته بهېږي او افغانستان له دغه سیند څخه ډېره لږه ګټه پورته کوي؛ له همدې کبله د ګډو اوبو په تړاو د بحثونو ډېره لږه برخه هم جوړوي

د ۲۰۱٦م کال په جنوري کې ایران ته د افغانستان حکومی چارواکو د سفر پر مهال له ایراني چارواکو سره هوکړه وشوه، چې د هریرود سیند د اوبو د وضعیت او ورتیا په تړاو د څېړنو لپاره به ګډه کارډله جوړوي تر څو د نړیوالو قوانینو له مخې له دغو اوبو عادلانه کار اخیستنې ته لاره هواره شي. همدا راز د هلمند سیند د اوبو په اړه ۱۹۷۳م کال تړون د هر اړخیز پلي کېدو او په دې تړاو د اړوندو مسؤولینو پر منظمو ناستو هوکړه وشوه، خو تراوسه په دې تړاو عملي اقدام نه دی شوی .د هریرود سیند د راتلونکي وضعیت په تړاو مشخصې وړاندوینې نشته؛ خو په هرات ولایت او د ایران په اړخ کې د اوبو تقاضا مخ په زیاتېدو ده، کوم څه چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د اوبو پر اړیکو پاموړ اغېزې ښندي .ترڅنګ یې په وروستیو کلونو کې پر دغه سیند د هند له لوري جوړ شوي سلما بند د پروژې بشپړېدو هم د دواړو هېوادونو ترمنځ د ګډو اوبو موضوع لا ډېره توده کړه

**له ایران سره د اوبو د شخړې مخینه**

له ایران سره د هلمند د ګډو اوبو په تړاو ستونزې په نولسمه پېړۍ کې د لویــې لوبې مهال ته رسېږي او تر هغه وروسته څو ځله د دغو اوبو په تړاو هوکړې هم وشوې. لومړی ځل په ۱۸۷۱م کال کې د برېتانوي افسر جنرال فربدریک ګولډزمېډ د افغانستان او ایران ترمنځ د هلمند دلتا په اوږدو کې ګډه پوله وټاکله؛ خو د اوبو د وېش په تړاو یې څه پرېکړه ونه کړه. په ۱۹۰۵م کال کې یو ځل بیا بریتانیا په دې قضیه کې مداخله وکړه او د برېتانیا استازي هنري مکمهن د دواړو هېوادونو ترمنځ هماغه د ۱۸۷۱م کال تازه کړه؛ خو دا ځل یې د اوبو وېش هم وکړ. نوموړي د هلمند سیند له دریو څخه دوې برخې اوبه یې افغانستان ته ورکړې او یوه برخه یې ایران ته ورکړه. تر ۱۹۳۰م کال پورې همدا تړون عملي شو؛ خو کله چې وچکالي زیاته شوه دا قضیه یو ځل بیا د ایران او افغانستان ترمنځ جنجالي شوه. په ۱۹۳۹م کال کې د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر او په کابل کې د ایران د سفیر ترمنځ بیا تړون

لاسلیک شو، چې له مخې یې دواړو لورو ته مساوي اوبه ورکړل شوې. په دواړو اړخونو کې د بې‌باوریو او کانالونو او بندونو جوړولو له کبله د دغه تړون نه عملي کېدل د دې لامل شول، چې په ۱۹۷۰م کلونو کې بیا د اوبو قضیه د دواړخیزو اړیکو توده موضوع وګرځي، چې بالاخره د محمد ظاهر شاه د واکمنی په دوره کې، د افغانستان له لوري لومړي وزیر محمد موسی شفیق او د ایران له لوري لومړي وزیر امیر عباس هویدا د اوبو د نړیوالو قوانینو پر بنسټ، د ۱۹۷۳م د مارچ په ۱۳مه د هلمند د اوبو دوه‌اړخیز تړون لاسلیک کړ، چې د همدغه کال د مې په ۳۰مه د افغانستان په پارلمان کې تصویب هم شو او نور ټول قانوني مراحل یې بشپړ شول.

## د ۱۹۷۳م کال تړون او ایران ته د ورتلونکو اوبو کچه

د ۱۹۷۳م کال تړون له یوې خوا د دواړو هېوادونو د لومړیو وزیرانو له لوري لاسلیک شوی او قانوني پړاوونه یې بشپړ شوي او له بلې خوا د دغه تړون د لسمې مادې له مخې، دواړو لورو د یوه دایمي تړون په توګه هم منلی او د هر ډول وضعیت لپاره وړاندوینې لري؛ له همدې کبله دا یو معتبر تړون بلل کېږي.

دا تړون یوه مقدمه او ۱۲ مادې لري. د تړون د دویمې مادې له مخې، افغانستان په اوسط ډول په یوه ثانیه کې ۲۲ متره مکعب اوبه ایران ته ورکوي؛ خو په تړون کې افغانستان د ښه ګاونډیتوب په نیت ۲٦ متره مکعب اوبه دغه هېواد ته منلې دي، چې په کلنې ډول ۸۲۰ میلیون متر مکعب اوبه کېږي او ان که افغانستان وغواړي ٤ متر مکعب اوبه ببرته ګرځولی هم شي. د تړون د پینځمې مادې له مخې، افغانستان به ایران د هلمند سیند له اوبو څخه په بشپړ ډول نه محروموي؛ خو په ورته وخت کې تړون دا هم وایي چې ایران له ټاکل شوو اوبو د زیاتو اوبو په تړاو د هېڅ ډول ادعا حق نه لري او افغانستان چې څه ډول غواړي زیاتې اوبه هغسې کارولی شي،

د افغانستان او ایران ترمنځ شوي تړون د څلورمې مادې له مخې، په کومو کلونو کې چې د وچکالیو له کبله تر عادي کلونو د سیند اوبه کمې وي، د ایران سهم به هم کمېږي. افغان چارواکي وایي، چې په عادي کلونو کې

د ایران ونډه یو پر اته ده؛ خو په وچو او غیر نورمالو کلونو کې یو پر دیارلس ته راټیټېږي .خو دا چې ایا ایران ته له دغه تړون سره سمې اوبه رسېږي او کنه؟ هغه پوښتنه ده چې د دقیق ځواب نشتون یې له ایران سره د ګډو اوبو مسئله پېچلې کړې ده. د دغې پوښتنې د ځواب لپاره مو شته څېړنیز او رسنیز مواد او راپورونه څېړلي او د افغان چارواکو څرګندونو او مرکو ته مو مراجعه کړې ده. له دغې مطالعې مو لاندې دوې پایلې ترلاسه کړې دي:

لومړی :په رسنیزه او سیاسي کچه، ایران ادعا لري چې افغانستان دغه هېواد ته د ۱۹۷۳م کال په تړون کې له مشخص شوي حق سره سم، اوبه نه ورپرېږدي؛ او له همدې کبله وخت ناوخت پر افغانستان فشارونه واردوي. ایراني چارواکي وایي، په افغانستان کې د ډېرو بندونو جوړول او د اوبو مسیر بدلول د دې لامل شوي، چې سیستان ته اوبه ونه رسېږي، کوم څه چې د هامون د وچېدو لامل شوي او په دغه هېواد کې یې اقتصادي او چاپېریالي ستونزې راټوکولې دي؛ خو افغان لوری بیا دا ادعا نه مني او وایي، ایران ته د هلمند سیند د اوبو په ورتګ هېڅ خنډ نشته او افغانستان د اوړدو جګړو له کبله نه دی توانېدلی د دغه سیند له اوبو سمه ګټه واخلي. د افغان چارواکو په وینا، افغانستان د دغه تړون له لاسلیک کولو وروسته تراوسه هېڅ داسې بند نه دی جوړ کړی، چې ایران ته د هلمند د اوبو په ورتګ کې کموالی راولي .افغان لوری وایي، د اوبو کچه له کجکي بند سره نژدې د دهراوود اوبو پېژندنې د دستګاه په وسیله معلومېږي او نورمال او غیرنورمال کلونه تشخیصېږي او ایران هر کال په تړون کې مشخصې شوې اوبه ترلاسه کوي . افغان چارواکي د اوبو د دقیقې کچې له وړاندې کولو پرته ادعا لري، چې ایران په تېرو څلور نیمو لسیزو کې په افغانستان کې د ګډوډیو او د اوبو د نه مدیریت له کبله، په تړون کې تر مشخصې شوې کچې څو چنده زیاتې اوبه ترلاسه کړې دي .په دې تړاو د ځینو راپورونو له مخې، ایران ته په کلنې ډول لږترلږه ۱۸۰۰ میلیون متره مکعب اوبه ورکړل شوې دي. حتی رویټرز د ۲۰۱۸م کال په جولای کې د یوه اړوند افغان چارواکي له خولې لیکلي، چې په افغانستان کې له وچکالۍ سره سره، په تېر یوه کال کې

ایران د هلمند له اوبو درې ملیارد متر مکعب اوبه ترلاسه کړې دي.

دویم :په بل اړخ کې څېړنې بیا ښیي، چې ایران ته د ورتلونکو اوبو کچه نه اندازه کېږي او د هغو اوبو د کچې معلوملو لپاره، چې له هلمند سیند څخه ایران ته بهېږي، دا مهال کوم سیستم او د موادو راټولو بهیر نشته دی؛ څکه په ۱۹۷۰م کلونو کې د امریکا د حکومت له لوري جوړ شوی سیستم د تنظیمی جګړو پر مهال ویجاړ شو.

د څېړنیزو موادو له مخې، د هلمند سیند د اوبو اندازه کولو سیستم د 1940م مې لسیزې په منځ کلونو کې جوړ شو او د ۱۹۷۰م لسیزې تر وروستیو پورې د اوبو اندازه کولو د سایټونو شمېر هم په زیاتېدو و. تر ۱۹۷۸م کال پورې کابو 160ځایه د اوبو د اندازه کولو شبکه موجوده وه؛ خو به هیـواد کی د کورنی تاوتریخوالي له کبله د دغو اوبو د اندازه کولو بهیر ودرېده او د ۱۹۸۰م کال له سپټمبر راوروسته یې په اړه مواد او معلومات نه دي راټول شوي. یو ځل په ۲۰۰۵م کال کې درې مخکښې سټېشنونه ورغول شول او وروسته هم تر یوه بریده کار پرې وشو؛ خو بیا هم د اوبو د جریان او کچې په اړه دقیق معلومات نه دي راټول شوي او د تېرو نژدې څلورو لسیزو مواد نشته دي .که څه هم تر ۲۰۱٤م کال پورې د اوبو اندازه کولو څو نورې دستګاوې هم ورغول شوې، خو د ناامنیو له کبله د موادو راټولولو تر کچې ونه رسېدې. په ځانګړې توګه له ایران سره پر پوله دوه سټېشنونه فعال شول؛ خو دا بیا له ایران سره همغږې شوي نه دي او له لارې یې د راټولو شوو موادو په اړه هم معلومات نشته دي.

له ۱۹۸۰م کال وړاندې مواد ښیي، چې ایران په تړون کې له مشخصې شوې کچې زیاتې اوبه ترلاسه کړې او له همدې کبله ویل کېږي، چې په ۱۹۸٤م کال افغان حکومت یو څېړنیز راپور ایراني لوري ته سپارلی، چې له مخې یې له تړون څخه د ایران سرغړونې په ننبه شوې او ښیي، چې ایران ته هر کال په اوسط ډول په هره ثانیه کې ٦۳ متر مکعب اوبه رسېدلې دي؛ خو له دغې نېټې وروسته کره مواد نشته او دواړه لوري د دغو اوبو د کچې په اړه داسې شمېرې وړاندې کوي، چې له یو بل سره خورا زیات توپیر لري.

پاتې پهٔ را تلوونکې ګڼه کې!

# چالش ها و فرصت های سکتور انرژی در کشور

نویسنده : محمد شریف "ملک زاده"

انرژی برق یکی از حیاتی ترین نیازهای انسان معاصراست که در عصر حاضر جزء لاینفک زندگی مردم شمرده میشود. انرژی در حیات اقتصاد صنعتی جوامع، نقش زیربنائی را ایفا می‌کند. و در حال حاضر اغلب ممالک جهان به نقش و اهمیت منابع مختلف انرژی در تأمین نیازهای حال و آینده خویش پی برده اند. سرمایه گذاری‌ها و تحقیقات وسیعی را در جهت سیاست گذاری، استراتیژی و برنامه‌های زیربنایی و اصولی انجام می‌دهند. اکنون تدوین استراتیژی که متشکل از بررسی تمام پارامترهای تأثیر گذار در انرژی و تعیین راهکارهای مناسب جهت تمیزتر و کاراتر نمودن انرژی و الگوی بهینه مصرف آن می‌باشد، در رأس برنامه‌های زیربنایی اکثر کشورهای جهان قرار دارد.


متأسفانه چالش های موجود در سکتور انرژی در کشور عزیز ما باعث کمبود دسترسی به انرژی برق در کشور گردیده است که این پدیده به صورت مستقیم و یا غیر مستقیم بالای کیفیت زندگی، سطح درآمد، اقتصاد، و رفاه مردم در کشور تأثیرات منفی خود را بجا گذاشته است.

جهت مدیریت مؤثر چالش های موجود در سکتور انرژی لازم است تا در قدم نخست، چالش های موجود بصورت دقیق ارزیابی و بررسی گردیده، طرزالعمل ها و راه کار ها جهت مدیریت این چالش ها طرح و توسعه یابد. تا زمینه برای مدیریت کامل چالش های موجود در این سکتور مهیا گردد.

سکتور انرژی کشور به چالش های متعدد تخنیکی، اقتصادی و مدیریتی روبرو بوده که تعدادی از آنها، ذیلاً مورد بحث قرار گرفته اند:

۳. کمبود انرژی برق در کشور

تقاضا برای انرژی برق در کشور در حال حاضر به شدت رو به ازدیاد بوده که ازدیاد نفوس، توسعه زیربنا های برقی و شبکات انتقالی و توزیعی، و توسعه تکنالوژی عمده ترین دلائِل آن میباشد. در صورت عدم تطبیق موارد لازم، با ازدیاد تقاضای انرژی برق ، کشور دچار کمبود شدید برق خواهد گردید. چنانکه پیشبینی گردیده است، تا سال ۲۰۳۲ مقدار انرژی برقی مورد نیاز کشور ۱۵۹۰۹ گیگا وات ساعت در سال افزایش خواهد یافت(۱).




شکل ۱: گراف پیشبینی انرژی برقی مورد نیاز در کشور (۱)

تامین برقِ دوامدار یکی از چالش‌های است که سکتور انرژی با آن روبرو میباشد. سیاست مدیریتی در گذشته وارد نمودن برق از کشورهای همسایه به قیمت پایین بوده است. به همین دلیل به منابع داخلی و تولید برق در داخل کشور کمتر توجه صورت گرفته است. این سیاست با دلایل متعدد توجیه می‌شد، از جمله دلایل اقتصادی و زمانی، اما هر سال، تقاضا به برق در کشورهای صادرکننده و افغانستان همزمان در زمستان به اوج خود می‌رسد، شهروندان افغانستان، به ویژه در کابل، بسیاری از شب‌ها و روزهای زمستان با مشکل بی‌برقی روبرو می‌شوند، این مشکل سال‌هاست دامنگیر افغانستان می باشد.

در حال حاضر بخش عمده انرژی برق افغانستان از منابع خارجی تامین شده که طبق د افغانستان برشنا شرکت در طول سال‌های گذشته همواره در حدود ۸۵ درصد برق خود را از همسایه‌های شمالی؛ ازبکستان، تاجیکستان و ترکمنستان و ایران وارد کرده است. افغانستان ۱۵ درصد برق مورد نیاز خود را از منابع داخلی خویش تولید می‌کند(۲) که بخش عمده آن در حال حاضر در بندهای بزرگ آبی نغلو، کجکی، سلما، ماهیپر، سروبی و درونته صورت می‌گیرد. بخشی نیز توسط جنراتورهای سوخت دیزلی که عمدتاً از طریق کمک‌های کشورهای خارجی خریداری گردیده، تولید می‌شود. مثال خوب آن نیروگاه بزرگ حرارتی (دیزلی) ترہ‌خیل در کابل می باشد.

منابع داخلی برای تولید برق در افغانستان منابع فُسیلی مانند ذغال سنگ، گاز و منابع تجدیدپذیر مانند آب، باد، آفتاب و غیره بوده ولی در مورد کیفیت و کمیت معادن ذغال سنگ و گاز تا هنوز معلومات دقیق وجود نداشته، هرچند وزارت معادن افغانستان ادعا دارد که این کشور دارای منابع فُسیلی چشمگیر است، اما با توجه به ارقام موجود این منابع دارای کیفیت خوب و کمیت قابل ملاحظه نمی باشد.

منابع تجدید پذیر در این کشور از ظرفیت بالقوه بالای برای تولید انرژی برخوردار است. که طبق آمارهای ادارات دولتی تنها از منابع آبی امکان تولید ۲۳۰۰۰ میگاوات برق وجود دارد که به مراتب بیشتر از تقاضای کنونی برق است. انرژی آفتاب با ظرفیت ۲۲۰۰۰۰ میگاوات و باد با ظرفیت ٦٦۰۰۰ میگاوات می‌توانند اجزای عمده راه‌حل بی‌برقی در این کشور عزیز ما باشد.(۳)

۱. ضایعات انرژی

ضایعات در سکتور انرژی، در واقع مقدار انرژی است که در پروسه تحویل انرژی برقی از تولید تا مصرف متحمل می‌شود. قسمتی از انرژی برقی در پروسه

تولید، انتقال ، تغییر سطح ولتاژ، و توزیع برق تلف میگردد.

یکی ازموارد مهمی که کمتر به‌عنوان ضایعات شمرده می‌شود، تقاضای بیش ازحد مشترکین صنعتی است. بنابراین با اجرای صحیح مدیریت مصرف می توان، بدون پدید آمدن خلل در کار مصرف‌کننده، توان اعظمی مصرف کننده را کاهش داد. ضایعات می‌تواند همانند نیاز به مصرف، باعث افزایش تقاضای برق شود برعلاوه در شبکه همواره ضایعات انرژی ری اکتیف نیز موجود میباشد.

اصولاً ضایعات انرژی از دو مؤلفه عمده تشکیل گردیده است. ضایعات تخنیکی و ضایعات تجارتی، که هریک ذیلاً شرح گردیده است.

ضایعات تخنیکی: عبارت از مقدار انرژی برقی ضایع شده در پروسهٔ تأمین برق می باشد که شامل موارد ذیل اند:

- ضایعات انرژی در جریان پروسه تولید برق.
- ضایعات انرژی در جریان پروسه انتقال برق.
- ضایعات انرژی در سب ستیشن در جریان پروسه تغییر ولتاژ.
- ضایعات انرژی در جریان پروسه توزیع ( غیر متعادل بودن مصرف، ضایعات توسط ضریب توان و افت ولتاژ)

ضایعات تجارتی عبارت از مقدار انرژی برقی فراهم شده و حصول ناشده می باشد. که شامل موارد ذیل میباشند.

- سرقت برق توسط مشترکین دارای میتر انرژی.
- انشعاب دهی غیرقانونی.
- کارکرد نادرست میتر های انرژی.


ضایعات در حدود ۲۸ الی ۳۵ در صد در سکتور انرژی چالشی است که سکتور انرژی در کشور با آن مواجه بوده و بیشتر این ضایعات را ضایعات تجارتی تشکیل میدهد. (٤)

نهاد های مسئول انرژی باید روند کاهش ضایعات را پیوسته مورد بررسی قراردهند. علاوتاً ضروری پنداشته می شود که از کارها و اقدامات انجام شده ارزیابی متداوم به عمل آید. در مورد ضایعات تجارتی، فقط نظارت شدید و توبیخ مشترکین که برق را از طریق غیر قانونی استفاده می‌کنند کافی نیست، بلکه با اطلاع رسانی، فرهنگ سازی، مشاوره با جامعه شناسان می‌توان ضایعات تجارتی را به سطح قابل قبولی رساند.

در بیشتر کشورهای در حال توسعه ضایعات تجارتی ، سهم زیادی از ضایعات انرژی را تشکیل می‌دهد. بنابراین لازم است مسئولین سکتور انرژی، برعلاوه کاهش ضایعات تخنیکی، درقسمت کاهش ضایعات تجارتی با تدوین راهکارهای فنی، اجتماعی و فرهنگی توجه جدی نمایند.

۲. کمبود شبکه برق

یکی از چالش های موجود در این سکتور کمبود شبکات انتقالی و توزیعی در کشور میباشد. از لحاظ تخنیکی همیشه در نظر بوده است که شبکات برقی کشور بصورت حلقه با هم وصل گردد تا از یک سوساحات و مشترکین بیشتری را تحت پوشش خدمات برق رسانی قرار دهد و از سوی دیگر مسیر های مختلف برای رسانیدن و فراهم کردن انرژی برق ایجاد گردد، که خود باعث کاهش پرچوی های برق درصورت قطع گردیدن یک مسیر مشخص می شود. در حالیکه در حال حاضر شبکات برقی، مجزا از هم بوده و به شکل جزیره ای می باشند.



شکل ۲: نقشه شبکات انتقالی موجود و پلان شده در کشور (۴)

جهت اصلاح و انکشاف سکتور انرژی در کشور لازم است تا پالیسی ها، استراتیژی ها و طرزالعمل های سکتور انرژی غنی گردیده و توسعه یابد تا در روشنی این رهکارها زمینه برای جلب و جذب کمک ها، سرمایه گذاری های خارجی و سهیم شدن سکتور خصوصی فراهم گردد و سکتور انرژی توانسته باشد تا چالش های موجود را مدیریت و خدمات انرژی رسانی را انکشاف داده و به خود کفایی برسد.

منابع:
۱. ماستر پلان برق افغانستان، فیشنر، بانک انکشاف آسیایی،۲۰۱۳
۲. NLCC DABS مرکز کنترول برق افغانستان، راپور سال ۱۴۰۰
۳. RER32 Renewable energy Roadmap for Afghanistan ،IT Power Consulting Private Limited ،ADB، ۲۰۱۷
۴. مجتبی هوشمند، The Status Quo & Challenges of Afghanistan’s Energy Sector ، ۲۰۲۱

د اوبو او انرژي فصلنامه
یولسم کال نولسمه ګڼه، د ۱۴۰۱ هـ ش کال دوهم ربیع چې د ۱۴۴۳- ۱۴۴۴هـ - ق کال سره سمون لري

# د نړیوالو سیندونو د حقوقي بهیر بشپړتیا شالید د تاریخ په اوږدوکې

لیکونکی: عبدالوهاب «مدقق»

په ژوند کې د اوبو اهمیت او رول ته په کتو چې د الهي هستي او د ځمکې د فیزیکي هیکل د بهیدونکو رګونو په توګه یادیږي او پرته له هغو د پرمختک، تمدن او د ژوند په مختلفو برخوکې د بشریت بشپړتیا او د چاپیریال جوړښت ناشونی دی.

سیندونه لهٔ پخوا او لومړنیو پیړیو را پدېخوا د لومړني حقوقي چوکاټ په لرلو سره توانیدلي دي څو د بشري تمدنونو په رامنځته کولو کې او د ملتونو ترمنځ د اړیکو په ټنګښت کې خپل عمده رول ولوبوي او اړوند هدفونه لکه صنعت، کرکیله، کښتۍ چلونه، ټولنیز صنعتونه، سیندیز تجارت، د پردیو په قلمرو ولکه ټینګول، داوبیزو ژوو او مرغانو ښکارول او دېته ورته نور هدفونه، ترلاسه کړي.

له همدې امله په اوسني عصر کې هم نړیوال سیندونه د اړوندو هیوادونو په تېره بیا د نړۍ لویو قدرتونو او سیاستونو د پام وړګرځیدلي دي.

اوسني سیندونه، په لرغوني دورکې دسیندونو د مدیریت څرنګوالي په ډګر کې، دپوهې په چوکاټ کې، په حقوقي او اداري په لومړنیو هغو نورمونو کې چې د اوبو لګونې سیستم ساتلو، د زراعتي محصولاتو د چارو د سمونتیا، د رسمي ټولیز ارګانونو پاملرنې لاندې د بندونو او کانالونو ساتلو په برخه کې د ټولیزې مرستې (حشر) او دېته ورته په نورو برخو کې د سومریانو تمدن له لوري د دجلې او فرات په ښکتنۍ برخه کې،د هلمند مدنیت د هلمند سیند په ساحل کې،مصریانو په منځني ختیځ کې،چینایانو د هوانګهو سیند په ساحل کې، او د آزتک تېر په ښکېلتیا په سویلي امریکا کې منځته راغلي دي، مدیریت شوي دي.

یوناني فیلسوفان لومړني کسان دي چې په هیدرولوژیکي برخه کې پوهنیزې څېړنې ترسره کړي دي او د هغه مهال سیندونه هم د یادو علمي څېړنو په رڼا کې سمبال اوسمون یې موندلی دی او ښې او اغیزمنې ګټې اخیستنې ته سپارل شوي دي.

ارسطو او افلاطون ته(له میلاد څخه۳۵۰کاله پخوا) او ویترووویوس ته(له میلاد څخه ۱۰۰کاله پخوا)هیدرولوژیکي برخه کې اړوندو مسئلو په تړاو منسوبې لومړنۍ کتبي لیکنې څرګند مثالونه ګڼل کیږي.

د اوبو لګونې،سیندونو او بحرونو په برخه کې د قوانینو کېښودل او په همدې توګه نور راز، راز حقوقي پرنسیپونه لکه د حمورابي قانون چې د اوبو لګونې،کانال اېستلو او دېته ورته د نورو ابادیزو چارو په تړاو یې اېښي دي.همدا راز دفنیقیانو د سمندریزې سوداګرۍ قانون، چې د هغوی سمندریز سوداګري په ختیځه مدیترانه کې سمبالاوه، د لرغوني دورې له لومړنیو هڅو څخه ګڼل کیږي او د یادو سیندونو څخه د ښې او زیاتې ګټې اخیستنې په تکل اېښودل شوي دي.

په هر صورت،له سیندونو څخه ګټه اخیستنه د لرغونې دورې د ملتونو ترمنځ د اړیکو د نورو اړخونو په څېر د لومړنیو عامو بنسټونو او اصولو په څېر، چې د هغوی ترمنځ په شته اړیکو واکمن ول، تابع ده؛ ولي موږ تر اوسه له یادو لرغونو تمدنونو څخه د «سیندونو بین‌المللي حقوق» تر سرلیک لاندې څه ندي ترلاسه کړي.

د یادولو وړ ده چې په منځنیو پیړیو کې د اسلام مبارک دین په راتګ سره د سیندونو اړوند مسئلې د اول ځل لپاره د اسلام په بین‌المللي حقوقو کې د «محدود حاکمیت» لاندې، چې اوس مهال منل شوی اصل دی، په یوه حقوقي چوکاټ کې په ټولیزه توګه وڅېړل شوې،له حقوقي پلوه وروستني پړاو ته ورسېدلې او د ګډ او آزاد میراث په توګه نړیوالو ته ور وپېژندل شول؛ حال دا چې هغه مهال غربي نړۍ د سیندونو په تړاو داسې حقوقي نظام نه وه تجربه کړی؛ ځکه چې هغه مهال د اسلامي نړۍ پرته نور ټول سیندونه او سمندرونه د «نویو پېړیو» تر دورې(۱۴۵۳ز) پورې ملي او د اړوندو هیوادونو د ځمکنۍ واکمنۍ لاندې ګڼل کېدل. د نویو پېړیو لهٔ پیل څخه را پدېخوا د وخت په تېریدا د سیندونو په برخه کې یو لړ بدلونونه را منځته شول او د لومړي ځل لپاره سیندونه او سمندرونه آزاد وپېژندل شول.

په حقیقت کې د سیندونو د بشپړتیا لړۍ په لوېدیځه نړۍ کې همدا مهال د نړیوالتوب پولې ته رسېدلې ده او په اوولسمه پېړۍ‌کې (۱٦۰۹ز )هالندي عالم « هوګو ګروسیوس» او « واټل» د سیندونو نړیوالتوب نظریه(محدوده واکمني)، چې بنسټ یې د اول ځل لپاره اسلامې فقهې اېښی دی، د معاصر بین‌المللي حقوقو په چوکاټ کې مطرح کړه؛ خو یاده نظریه په غربي نړۍ کې شاوخوا دوه پېړۍ د اعتبار وړ نه ګڼل کیده او د اول ځل لپاره په ۹/جولای/۱۸۱۵م نېټه د وین په غونډه(congress) کې په رسمي توګه انعکاس وموند او بین‌المللي سیندونه ازاد وپېژندل شول.پدې توګه په لوېدیځه نړۍ کې د یادو سیندونو لپاره د بین‌المللي حقوقو په چوکاټ کې حقوقي بنسټ کېښودل شو او اوس مهال د سیندونو یاد حقوقي بنسټ د معاصر بین-المللي حقوقو د یوې برخې په توګه یادیږي.په ټوله کې ویلی شو چې د بین‌المللي سیندونو د معاصرو بین‌المللي حقوقو د بشپړتیا لړۍ داسلامي فقهې څخه په استفادې له همدې ځایه پیل شوي ده.

یاد مهال د «بین‌المللې اوبو د سرچینو» د حقوقو د پراختیا په برخه کې اکاډمیکو شخصیتونو او نادولتي علمي بنسټونو خپلو علمي هڅو ته پوره پاملرنه وکړه او د «محدودې واکمنۍ» اصل ته یې نوره هم وده ورکړه چې په لاندې کرښو کې ورته لنډه کتنه کوو:

الف:دبین‌المللي حقوقو د انسټیټیوټ( Institute Of International Law) هڅې

د یاد انسټیټیوټ بنسټ په کال ۱۸۷۳ز دسپټمبر په ۸ نېټه د بلژیک په خنت ښار کې کېښودل شو او د بین-المللې حقوقو په مختلفو برخو کې په ځانګړي توګه د نړیوالو سیندونو په برخه کې حقوقي څېړنې ترسره کړي دي.

یاد انسټیټیوټ په کال ۱۸۸۷ز دسپتامبر په ۹ نېټه په سیندونو کې د کښتۍ چلونې په تړاو نړیوال مقررات د هیډلبرګ تړون په چوکاټ کې کېښودل.

د بین‌المللي حقوقو انسټیټیوټ په کال ۱۹۱۱ز د اپریل میاشتې په ۲۰ نېټه له سیندونو څخه د کښتۍ چلونې پرته د نورو هدفونو لپاره د ګټې اخیستنې په تړاو نړیوال اصول د مادرید تړون په متن کې تصویب کړل. په یاد تړون کې له نړیوالو سیندونو څخه د ګټې اخیستنې په تړاو د «مطلق محدود حاکمیت»اصل، چې د هارمون(۱۸۹۵ز) له آند او اصولو سره په بشپړه توکه په ټکر کې وو، او د ښکته پروت هیواد په ګټه بلل کېدهٔ،پهٔ ټینګه ومنل شو .

په همدې توګه یاد بنسټ په کال ۱۹۳۴ز د اکتبر میاشتې په ۱۹ نېټه وتوانید څو په نړیوالو سیندونو کې د

. مدقق ، عبدالوهاب،«وضعیت حقوقی حاکم بر رودخانه های بین المللی با نګاه خاص بر رودخانه هلمند»،پایان نامه ماستری، استاد رهنما : داکتر عبدالعزیز دانش، استاد مشاور:دکتر غلام عباس بصیر،سال دفاع:۱۳۹۷ه.ش. دانشګاه کاتب،ص:۱

[2] . بصیر، غلام عباس، حقوق بین الملل دریاها و رودخانه های بین المللی، لکچرنوت مقطع ماستری، سال:۱۳۹۵ ،نشر :کابل- چاپ و تکثیر دانشګاه کاتب، ص:۲

[3] . نامی، محمدحسن، محمدپور، علی، جغرافیای سیاسی آبهای مرزی ایران (رودخانه ها)، نوبت چاپ: اول، سال :۱۳۹۰، نشر: تهران- انتشارات سهره، ص:۲۶

[4] . ویکی پدیا،«انستیتوی حقوق بین الملل»https://fa.m.wikipedia.org/

۵.آوریده ،فریبا او نور،«مطالعه تطبیقی اصول وقواعد بین المللی حاکم بر تقسیم آب در رودخانه های فرامرزی»،فصلنامه علوم محیطی ،دوره چهاردهم،شماره ۲ ،تابستان۱۳۹۵ص:

[6] فهیم ، نجیب ،وضعیت حقوقي حاکم بر رودخانه هلمند،چاپ اول،سال:۱۳۹۳،نشر :انتشارات عازم،ص:۲۷ - ۲۸

کبنتی چلونې په تړاو حقوقي نورمونه د پاریس تړون په متن کې په تصویب ورسوي.

په کال ۱۹۶۱ز د سپتامبر په ۱۱ نېټه یادې مؤسسې دسالزبورګ تړون د «د نړیوالو ناسمندري اوبو څخه دکښتي چلونې پرته د ګټې اخیستنې تړون» تر سرلیک لاندې تصویب کړ. په یاد تړون کې د مادرید تړون (۱۹۱۱ز) په توپیر، چې په «مطلق محدوده واکمني» ټینګار کړی دی، په «نسبي محدود حاکمیت،» چې د پورته پروت هیواد ګټې هم په پام کې لري، ټینګارکړی دی او پدې سره د مادرید تړون مطلق دریځ محدود کړی دی. په ټوله کې ویلای شو چې د یاد انستیټیوټ د بین‌المللي اوبو اړوند ټول نظرونه پنځه کاله وروسته د «بین‌المللي حقوقو د ټولنې» له لوري د هلسینکي په قواعدو(۱۹۶۶ز) کې ځای پرځای شول او دا مهال د یاد انستیټیوټ آندونه د ملګرو ملتونو سازمان په اړوند کنوانسیون(۱۹۹۷ز) کې هم ترسترګو کیږي.په همدې توګه د«بین‌المللي حقوقو انستیټیوټ» په کال ۱۹۷۹ز د سپتامبر په ۱۲ د سیندونو او سمندرګیو ککړتیا او نړیوالو حقوقو په تړاو یو بل تړون هم لاس لیک کړ.

ب:دبین‌المللي حقوقو ټولنه(International Law Association

دبین‌المللي حقوقو ټولنه د «بین‌المللي حقوقو انستیټیوټ» په څېر د بین‌المللي حقوقو په تېر بیا د سیندونو په حقوقي ډګر کې نادولتي نړیوال ځېرنیز ارګان دی چې په کال ۱۸۷۳ز کې دبلژیک په پلازمینه بروکسل کې یې بنسټ کېښودل شو،اوسمهال مرکزي دفتر یې په لندن کې دی.

د «بین‌المللي حقوقو ټولنه» د «بین‌المللي حقوقو انستیټیوټ،»چې د «محدود حاکمیت» پر اصل ټینګار کوي، په توپیر له بین‌المللي سیندونو څخه منصفانه او عاقلانه ګټه اخیستنې پر اصل ټینګار کوي.

یادې ټولنې د بین‌المللي سیندونو په ډګر کې د تدوین او د اړوندو قوانینو د پراختیا لړۍ د نړیوالې دویمې جګړې(۱۹۳۹ –۱۹۴۵ز) څخه وروسته په کال ۱۹۵۶ کې د دوبرونیک لومړني تړون د بیانیې په خپرولو سره پیل کړه او یاده لړۍ د یو لړ لاسته راوړنو لامل وګرځېد. یاد بنسټ په کال ۱۹۶۶م کې وتوانید څو د بین‌المللي سیندونو څخه د ګټې اخیستنې حقوقو د تدوین په برخه کې یو لړ قواعد د«بین‌المللي سیندونو څخه د ګټې اخیستنې په تړاو د هلسینکي قواعد» تر سر لیک لاندې کېږدي او یادو حقوقي قواعدو بیا د بین‌المللي سیندونو حقوقو د پراختیا په برخه کې مهم رول ولوباوه او د سیندونو د بین‌المللي حقوقو دتاریخ په برخه کې د پام وړ ټکی وګرځېد.

د بین‌المللي سیندونو د حقوقو د تدوین په برخه کې د هلسینکي قواعدو اېښودل لومړنۍ هڅه بلل کیږي او تر ۱۹۹۷ز کال پورې د «بین‌المللي سیندونو څخه د ساتنې او د ګټې اخیستنې د سمبالونکو قواعدو تر ټولو باوري او پېژندل شوې ټولګې» په توګه خپل ځای وساته او د «بین‌المللي حقوقو کمیسیون» له لوري د «بین‌المللي اوبو د سرچینو» دحقوقو د تدوین په برخه کې، چې په تړاو یې د سازمان ملل د ۱۹۹۷ز کنوانسیون تصویب شو، د بنسټ په توګه ترېنه ګټه اخیستل شوې ده. پدې توګه، یاد قواعد په ډېرې چټکۍ سره د نړیوالې ټولنې له لوري د بین‌المللي اوبو په ډګر کې د بین‌المللي عرفي حقوقو دیوې باوري سرچینې په توګه وپېژندل شول.

د یادونې ده چې دبین‌المللي سیندونو د حقوقي رژیم د لاپېر بشپړتیا،او له یادو سیندونو څخه د کښتی چلونې او کښتی چلونې پرته د ګټې اخیستنې د پروسې د ښه سمبال او مدیریت،د یادو سیندونو د مختلفو تعریفونو شننې په تکل د شلمې او یویشتمې پېړیو په اوږدو کې د نړیوالو بنسټونو له لوري لاندې یو لړ څو اړخیز تړونونه او مقررات هم لاسلیک شوي دي.

۱.د ورسای تړون(۲۵/جولای/۱۹۱۹م)؛
۲.دبارسلن تړون(۲۰/اپریل/۱۹۲۱م)؛
۳.د هلسینکي تړون(۱۹۶۶ م)؛
۴.د نیویارک تړون(۱۹۹۷م)؛
۵.دبرلین مقررات(۲۰۰۴م).

همدا راز نړیوال سیندونه د حقوقي بشپړتیا په برخه کې د اغیزمن مدیریت او ښې ګټې اخیستنې په تکل د تاریخ په اوږدو کې د ګنو او متضادو حقوقي نورمونو له هغو جملې څخه د «ځمکني واکمنۍ مطلق نورم» اود«مطلقه ځمکنۍ بشپړتیا» نورم پربنسټ سمبال او اداره شوي دي. د یادو نورمونو ترمنځ دترینګلتیا او تقابل په پایله کې د دریمې تیوري د «محدود حاکمیت» تر سرلیک لاندې، چې د نړیوالو سیندونو د معاصرو نړیوالو حقوقو بنسټ جوړوي، د«بین‌المللي سیندونو په اوبو کې د اړوندو هیوادونو ونډه( ګډون) او ټولیز یا ګډ مدیریت» تیوري په پام کې نیولو سره او د «عادلانه او معقولانه کاروني»په تکل په نړیوالو تړونونو،د نړیوالو ارګانونو او کنفرانسونو لکه دبین‌المللي حقوقو (Institute Of International Law)، د مونته ویدیو(Montevideo) اعلامیه،د مادرید اعلامیه او د بین‌المللي حقوقو ټولنه(International Law Association)،د ملګروملتونو غونډه او هلسینکی په مقرراتو او په کړو پربکړو کې یې سپارښتنه شوه.

په پای کې،یاد اصل د ملګروملتونو دعمومي غونډې له لوري د ۱۹۹۷ز کال کنوانیسیون په تصویبولو سره په رسمیت وپیژندل شو چې یاد کنوانسیون بیاپه کال ۲۰۱۵ز کې نافذ شو.

پدې توګه د بین‌المللي سیندونو دحقوقي بشپړتیا لړۍ د ۱۹۹۷ز کنوانسیون په تصویبولو سره وروستي پړاو ته ورسید او یاد کنواسیون، چې د محدود حاکمیت تیوري پر بنسټ ولاړ دی او د هر اړخیزو اصولو سپارښتنه یې کړې ده ،د اوس مهال لپاره د بین‌المللي سیندونو لپاره یواځنۍ حقوقي رسمي چوکاټ شمېرل کیږي.

د یادولو وړ ده،د بین‌المللي سیندونو یاد حقوقي رژیم تر ډېره بریده په عمومي او بنسټیزو اصولو ولاړ دی او د هغه کوچني او فرعي نورمونه په یوه علمي حقوقي چوکاټ کې ندي ارزول شوي او هغه یې د سیندونو خپلو اړوندو هیوادونو ته سپارلي دي څو هغه د هر هیواد مختلفو ځانګړتیاوو ته په کتو لکه جغرافیایې موقعیت،د نفوس کچه،د اوبیزو او اقتصادي اړتیاوو کچه،له سیند څخه د ګټې اخیستنې احتمالي او حقیقي ورتیاوو کچه، د دوه اړخیزه اړتیاوو کچه، د اړوندو هیوادونو ترمنځ د اړیکو خړنګوالی،اړینه پانګونه او د لګښتونو پربکول،د ساتنې په برخه کې «ګډې ښې هڅې»،دکوچنیو اوبیزو حوزو(خوړونو) ونډه او پراختیا، د اړوندو تجربو او مالوماتو راکړه ورکړه او دښته ورته نورې مسلې؛ په دوه او څو اړخیزو تړونونو کې د خبرو اترو په درشل کې وخیږي.

[7].پیشین،نامی،محمد حسن،جغرافیای سیاسی آبهای مرزی ایران.ص:۲۹ -۳۰
[8] .دانته آګوستو،کاپونئرا، اصول حقوق ومدیریت آب ،نوبت چاپ :اول ،سال:۱۳۹۲،نشر:تهران – موسسه مطالعات وپژوهشهای حقوقی شهر دانش،ص:۳۵۷
[9] . ویکی پدیا،«انجمن حقوق بین المل https://fa.wikipedia.org/w/index.php
[10].موسوی،فضل الله ،حقوق رودخانه های بین المللی با تاکید بر حوزه های اردن ولیطانی ومدیریت وبرنامه ریزی آبها،چاپ:اول،سال:۱۳۸۹،نشر:تهران – دادګستر،ص:۱۵۹
[11].مخکینې،مدقق ، هوتک،«وضعیت حقوقی حاکم بر رودخانه های بین المللی با نګاه خاص بر رود خانه هلمند،ص:۱۳۵
[12]. مخکینی، دانته آګوستو،کاپونئرا، اصول حقوق ومدیریت آب،ص:۳۵۸
[13] .مخکینی، آوریده ،فریبا او نور،«مطالعه تطبیقی اصول وقواعد بین المللی حاکم بر تقسیم آب در رودخانه های فرامرزی»،ص:۸۲

د اوبو او انرژي فصلنامه
یوولسم کال نولسمه گڼه، د ۱۴۰۱ هـ ش کال دوهم ربع چې د ۱۴۴۳- ۱۴۴۴هـ- ق کال سره سمون لري

# د هریرود سیندیزې حوزې اړوند د افغانستان او ایران تر منځ د اختلافاتو ارزونه

لیکوال: احمد " احمدزی "

## سریزه

الحمد لله رب العالمین و الصلاة والسلام علی اشرف الانبیاء والمرسلین و علی اله و اصحابه اجمعین !
اما بعد: اوبه زموږ د ژوند یوه نه بېلېدونکې برخه ده چې په کرنه، صنعت، اقتصاد او د انسان په ټولنیزو چارو مستقیمه اغېزه لري. د اوبو ماهیت داسې دی چې په یو ځای کې نه ساکنېږي او له یو ځای څخه بل ځای ته خپل ځای تغییروي، د اوبو د مصرف لپاره د تقاضا زیاتوالی او د اوبو د سرچینو ضعیف مدیریت د هیوادونو ددنه او د دووه یا څو هیوادونو په اړیکو کې د اوبو د سرچینو د کارولو په اړه شخړو او اختلافاتو ته لمن همواره کړې ده. چې په ځانګړې توګه د وچکالۍ او د اوبو د کمښت په وخت کې د منازعاتو او اختلافاتو یو له مهمو لاملونو څخه ګڼل کیږي، نن ورځ پوله تېرېدونکو سیندونو څخه د ګټې اخیستنې څرنګوالی، د سطحي او ځمکې لاندې اوبو د زیرمو کمښت له یوې خوا او له بلې خوا د اوبو د سرچینو د اقتصادي موثریت په خاطر د دولتونو د اړتیاوو د زیاتوالي ترڅنګ د نفوس زیاتوالی او د دولتونو د متضادو ګټو په خاطر، پوله تېرېدونکې اوبه په ستراتیژیکې موضوع بدلې شوې دي. ګډې اوبیزې حوزې په نړۍ کې شتون لري چې د اوبو څخه د ګټه اخیستنې څرنګوالی یې د هیوادونو ترمنځ د شخړو د رامنځته کېدلو لامل کیږي. افغانستان هم له دې امر څخه مستثنأ ندی؛ځکه چې پوله تېرېدونکې اوبه لري .
عموماً هیوادونه هڅه کوي د اوبو شخړې په دوه یا څو اړخیزه مذاکراتو سره خپل منځ کې حل او فصل او یو توافق ته ورسېږي، خو اُوبو ته د غوښتنې زیاتوالی د دې لامل شوی چې په یو شمېر هیوادونه په تېره بیا په وچو او نیمه وچو کې راګیر سیمو کې اوبه امنیتي بحثونو ته داخل شي، له همدې امله هیوادونه هڅه کوي چې د اوبو په مذاکراتو کې له نورو عواملو لکه د ځینو امتیازاتو ورکولو یا د ځینو امتیازاتو د ترلاسه کولو لپاره ګواښونکې ژبې څخه کار واخلي .
د اوبو د منازعو د حل او فصل لپاره د سیمې په کچه قواعد او کمیسیونونه جوړ شوي دي، چې هیڅ یو یې الزامي ندی او هیوادونه کولی شي هر یوه سره یې په خپله خوښه یوځای شي. د دې قواعدو له جملې څخه کولی شو د هلسینکي قواعد، د ۱۹۹۲م کنوانیسیون، د ۱۹۹۷م کنوانیسیون او د د برلین د اوبو منابعو قواعدو ته اشاره وکړو. دا هر یو خپلې ګټې او زیانونه لري، هیوادونه باید تر یو ځای کیدو د مخه ټول اړخونه یې په دقت سره مطالعه او ارزونه یې وکړي.
هریرود هم له هغو حوزو څخه دی چې اوبه یې په موسمي ډول په څو میاشتو کې د افغانستان سربیره ایران او ترکمنستان ته جریان مومي او همداراز له اوبو څخه د ګټې اخیستنې په اړه سره اختلاف لري .
په تېرو وختونو کې په افغانستان کې د تحمیلي جګړو، د متخصصینو او مالي سرچینو د نشتوالي او داسې نورو عواملو له امله، افغانستان نشو کولی چې خپلې اوبه تنظیم، مدیریت او د خپل هېواد د پرمختګ لپاره ترې ګټه پورته کړي، خو ګاونډیو هیوادونو د افغانستان له ناوړه وضعیت څخه په ګټه اخیستنې، د دې حوزې اړوند سیمه کې ډېر تاسیسات د نړیوالو اصولو او قواعدو خلاف جوړ کړي دي. په دې ورستیو کې افغانستان هم د بهرنیو هېوادونو په مرسته او ملي عزم او ارادې په درلودلو سره، یو څه بندونه او تاسیسات د اوبو تنظیم په موخه جوړ کړل، چې دا کار د افغانستان او ګاونډیو هیوادونو په ځانګړې توګه ایران سره د اوبو پر سر د اختلافاتو د زیاتېدو لامل وګرځید؛ ان تر دې چې افغانستان او ایران څو، څو ځله په دې اړه له ډیپلوماتیکو لارو خپل اعتراضونه وړاندې کړل. په دې څېړنه کې هڅه شوې ترڅو د هریرود حوزې اړوند، د ایران او افغانستان تر منځ اختلافات د نړیوالو اصولو او قواعدو په رڼا کې و څېړل شي.

### هریرود سیندیزه حوزه

هریرود په دوه عمده برخو ویشل شوی دی، چې د پورتني هریرود (هریرود علیا) او ښکتني هریرود (هریرود سفلی) په نوم یادیږي. دا سیند د بابا د غرونو له څنډو، د مرکزي سیمو د لعل او سرجنګل له لوړو سیمو سرچینه او ۱۲۳۷/۴۱کیلومتره اوږوالی لري، له دې [1]اخلي جملې څخه ۶۷۲/۹۵ کیلومتره یې د افغانستان په خاوره کې په نسبتاً یو مستقیم مسیر کې لویدیځ لوري ته جریان پیدا کوي، یاد سیند په غور ولایت کې له اوږد واټن وهلو وروسته د غور ولایت مرکز، چغجران ښار څخه هرات ولایت ته داخلیږي او د اسلام قلعه لوري ته جریان پیدا کوي او بیا د افغانستان او ایران تر منځ د ۱۴۱.۹۳ کیلومترو په اوږوالي ګډه پوله جوړوي او په پای کې د قره قوم په دښتو کې جذبیږي. د علیا او سفلی هریرود سیمې مساحت ۳۹۲۲۱ کیلومتره مربع چې له دې جملې څخه ۴۰ سلنه کرنیزه ځمکه [2]دي، یې خړوبېږي او پاتې ځمکې د اوبو له کمښت سره مخ دي. د اوبو اړتیاوې په دې حوزه کې د کرنې، څښاک، صنعت او چاپیریال په ګډون د نفوسو له زیاتوالي او د ژوندانه ډول د بدلون سره مخ په زیاتېدو دي. له بله پلوه پورتني هریرود کې د رباط اخند هایدرولوژیکي ستیشن او په ښکتني هریرود کې د تېرپل هایدرولوژیکي ستیشن د پخواني او اوسني ارقامو پرتله، د هریرود اوبو [2] د اندازې کمښت ښیي.

همدا راز په ایران خاوره کې هریرود سیندیزه حوزه د قره قوم یا سرخس په نوم یادیږي او د ایران په شمال شرق کې واقع دي او له دهنه ذالفقار تر تېرېدو وروسته د ایران او ترکمنستان تر منځ (۱۵۰.۸۶) کیلومتره ګډه پوله جوړوي او په پای کې د قرقوم دښتو کې جذبیږي. د ایران لوري هغه فرعي سیندیزي حوزې چې پر هریرود پورې تړاو لری ۲ حوزې دي. د یادو حوزو ټولټال مساحت ۴۵۴۵۹ کیلومتر مربع دی.[2] په دې حوزو کې د مشهد، سرخس، تایباد، فریمان او تربت جام ښارونه واقع شوي دي، کشف رود او جام رود یې له مهمو سیندونو څخه دي.

### حقوقي ارزونه:


اساساً د پوله تېرېدونکو (پوله شریکو) اوبو د سرچینو شتون، د یوې اقتصادي سرچینې او همداراز د هیوادونو ترمنځ د شخړو  او اختلافاتو د رامنځته کېدو یو مهم عامل ګڼل کیږي. د اوبو پر سر د شخړو رامنځته کیدل په نړۍ کې اوږده تاریخي مخینه لري او اوس مهال د نړۍ شاوخوا ۵۰ هیوادونه په ورته وضعیت کې واقع دي. [3] په نړیوالو سیندیزو حوزو کې بشپړې طبیعي پروسې لکه د اقلیم بدلون، د نفوسو وده او د سیندیزو حوزو په غاړو بشري فعالیتونه د اوبو کمښت لمړني لسوونکي عوامل ګڼل کیدی شي، چې د اوبو په کمښت او کیفیت اغیز پرېباسي، په نتیجه کې په اقتصادي چاپیریالیز ناورین اوړي، د ژوند کیفیت راښکته کوي او په هیوادونو کې د کورنی ګډوډۍ لامل کیږي. نوموړي عوامل ملي ناامنیتي او بې ثباتي لا تقویه کوي؛ ممکن د دوو یا ډېرو د اوبو شریکو هیوادونو تر منځ د شدیدې شخړې د رامنځته کیدو لامل

وگرځي.[4] له بله پلوه ځینې عوامل کولای شي د اوبو د کمښت او د اوبو پر سر د هیوادونو او سینډیزو حوزو په شاوخوا کې پرتو ټولنو تر منځ د شخړو د شدت لامل شي. کارپوهان په دې باور دي چې څلور جغرافیایي لاملونه لکه: د اوبو ککړتیا ، د اوبو کمښت، ناعادلانه او نامنصفانه ویش او طبیعي یا انساني آفتونه کولی شي په بالقوه توگه د اوبو شخړې رامینځته کړي.[3] له همدې امله په نړیواله کچه ډېرې هڅې شوې دي چې د پولې تېربدونکو اوبو د سرچینو ویش،او تنظیم لپاره د یو جوړښت او فورمولبندۍ په واسطه، د ښکیلو هیوادونو تر منځ د پیښیدونکو شخړو د حل لپاره اجماع رامنځته شي او د فزیکي شخړو او جگړو رامنځته کیدلو کچه ټیټه شي. د دې هڅو پایله د هلسینکي قواعدو، د ۱۹۹۲ م کال کنوانیسیون، د ۱۹۹۷ م کال کنوانیسیون او د برلین د اوبو منابعو قواعدو د جوړیدو لامل شوي دي. هریرود حوزه کې هم ځینې عوامل د اختلافاتو د رامنځته کیدو سبب شوي دي، چې هغه عوامل عبارت دي له: د اقلیم بدلون یا د اوبو کمښت (طبیعي آفت)، د سینډیزې حوزې پر غاړه بشري فعالیتونه (انساني آفتونه)، د اوبو نا عادلانه او نا منصفانه کارونه او د نفوسو وده، چې دې عواملو د ایران او افغانستان تر منځ اختلافاتو ته لمن هموار کړی ده.

همداراز ځېرنې ښیي چې د پوله تېربدونکو اوبو پر سر د هیوادونو تر منځ مرستې ډېرې کمې عادلانه دي، او د اوبو سرچینو کنټرول او د خبرو اترو او همکارۍ پروسې څخه ترلاسه شوې گټې په مستقیم ډول د دولتونو واک پورې اړه لري[5] . په بل عبارت، هر یو دولت چې د ډېر واک خاوند وي، د اوبو په زېرمو باندې خورا ډېر کنټرول لري او د خبرو اترو او همکارۍ له پروسې څخه ډېرې گټې دوي ترلاسه کوي. همداراز جغرافیایي موقعیت په نړیوال ډگر کې د دولتونو د ځواک په ټاکلو کې کلیدي رول لوبوي؛ په دې معنا که چیرې هغه هیواد چې په پورته پرته سیمه کې واقع دی د کافي زېرمو په جوړولو سره اوبه داسې کنټرول کړي چې د لاندې پرتو سیمو هیوادونه تر اغېزې لاندې راولي. د دې ښه بیلگه چین او ترکیه دي. خو دا د مطلق واک په معنی نه دی، بلکې یو امتیاز دی، په هغه صورت کې چې یو هیواد نظامي، اقتصادي او سیاسي واک ولري، یادې ځانگړتیاوې کولای شي یو دولت په یوه نړیواله حوزه کې په ځواک (هژمون) بدل کړي، که څه هم په ځایي لحاظ په لاندې پرته سیمه کې پروت وي. د مثال په توگه، د نیل په نړیواله حوزه کې، ایتوپیا یو داسې هیواد دی، چې په پورته پرته سیمه کې پروت دی او له یادو ځانگړتیاوو څخه برخمن ندی، د دې سیمې هایدرو هژمون نه شي گڼل کیدی، خو مصر چې له یادو ځانگړتیاوو برخمن دی، په اصل کې د دې سیمې هایدرو هژمون دی، که څه هم په لاندې پرته سیمه کې موقعیت لري. اسراییل هم د موقعیت له پلوه پورته پروت هیواد نه دی، مگر په دې سیمه کې د اوبو د هژمون رول لوبوي. پورته پراته هیوادونه د اقتصادي او ساختاري ضعف له امله، د اوبو د کنټرول لپاره کافي زیرمو د نه جوړولو او خپل پوځي ځواک ته وده نه ورکولو له امله ندي توانیدلي چې له خپل جغرافیایي امتیاز څخه گټه پورته کړي. هغه هیوادونه چې هیڅ ډول جغرافیایي امتیازات نه لري، کولی شي د قوي اقتصادي منابعو او نظامي ځواک په برابرولو سره ځان ته هژمونیک دریځ خپل کړي.

که موږ د ایران او افغانستان اړیکو ته پام وکړو، په ښکاره توگه لیدل کیږي چې د هلمند او هریرود سیندونو سرچینه د افغانستان په خاوره کې ده او دا د افغانستان لپاره یو طبیعي امتیاز گڼل کیدای شی. افغانستان که په اقتصادي او نظامي برخه کې پراختیا ومومي، په هلمند او هریرود حوزو سربیره به د افغانستان په ټولو حوزو کې په یو قوي او غښتلي واکمن (هژمون) بدل شي. ایران برعکس له داسې طبیعي امتیازاتو بې برخې دی، خو د افغانستان اوسني سیاسي او اقتصادي حالت ته په کتو (چې د نړیوال مشروعیت په لټه کې دی) د افغانستان په پرتله ایران ښه سیاسي، اقتصادي او پوځي ځواک لري او په دغه حوزه کې د اوبو د واکمنی (هژمون) په لټه کې دی.

هریرود یو موسمي پوله تېربدونکی سیند دی، چې د اوبو د جریان کچه یې د کال په موسمونو کې توپیر کوي، یوازې په څو میاشتو کې اوبه له سرحد څخه تېرېږي؛ دا اوبه کله دومره کمیږي، چې حتا د غوریان، زنده جان، کهسان او اسلام قلعه والسوالۍ، چې د افغانستان په خاوره کې قرار لري، په ډېرو فصلونو کې په خپله د اوبو د کمښت له ستونزې سره مخ وي. د تیرپل هایدرومیترولوژیکي ستیشن د څو کلنو ارقامو (د میاشتنی جریان اوسط کچې) څخه چې په (۱) شمیره گراف کې ښودل شوي، معلومیږي، چې په څلورو میاشتو کې اوبه له سرحد څخه تېرېږي او په پاتې ۸ میاشتو کې هریرود په هغه اندازه اوبه نلري، چې له پولې واوړي او ایران ته ورسیږي.




(۱) شمیره گراف [ارقام: MEW ]

د اوبو او انرژۍ فصلنامه
یوولسم کال نولسمه ګڼه، د ۱۴۰۱ هـ ش کال دوهم ربع چې د ۱۴۴۳- ۱۴۴۴هـ - ق کال سره سمون لري

همداراز له تاریخي استفادې او د تاریخ لیکونکو او جغرافیه پوهانو له تاریخي آثارو څرګندیږي، چې ایران لوري د دوستی بند له جوړولو مخکې له پورتني هریرود څخه په زراعت کې کار ندی اخیستی، یعني د سرخس اوسیدونکو خپلې یو اندازه محدودې ځمکې د کاریزونو له لارې خړوبولې او پاتې برخه اوسېدونکي یې په مالداری بوخت ول. د افغانستان په خاوره کې د هرات ښار خلکو د هریرود سیند له اوبو څخه د ګټه اخیستې او تاریخي استفادې په هکله تاریخ لیکونکو او جغرافیه پوهانو په خپلو آثارو او کتابونو کې یادونه کړې ده. د مثال په توګه، معین الدین محمد اسفزاری د نهمې هجري قمري پېړۍ تاریخ لیکونکي په خپل کتاب[6] کې راوړي دي چې: په هرات ښار د مغلو د حملې پر مهال د انجیل کانال، چې د اوبو رسولو په موخه ورڅخه کار اخیستل کیده، په بشپړه توګه له منځه لاړ او دا کانال د هرات د خلکو د همت پر مټ د دوه میاشتو پرله پسې هڅو په ترځ کې بیا ورغول شو او اوبو بیرته ښار او زراعتی سیمو ته جریان پیدا کړ.» همداراز اسفزاری زیاتوي چې: « ابوسعید په هرات کې د مغولو وروستي سرلښکر یو کانال د «جوی سلطانی» په نامه جوړ کړ، چې په یاد کانال کې د پاشتان سیند اوبه بهېدې او له پاشتان تر سلقمان کلي پورې چې دا سیمه شپږ فرسنګه (فرسخ) وه، په باغونو او باغچو بدله کړه.» ابن حوقل چې د څلورمې پېړۍ جغرافیه پوه دی په خپل کتاب [7]کې د «بلوکات هرات» په هکله داسې لیکي: « د هرات ښارونه چې باید د مالان سیند څخه اوبه شوي وای، د سیند په شمال او جنوب کې پراته ول. د یاد سیند په دواړو خواوو کې، د دې سیمې خلکو کانالونه او ویالې جوړې کړې وې، چې اوبه به یې کلیو او کرنځایونو ته رسولې. یادو کانالونو ته به بلوک ویل کیدل. په شمال خوا کې د انجیل، النجان، غوروان او پاشتان، توران او تونیان، خیابان، سبقر، پروانه او هوا دشتک او همداراز په جنوب خوا کې کمبراق، ادوان او تیزان کانالونه جوړ شوي ول.»[3]

همداراز د ایران په خاوره کې د هریرود سیند له اوبو څخه د ګټه اخیستې یا تاریخي استفادې په هکله تاریخ لیکونکو او جغرافیه پوهانو په خپلو آثارو او کتابونو کې هم یادونه کړې ده، د مثال په توګه: یعقوبی د دریمې پېړۍ جغرافیه پوه، په خپل کتاب [8] کې لیکي « سرخس یوه ښایسته(باشکوه) او لوی ښار دی، چې شګېزو دښتو کې واقع شوی دی، چې عبدالله بن خازم سلمی د حضرت عثمان (رض) په خلافت کې فتح کړ او د څښاک اوبه یې له څاګانو څخه دي؛ سیندونه او چینې نه لري.» ابو اسحاق ابراهیم اصطخری مکنی د ۳۴۶هـ.ق متوفی د دې ښار په هکله داسی لیکلي: «سرخس د نیشاپور او مرو تر منځ یو ښار دی، او رواني اوبه نه لري.» او په بل ځای کې لیکي: « د پوشنګ اوبه له هری (هریرود) څخه دي او دا سیند سرخس ته بهیږي؛ خو هغه وخت چې هوا ګرمه وي اوبه هلته نه رسیږي.» چې دا خپله د هریرود سیند پر موسمي توب دلالت کوي. یاقوت حموي د معجم البلدان کتاب مؤلف د اوومې هجري پیړۍ په لومړیو کې د دې کتاب په (څلورم ټوک، ۲۰۸ ص) کې سرخس ښار داسې تعریفوي: « سرخس د خراسان له پخوانیو ښارونو څخه دی، چې د نیشاپور او مرو تر منځ واقع شوی... هغه تږی ښار ده چې هلته د څاګانو له اوبو، چې خورا پاکې او خوندورې دي، نورې هیڅ اوبه نه موندل کیږي، روان سیند هلته شتون نه لري، پرته له هغه سیند څخه چې د کال په یوه برخه کې جاری وي او دایمی ندی، چې هغه هم د هرات اضافه اوبه دي.» ولادیمیر په خپل کتاب [9] کې لیکي « د سرخس په دوه فرسخۍ کې یو سیند چې مکمل ښار یې قطع کاوو، شتون درلود. چې د سرخس اوبه په هرات کې د اوبو د ډیرې کاروني له وجې د اوړي په موسم کې په بشپړه توګه وچیدې. له همدې امله په دې سیمه کې للمي کرنه ډیره عامه وه.» وحید سنایي په «هیدروپولیتیک، امنیت و توسعه در روابط ایران، افغانستان و ترکمنستان » کې لیکي: « د هریرود جریان د ژمي په وروستیو او د پسرلي په لومړیو پورې تړلی دی.» داکتر محمد عجم د سولې نړیوالو مطالعاتو مرکز(IPSC)، د نړیوالو حقوقو کارپوه، د هریرود سیند اوبو څخه د ایران د استفادې به هکله داسې لیکي: « په ایران کې تر اسلامي انقلابه مخکې د هریرود سیند اوبو ته دومره اړتیا نه وه، ایران له هریرود څخه تقریباً هیڅ ډول استفاده نه کوله او د ایران دننه له صالح آباد تر سرخس پورې ډیر کم نفوس اوسیده او اکثره مالداره ول.» [3] دغه تاریخي حقیقت او تخنیکي ارقام د هریرود پر موسمي توب دلالت کوي. او دا څرګندوي چې د ایران هیواد له پخوا د پورتنۍ هریرود له اوبو څخه حقابه نده درلوده، خو په دې ورستیو کلونو کې د افغانستان ناوړه وضعیت څخه په ګټه اخیستنې، ایران او ترکمنستان په یو اړخیزه توګه اوبیزې زیرمې جوړې کړې، چې د نړیوالو قوانینو او مقرراتو څخه ښکاره سرغړونه ده.

همدارنګه اسلامي تیوري (نظریه) پر هغو قوانینو بنأ ده، چې د رسول الله (ص) له خوا په مدینه کې وضع شوي دي، دا نظریه له مشترکو منابعو څخه د ګټې اخیستنې د لومړیتوب حق د هغه مالک یا پورته پروت هیواد ته ورکوي او هغه اضافه اوبه دي، چې باید ښکته پرتو سیمو ته جریان پیدا کړي [10].

دا نظریه د مشترکو منابعو څخه د کاروني په هکله د ایران د مدنی قوانینو اساس هم دی. د ایران مدنی قانون ۱۵۸ ماده کې د اوبو مشترکو منابعو څخه د ګټې اخیستنې په هکله داسې راغلي: (هرگاه تاریخ احیای اراضی اطراف رودخانه مختلف باشد، زمینی که احیای آن مقدم بوده است، در آب نیز مقدم می شود بر زمینی متاخر در احیا، اگر چه پایین تر از آن باشد. [11]) **ژباړه:** "هرکله چې د سیند په شاوخوا کې د ځمکو د احیا نیټه توپیر ولري، هغه ځمکې چې مخکې رغول شوي وي، په اوبو کې هم د هغو ځمکو په پرتله چې وروسته رغول شوي، مقدم دي. که څه هم د هغې څخه ټیټه پرته وي." له تاریخي کارونې ثابتیږي چې له ډېر پخوا راهیسې د هریرود اوبه په افغانستان کې کارول کېدې او په یادې حوزه کې اکثره تمدنونه د سیند پر غاړه منځته راغلي او د هریرود له سیند څخه یې د ځمکو خړوبولو په خاطر کانالونه جوړ کړي ول، چې دې کانالونو ته به بلوکات ویل کیده. او د دې کانالونو په واسطه به یې خپلو ځمکو ته اوبه رسولې، چې اوس هم د بلوکات هرات په نامه یادیږي. او همداراز تاریخي څېړنې ښیي چې د ایران په سرخس ښار کې د هریرود له اوبو څخه هیڅ کله په کرنه کې ګټه نده اخیستې. یعنی د سرخس سیمې لږ نفوس د کاریزونو له لارې خپلې محدودې ځمکې خړوبولې. او د سیمې پاتې برخه خلک په مالداري کې بوخت ول، خو په دې وروستیو کې د دوستي بند تر جوړولو وروسته یې خپلو ځمکو ته پراختیا ورکړې.

همداراز په ۱۵۹ ماده کې بیا داسې راغلي چې: (هرگاه کسی بخواهد جدیداً زمینی را در اطراف رودخانه احیا کند، اگر آب رودخانه زیاد باشد و برای صاحبان اراضی، سابقه تضییقی نباشد، می توان از آب رودخانه، زمین جدید را مشروب کند، در غیر این صورت حق بردن آب را ندارد، اگر چه زمین او بالاتر از دیگر اراضی باشد. [11]) **ژباړه:** "هرکله که څوک غواړي د سیند په شاوخوا کې نوې ځمکه ورغوي، که د سیند اوبه زیاتې وي او د ځمکې پخواني خاوندانو لپاره په اوبو کې کمښت رانشي، کولی شي د سیند له اوبو څخه نوې ځمکې خړوبې کړي، خو که د اوبو کمښت رامنځته کېږي، د اوبو د وړلو حق نه لري. که څه هم د نورو ځمکو په پرتله پورته پرته وي." د یادې مادې پر اساس ویلی شو، چې هریرود یو موسمي پوله تېرېدونکی سیند دی او د اوبو د جریان کچه یې د کال په موسمونو کې توپیر کوي، یوازې په څلورو میاشتو کې اوبه له سرحد څخه تېرېږي او په پاتې ۸ میاشتو کې هریرود هغه اندازه اوبه نلري، چې ایران ته ورسیږي؛ او کله یې اوبه دومره کمیږي، چې حتا د افغانستان دننه د یادې حوزې د لاندې پرتو سیمو اوسیدونکي د خپلو ځمکو د خړوبولو لپاره د اوبو له کمښت سره مخ کیږي.

همدارنګه په دې هکله د رسول الله دا حدیث ډیر واضح صراحت لری: ( **إنّ رجُلاً مِن الأنصارِ خاصَمَ الزُّبيرَ عندَ رسولِ اللّه ِ صلى الله عليه و آله وسلم في شِراجِ الحَرّةِ التي يَسقُونَ بها النَّخلَ ، فقالَ الأنصاريُّ : سَرِّحِ الماءَ يَمُرَّ ! فأبى علَيهِم ، فاختَصَمُوا عِند رسولِ اللّه ِ صلى الله عليه و آله وسلم فقالَ رسولُ اللّه ِ صلى الله عليه و آله وسلم للزُّبيرِ : اسْقِ يا زُبيرُ ثُمّ أرسِلِ الماءَ إلى جارِكَ ، فَغَضِبَ الأنصاريُّ ، فقالَ : يا رسولَ اللّه ِ ، أن كانَ ابنَ عَمّتِكَ ! فَتَلَوَّنَ وَجهُ نَبيِّ اللّه ِ صلى الله عليه و آله وسلم ثُمّ قالَ : يا زُبيرُ اسْقِ ، ثُمّ احبِسِ الماءَ حتّى يَرجِعَ إلَى الجُدُرِ . فقالَ الزُّبيرُ : و اللّه ِ ، إنّي لأحسَبُ هذهِ الآيَةَ نَزَلَت في ذلكَ » :فَلا وَ رَبِّكَ لا يُؤمِنونَ)** [12]

**ژباړه:** د انصارو څخه یو سړي له زبیر سره د حره ویالې د اوبو په سر چې له هغې څخه یې ونې اوبه کولې، شخړه منځ ته راغله. زبیر ته یې وویل: پریږده چې اوبه لاړې شي، خو زبیر انکار وکړ. هغوی قضاوت رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ویوړ، رسول الله صلی الله علیه وسلم زبیر ته وویل: ای زبیره! خپلې ونې اوبه کړه او بیا د خپل گاونډي (څمکو) ته اوبه ور پریږده. انصاري په غوسه شو او ویې ویل: ای د خدای رسوله! ځکه چې هغه ستاسو د ترور زوی وه (چې تاسو داسې قضاوت وکړ)؟ د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مخ رنگ بدل شو. بیا یې وویل: اې زبیره! خپلې ونې اوبه کړه او بیا د اوبو مخه وتړه ترڅو دیوالونو ته بیرته راوکرځي. زبیر وویل: زه په خدای قسم خورم لکه دا آیت چې په دې اړه نازل شوی دی: «خو داسې نه ده، زه ستا په رب قسم خورم چې دوی ایمان نه راوړي»".

له دې حدیث څخه دیر واضح معلومیږي چې پورته پروت هیواد د اوبو په کارونه کې د اولویت حق لري او باید پورته پروت هیواد خپلې اړتیاوې ورڅخه پوره کړي او بیا ښکته پراته هیواد ته جریان ومومي.

دا چې هریرود یو موسمي پوله تېرېدونکی سیند دی او کله یې اوبه دومره کمیږي، چې حتا د افغانستان دننه د یادې حوزې د لاندې پرتو سیمو اوسیدونکي د خپلو ځمکو د خړوبولو لپاره د اوبو له کمښت سره مخ کیږي. او د دې حوزې ۴۰-۴۵ سلنه ځمکې له دې سیند څخه اوبه کیږي او پاتې ۶۰-۵۵ سلنه ځمکې یې د اوبو له جدي کمښت سره مخ دي. په یادې حوزه کې د تېرپل ستیشن د څو کلونو(۲۰۰۸-۲۰۲۰) ارقام ښیي، چې په اوسط ډول ۳۸۲ میلیون متر مکعبه اوبه له دې ستیشن څخه د کال په څلورو میاشتو کې تیریږي، نو د دې نظریې په اساس او د افغانستان اړتیاوو ته په کتو، چې تقریباً ۶۰ سلنه ځمکې په یاده حوزه کې اوبو ته اړتیا لري او دا اوبه هم ورته بسنه نه کوي. نو په داسې حال کې ځنګه کولی شو دا ۳۸۲ میلیون متر مکعبه د هریرود اوبه چې هغه هم په ۴ میاشتو کې تولیدیږي، د درې هیوادونو (افغانستان، ایران، ترکمنستان) تر منځ وویشو.

د ایران حقابه غوښتنه او د افغانستان د زیرمو پر جوړولو اعتراضات د نړیوال عرف او نړیوالو حقوقو له مخې مؤجه نه دي؛ که چیرې هریرود یو پوله تېرېدونکی سیند هم وبولو، دا چې د هریرود سیندیزه حوزه ۴۵۴۵۹ کیلومتر مربع د ایران په خاوره کې واقع شوې ده او د هریرود سیند اوبو د پولې ها خوا د ایران خاورې ته هم پراختیا موندلې ده، نو بې له شکه تولې برخې یې د یو حقوقي نظام تر چتر لاندې راځي. په ایران کې د هریرود حوزه د قره قوم او کله هم د سرخس سیندیزې حوزې په نوم یادیږي. د ایران له لوري د سرخس، کشف رود، گنبدلی، صالح آباد- جنت آباد، فریمان، تربت جام، شهرنو، باخزر، تاباد او کرات فرعي برخو اوبه همدې سیند ته بهیږي. [13]

د یادې حوزې سطحي اوبه د ایران له لوري د څو بندونو په جوړولو سره مهار شوې. او شاوخوا ۴۰ بندونه د ایران خاورې په قره قوم حوزه کې پر ډیریو فرعي برخو کې د گټه اخیستنې، جوړولو او مطالعې په حال کې دي، [3]چې نه پریږدي اوبه یې هریرود ته وبهیږي. د دوستی بند چې د هریرود سیند اوبو پر سر په یو اړخیزه توگه او د افغانستان توافق او ورته د خبر ورکولو پرته جوړ شوی، په قره قوم حوزه کې د جوړ شویو بندونو یوه ښه بیلگه ده. د ایران له لوری د قره قوم د اوبو د کنترول او مهار پراخ پروگرام د دی لامل شوې ده چې تقریباً د ایران هیڅ اوبه هریرود ته و نه رسیږي او افغانستان د توجه محراق وگرځي.

په داسې حال کې چې په هریرود حوزه کې د ایران ونډه باید په هیڅ وجه له پامه ونه غورځول شي او د ایران هیواد هم باید د هریرود حوزې د اوبو په برابرولو کې، چې سرخس سیمه او بلاخره ترکمنستان ورڅخه گټه اخلي، خپله ونډه ولري.

د دې تر څنگ له اوبو څخه معقوله او عادلانه گټه اخیستنه یو له هغو اصولو څخه دی چې نړیوال قواعد او کمیسیونونه یې په اطاعت خورا ټینگار کوي. د هلیسنگی قواعد چې د نړیوالو عرفی قواعدو له جملې څخه دي، د یادو قواعدو د دوم فصل، ۴ ماده بیانوي چې: "په حوزه کې ښکیل هر هیواد حق لري چې معقولانه او منصفانه ونډه د نړیوالې حوزې له اوبو څخه د گټورو (مفیدو) کارونو لپاره ولري." منصفانه ویش په دې معنا نده چې هر هیواد دې په یوه اندازه اوبه ترلاسه کړي بلکه د هر هیواد ونډه، د یاد کنوانسیون په ۵ مادې کې د ذکر شویو عواملو له مخې ټاکل کیږي. د یادو قواعدو ۵ ماده بیا د منصفانه او معقولانه ونډې څرنگوالی بیانوي، دا ونډه د ځینو عواملو له مخې ټاکل کیږي، چې ځینې مهم لاملونه یې عبارت دي له:

۱- **د حوزې هیدرولوژي**، په ځانگړې توگه د اوبو په تولید کې د گډې حوزې هیوادونو ونډه (د هریرود اوبو پر سر چې د دوستي بند جوړ ده د افغانستان د اوبو پر سر جوړ شوی او ایران خپلې ټولې اوبه د څو بندونو په جوړولو سره مهار کړي دي او د هریرود د اوبو په تولید کې ونډه نلري)

۲- **د حوزې له اوبو څخه پخوانی کارونه، په ځانگړې توگه اوسنی کارونه** ( له تاریخي کاروني جوتیږي چې د پورتني هریرود د اوبو اصلي کارونکي د هرات اوسیدونکي دي)

۳- **په حوزه کې د هر هیواد اقتصادي او اجتماعي اړتیاوې** (افغانستان په اوسنیو شرایطو کې د سیمې تر ټولو هیوادونو په ځانگړې توگه د ایران په پرتله چې اتمې ځواک لري، له اقتصادي او اجتماعي پلوه کمزوری دی)

۴- **د گډې حوزې هیوادونو نسبی هزینه یا دارای چې په حوزه کې د اقتصادي او اجتماعي اړتیاوو د برابرولو خایناستی (جایگزین) کیدی شي** (ایران یو له هغه هیوادونو څخه دی چې د اقتصاد له پلوه د افغانستان په پرتله دیر بدایه دی او همداراز پریمانه تیل لري)

۵- **نورو سرچینو (منابعو) ته لاسرسی** ( افغانستان پرته له اوبو په اوسنیو شرایطو کې کومه بله داسې سرچینه په لاس کې نه لري چې وکولی شي د هغې په واسطه خپلې اړتیاوې پوره کړي، په داسې حال کې چې ایران له گڼو منابعو برخمن دی او په سیمه کې له ټولو هیوادونو سره پراخې اړیکې لري او په سیمه کې د تېلو، نفتو او بریښنا صادرونکی دی او گڼ شمیر توکي د تېلو نفتو او برښنا په شمول افغانستان ته صادروي.) او داسې نور عوامل.

همداراز د ۱۹۹۷کنوانسیون په پنځمه ماده کې بیا راغلي « هغه هیوادونه چې د اوبو منابع/مسیر کې ښکیل دي، مکلف دي چې په خپله خاوره کې د اوبو له نړیوالو سرچینو څخه په عادلانه او منصفانه توگه گټه واخلي. په ځانگړې توگه دا اړینه ده ترڅو یو نړیوال اوبیز مسیر څخه هغه هیوادونه، چې په دې مسیر کې پراته دي، داسې گټه واخلي او وده او پراختیا ورکړي، چې په یاد مسیر د نورو پرتو هیوادونو د اعظمي او دوامداره استفادې ملاحظات او همدارنگه گټې یې په پام کې نیولې وي. او د اوبو سرچینو د ساتنې لپاره اړین اقدامات ترسره شوي وي.»

او د دې تر څنگ د ۲۰۰۴ کال د برلین قواعدو په ۱۲ ماده کې د منصفانه گټې اخیستنې تر عنوان لاندې یادونه کوي، چې « د سیندیزې حوزې هیوادونه په خپله خاوره کې د نړیوالې حوزې اوبه باید په منصفانه او معقولانه توگه او په حوزه کې نورو ښکیلو هیوادونو ته د توجه وړ ضرر نه رسولو اصل په پام کې نیولو سره مدیریت کړي.» چې دا ماده په اصل کې هماغه د هلسینکي قواعدو ۴ ماده او د ۱۹۹۷ کنوانسیون ۵ ماده ده.

افغانستان هم یادو اصولو ته په کتو کولای شي په هریرود حوزه کې خپل له لاسه ورکړي او ورک حقونه (د تاسیساتو جوړول، د زراعتي ځمکو بیا رغونه، د بریښنا تولید او ...) ترلاسه کړي. او د موجوده پټانسیلونو او تاریخي کاروني څخه په استفادې د هریرود حوزې د اوبو زیرمو ته کم تر کمه د سیمې نورو هیوادونو په کچه وده ورکړي؛ ځکه دا په هیڅ وجه منصفانه او معقولانه نده چې پورته پرته سیمه کې (چیرې چې د اوبو زیاته برخه تولیدیږي) حتی د ښښاک پاکو اوبو او کافي خواړو ته لاسرسی نه لري او زیات شمیر وگړي د امکاناتو د نشتوالي او د اوبو د کنټرول د ودانیو د نشتوالي له امله هر کال د ژمي د سختې یخنی او د پسرلني سیلابونو له گواښ سره مخ وي؛ خو د اوبو او سیلابونو د مهار لپاره د پروژو د پلي کولو اجازه دې ونه لري. او په لاندې پرتو سیمو کې پراته هیوادونه د بندونو، کانالونو او د اوبو بیځایه کاروني په واسطه، اوبه په نامعقوله توگه مصرف کړي. دا هم منصفانه نده چې افغانستان تقریباً ۸۰ سلنه بریښنا له بهرنیو هیوادونو را واردوي؛ خو ایران او ترکمنستان بیا پر افغانستان بریښنا پلوري. د احصایې ملي اداری د ۱۳۹۹ کال راپور په اساس افغانستان له ایران څخه ۸۱۷.۳۹ میلیون کیلووات/ساعت او له ترکمنستان څخه ۷۳۳.۱۹ میلیون کیلووات/ساعت برېښنا را واردوي. [14]

د هلسینگي قواعد ، په ۲۹ ماده کې، د مخکې خبر ورکولو (Prior Notification) په هکله داسې راغلي: "د دې لپاره چې د سیندیزې حوزې هیوادونو ترمنځ د قانوني حقونو یا نورو

د اوبو او انرژي فصلنامه
یوولسم کال نولسمه ګڼه، د ۱۴۰۱ هـ ش کال دوهم ربع چې د ۱۴۴۳- ۱۴۴۴هـ - ق کال سره سمون لري

ګټو په اړه د شخړو مخنیوی وشي، دا سپارښتنه کیږي چې د سینديزې حوزې هر هیواد چې په خپله خاوره کې د حوزې د اوبو په اړه اړونده او معقول معلومات په لاس کې ولري باید له نورو هیوادونو سره یې شریک کړي." د همدې مادې په دویم پراګراف کې لیکل شوي دي "یو دولت، پرته له دې چې په اوبیزه حوزه کې د هغه موقعیت په پام کې ونیول شي، باید په خاصه توګه په اوبیزه حوزه کې هر هغه هیواد ته چې ممکنې ګټې یې د پام وړ تاثیر لاندې واقع شي، د هر دول وړاندیز شوي تأسیساتو د جوړولو او نصب کولو په اړه چې د حوزې رژیم ته په یو ډول تغیر ورکولی شي، وړاندې کړي.

همدا راز د ۱۹۹۲ کنوانسیون ۹ ماده داسې صراحت لري چې: که چیرې په حوزه کې دوه یا ډیر ګډ نهادونه شتون ولري، دوی باید هڅه وکړي چې خپل فعالیتونه په حوزه کې د فرامرزي اغیزو د مخنیوي، کنترول او کموالي په موخه همغږي کړي .

د دې تر څنګ د ملګرو ملتونو د ۱۹۹۷ کنوانسیون د دولسمې مادې په اساس هغه هیوادونه، چې د پوله تېرېدونکو اوبو د مسیر په اوږدو کې پراته دي، مکلف ګرځوي چې په مسیر پراته نور هیوادونو ته د خپلو پلان شویو کړنو په اړه په خپل وخت سره خبر ورکړي؛

خو ایران او ترکمنستان په لاندې پرته سیمه کې د څو موافقتنامو په ګډون د دوستۍ بند جوړولو پر وخت افغان حکومت ته خبر ورنکړ او نه یې په دې هکله معلومات شریک کړل. د یاد بند پر جوړولو افغان دولت رسماً اعتراض وکړ او د کار په جریان کې هم افغان دولت د رسمي یادښت لیږلو سره خپل رسمي دریځ وښود او له دې کار سره یې شدید مخالفت ښکاره کړ او د کار بندولو غوښتنه یې وکړه؛ خو مقابل لورې په دې هکله هیڅ توجه ونښودله او د یاد بند کارونه یې سرته ورسول. له همدې امله د ایران دولت لخوا یو اړخیز عمل او د افغان دولت د اندیښنو په پام کې نیولو پرته د نړیوال عرف او حقوقو خلاف عمل دی. د ایران او ترکمنستان دا کار، افغانستان دې ته اړ باسي او په هغه موقف کې یې واقع کوي څو پر وړاندې یې متقابل چلند (عمل بالمثل) غوره کړي، او یادو هیوادونو ته د مخکینۍ خبرتیا پرته خپل تاسیسات پیل کړي. متقابل چلند د نړیوالو حقوقو له نظره په نړیواله کچه یو پیژندل شوی اصل دی، چې پر اساس یې هیوادونه د یو اړخیزو اقداماتو په ترسره کولو سره هڅه کوي ترڅو هغه هیوادونه چې مخکې یې د نړیوالو حقوقو او مقرراتو څخه سرغړونې کړې وي، مجبور کړي، څو له یادو مقرراتو څخه اطاعت وکړي.

په پای کې باید ووایو، چې د ایران له لوري د هیواد دننه او همدا راز له افغانستان سره د ګډې پولې سطحي او ځمکې لاندې اوبو د زیرمو د ناسم مدیریت له وجې نه یوازې خپل ځان ته سرخوږی جوړ کړی او ایران یې د اوبو بحران خواته بیولی دی، بلکه دا ډول نه سنجول شوې کړنې د افغانستان او ایران هیوادنو تر منځ د اختلافاتو لامل ګرځېدلې دي او اوبه یې د شخړو په وسیلې بدلې کړې دي؛ په داسې حال کې چې اوبه باید د دوه هیوادونو تر منځ د مرستو د پراختیا او دوستۍ وسیله و اوسیږي. اوس د دې وخت رارسیدلی چې افغانستان له محرومیتونو څخه ځان وژغوري او د خپل ځان لپاره د اوبو د تلپاتو زیرمو په رامنځته کولو او د هریرود حوزې د ودې لپاره چې د افغانستان مشروع حق دی، اقدام وکړي، له خپلو اقتصادي او ټولنیزو حقوقو څخه په عادلانه او معقولانه ډول ګټه پورته کړي.

## پایله

- افغانستان تر اوسه په هریرود سیندیزه حوزه کې د پورته پروت هیواد په توګه له خپلو ښکته پرتو ګاونډیو هیوادونو سره کوم تړون نده لاسلیک کړی؛ په داسې حال کې چې ایران او ترکمنستان پرته له دې چې دا په پام کې ولري چې افغانستان د هریرود د اوبو اصلي منبع دی، د اوبو د ګډو منابعو په هکله سره توافق ته رسیدلي دي.
- د هریرود سیند اوبه په درې هیوادونو (افغانستان، ایران، ترکمنستان) کې جریان مومي، له همدې امله پر دې سیند هر دول اقدام د هر یو هیواد له لوري چې ترسره کیږي باید د دې حوزې نورو اړوندو هیوادونو ته خبر ورکړل شي. خو ایران او ترکمنستان د خپلو اقداماتو او په لاندې پرته سیمه کې د دوستۍ بند جوړولو پر وخت له افغان حکومت سره نه مشوره کړې او نه یې ورسره په دې اړه معلومات شریک کړي دي. له همدې کبله د ایران او ترکمنستان دولتونو لخوا یو اړخیز عمل او د افغانستان دولت اندیښنې په پام کې نیولو پرته د نړیوال عرف او حقوقو خلاف عمل دی.
- افغان دولت د دوستۍ بند پر جوړولو رسماً اعتراض کړی او له دې کار سره یې شدید مخالفت ښکاره کړی دی او د دې کار بندولو غوښتنه یې کړې ده؛ مقابل لوري په دې هکله حتا هیڅ توجه نده ښودلې او کلونه کلونه یې د افغانستان له اوبو پرته له کوم امتیازه ګټه اخیستې ده. که چیرې افغانستان په هریرود حوزه کې کومه پروژه پلې کوي دا اعتراض چې د افغانستان له لوري شوی د ایران او ترکمنستان هیوادونو د حقوقي اعتراض او مخالفت دروازې تړي.
- د ایران د اوبو کمښت، په سیمه کې، د وچکالۍ او له دې څخه هم مهمه د ایران اوبو د مدیریت کوونکو د ناسم او غلط مدیریت او سیاستونو پایله ده. افغانستان نباید د ایران د اوبو د مدیریت کوونکو د غلطۍ تاوان له خپلې برخې پرې کړي.
- دا چې هریرود یو موسمي پوله تېرېدونکی سیند دی، د هریرود سیند اوبو پر سر په اوس وخت کې له ایران سره مذاکرې ته اړتیا نه لیدل کیږي.
- افغانستان په هریرود حوزه کې په تاریخي استفادې او منصفانه او عادلانه اصولو تکیه کولو سره کولای شي خپل ورک شوي حقونه تر لاسه کړي او د شته پوتانسیلونو او تاریخي کارونې څخه په استفادې د هریرود حوزې زیرمو ته کم تر کمه د سیمې نورو هیوادونو په کچه په منصفانه او معقولانه توګه وده ورکړي او د اوبو شته منابعو او پوتانسیلونو څخه د کرنیزو ځمکو پراختیا او انرژۍ په تولید کې ګټه واخلي.

## اخذلیکونه:

[1] س. محمودمحمودی ,مدیریت جامع منابع آبی در حوزه آبریز افغانستان، جلد دوم, کابل: انتشارات پرند, تابستان ۱۳۹٦ .

[2] د. ا. ا. و. د. پ. ت. ا. ریاست ,MEW ,کابل, ۱٤۰۱.

[3] س. حسینی, هریرود (مرور بر حوزه ی آبریز), هرات: د افغانستان د استرانیژیکو مطالعاتو انستیتوت, ۱۳۹۷ .

[4] A. P. Elhance, Hydropolitics in the Third World: Conflict and cooperation in international river basins., US: US Institute of Peace Press, 1999.

[5] "Gleick, 1993; Homer-Dixon, 1995; Stucki, 2005; Kramer, 2008; Zeitoun & Warner, 2006".

[6] م. ا. م. اسفزاری, روضات الجنات فی اوصاف مدینه هرات, ۸۹۷-۹ ه ق ..

[7] ا. ا. ح. م. د. ج. شعار, سفرنامه ی ابن حوقل یا ایران در صوره الارض .

[8] ا. ا. ی. ب. یعقوبی ,البلدان, تهران :انقره, ۲۷۹ ه ق ، ۱۳۳۷ ه ش ..

[9] و. و. بارتولد ,آبیاری در ترکستان, ۱۹۳۰-۱۸٦۹ .

[10]د. م. ر. دهشیری, "دیپلوماسی آب ایران در قبال همسایگان," in *فصلنامه سیاست های راهبردی و کلان* , تهران, دانشکده روابط بین الملل وزارت امور خارجه ایران, گروه مطالعات منطقه ای, ۱۳۹۷, p. ٦۰۲.

[11]و. ع. ایران, قانون مدنی, تهران, ۱۳٦۹ .

[12] م. ب. ا. أ. ن. پوری, صحیح المسلم, بیروت: داراحیاء التراث العربی .

[13] ب. ا. آریوبی, د افغانستان د اوبو منابعو مدیریت ( نړیوال مقررات او سیمه ایز تعاملات), کابل: سوله خپرندویه ټولنه, ۱۳۹۹ .

[14] د. ا. د. ا. ا. م. م. اداره ,سالنامه احصایوی ۱۳۹۹، کابل, ۱۳۹۹ .

# لمریز بریښنایي سیستم

لیکوال: ضیأالله "ضیأ"

## شالید

په اوسني وخت کې لمر د بریښنا په تولید کې رغنده او اساسي رول لري، خو په ځانګړي ډول په پیشرفته هیوادونو کې له لمر څخه د انرژۍ په تولید کې په ډیره لویه کچه ګټه اخیستل کیږي.

د لمریزې انرژۍ پېژندنه او همدا ډول له هغې څخه په مختلفو ډګرونو کې ګټه اخیستنه له ډیر پخوا د انسانانو په منځ کې رواج موندلی دی. داسې انګیرل کیږي، چې سفالګریانو به د لمر او صیقل شوو طلایي جامو په مرسته د خپلو معبدونو محرابونه روښانه کول، او همدارنګه ویل کیږي، چې د مصر خلکو داسې یو معبد جوړ کړی وو، چې د لمر په راختو به یې دروازه خلاصیده او د لمر په پریوتو (غروب) به د هغه دروازې تړل کېدې.

په داسې حال کې چې د څو پیړیو را پدېخوا د لمریزې انرژۍ د ګټو په اړه یو لږ زیاتې څیړنې تر سره شوې دي، خو هېره دې نه وي، چې د لمریزې انرژۍ د ابتدایي پانګې ډیرښت تر یو بریده د یادې انرژۍ د پرمختګ مخه نیولې ده، خو بیا هم د یادې انرژۍ تولید په صنعتي پرمختللو هیوادونو کې د تیلو او ګازو د بیو د لوړوالي له امله د پام وړ پرمختګ کړی دی.

لکه څرنګه چې مو مخکې وویل لمریزه بریښنا له ډېرو پخوا وختونو کشف شوې ده، خو فزیک پوه Alexandre –Edmond Becquerel وکولای شول چې په 1839م کال کې په لومړي ځل فوتو ولتانیک سیستم (د لمر له نور څخه د بریښنا تولید) کشف کړي. او په دې هکله ویلیم آدم په 1878م کال اولین کتاب " په ګرم سیرو هیوادونو کې د تیلو بدیل" په نوم یو کتاب ولیکه چې کولای شو په یاد ډګر کې یې د یو ستر ګام په توګه ومنو، همدارنګه چارلیس فریت په 1883م کال کې لمریزو سلولونو (Solar cell) په کشفولو بریالی پیژندل شوی.

### لمریزه بریښنا

مخکې لدې چې له لمر څخه د بریښنا د تولید په څرنګوالي رڼا واچوو اړینه ده، چې هغه مفاهیم او اجزا چې په دغه جریان کې ترې کار اخیستل کیږي و پېژنو.

**په عمومي ډول دغه اجزا عبارت دي له:**

۱. د لمر وړانګې
۲. د لمریزې بریښنا سیستم (سولر پینل)
۳. چارج کنترولر
۴. بطري
۵. مولد (Inverter)

### ۱. د لمر وړانګې

لکه څرنګه چې ددې انرژۍ له نوم څخه څرګندیږي، لمر د دا ډول انرژۍ په تولید کې یو اساسي او رغنده رول لوبوي. که چیرته مونږ ونشو کړای خپل سولر ته لمر ورسوو هیڅ امکان به ونلری چې مونږ به په خپل ماموریت (انرژۍ تولید) کې بریالی شو. کله چې د لمر فوتونونه په سولر (سلول) ولګیږي، کیدای شي له هغه څخه تېر، منعکس شي او یا د سلول په واسطه جذب شي. خو یوازې جذب شوي فوتونونه د بریښنا د تولید لپاره انرژي برابروي. اما هېره نه وي چې په توله مانا تل اړینه نده چې مونږ دې ځلیدونکي لمر وړانګې ولرو، ځکه د ورځې په جریان کې حد اقل دومره رڼا شتون لري چې مونږ پرې بسنه وکړو چې ښه بیلګه د انګلستان هیواد دی چې تل تت لمر لري خو په دغه هیواد کې د لمریزې انرژۍ پروژې د پلي کېدو وړ دي.

د یاودنې ده، چې ځمکې ته یوازې ۴۷ سلنه د لمر وړانګې را رسیږي، او نور پاتې وړانګې په اتوموسفیر او نورو قشرونو کې پاشل کیږي.



پینل د څو سلولونو یو ځای کولو ته وایې، د مثال په ډول که موږ څو دانې سلولونه څنګ په څنګ سره کېږدو هغه ته موږ د سولر پینل ویلی شو او سولر پینل هم لکه د لمر په شان په دغه عرصه کې یو اساسي نقش لري یعنې د همدې سیستم په مرسته کولای شو چې د لمر وړانګو

څخه برېښنا یا برق تولید کړو چې په علمي او تخنیکي ډول دغې پروسې ته فوتو ولتانیک وایي.




په تولیزه توګه سلول پینل یو ساده بکس دی چې له سلولونو څخه جوړ شوی دی (د سلول په جوړښت او ځرنګوالي وروسته بشپړ بحث شوی دی) خو په اوسط ډول هر سلول د ۰،۵ v او ۰،٦ v تر منځ د مستقیمې برېښنا (DC)د تولید ظرفیت لري. دا چې سولر پینل له سلولونو څخه جوړ شوی دی له همدې کبله د هر سولر د ولتاژ ظرفیت په اصل کې د سلولونو په شمیر او اندازې پورې اړه لري چې په همدغه تاکلي سولر ځای په ځای شوی دي. یعني که چیرته یو سولر له ۳۲ اوسط سولولونو څخه جوړ شي کولای شو په تخمیني ډول د v۱٦ تر v۱۹ په ظرفیت مستقیمه برېښنا جوړه کړي په داسې حال کې چې په اوسط ډول هر سلول د x6۳ انچو په اندازه جوړېږي.. بناء د سولر پینل توان هم په ولتاژ (د سولولونو شمېر) او هم د سیلونو په اندازې پورې اړه لري یعني هر څومره چې د سلول اندازه زیاته وي په همغه اندازه زیات جریان (امپیر) تولیدولی شي. که وغواړو د یو سولر توان معلوم کړو نو د ټولو سلولونو مجموعي ولتاژ د هغوی په جریان کې ضربوو ( volt × Amph) د یادوني ده، چې په جرمني کې د کورنو په چتونو د v-16v۱۸ فوتو ولتانیک سولر نصب شوي، چې په اوسط ډول په کال کې د kw۱۰۰۰ په شاوخوا کې برېښنا جوړوي. چې دریمه برخه د یوې کورنی اړتیا پوره کوي هیره دې نه وي، چې د برېښنایي سولرونو تر څنګ ځینې اوبیز پینلونه هم شتون لري چې د اوبو د ګرمولو لپاره ترې ګټه اخیستل کیږي.

## څنګه کولای شو یو سولر سلول جوړ کړو؟

دا چې مو ولیدل چې سلول د د فوتو ولتیک سیستم یو حیاتي برخه ده نو اړینه ده، چې د سولول په جوړښت او ځرنګوالی په لاندې ډول څو مرحلو کې رڼا وا چوو.


## لومړی پړاو (مرحله): په طبیعي خالص رنګ د تیتانیوم ډي اوکساید رنګول :

یوه ښیښه (فیلم) چې په خپل ترکیب کې ډي اوکساید تیتانیوم (TIO2) مواد ولري او همدارنګه یاده ښیښه د ستانیم ډي اوکساید (SnO ) په یو شفافه عایق پوښل شوی را واخلئ او بیا یې په هغه محلول کې چې د تور توتانو، شاتوت، انارو دانو له اوبو څخه جوړ شوی د ۵ دقیقو لپاره غوټه کړي ترڅو دغه فیلم ارغواني سور بخن پوخ رنګ غوره کړئ. که چیرې د فیلم دواړه اړخونه عین رنګ غوره نکړي نو د ۵ نورو دقیقو لپاره دغه ښیښنه په دغه محلول کې پریږدئ. کله چې اطمیناني شوئ نو دغه ښیښنه په اتانولو(C2H6O) باندې پریمنځئ او بیایې په ډېره ماهرانه ډول په یو نرم توکي وچه کړئ.



## دوهم پړاو (مرحله): په طبیعي خالص رنګ د تیتانیوم ډي اوکساید رنګول:


ددې لپاره چې د سولر سلولونه فعاله کړو اړینه ده چې په سلول کې مثبت او منفي لوحې نصب کړو.



## - بطري

بطري هم د فوتو ولتیک سیستم یو بشپړونکی جز دی چې لاندې جوړښت لري.

١- پلاستیکي څو خانیز پوښ ( چې له پروافیلن له موادو جوړیږي)
٢. مثبت او منفي لوحې چې له جستو څخه جوړې شوې دي.
٣. جدا کوونکې لوحې ( چې په اوسط ډول ٦ خاني جوړوي)
۴. تیزاب (سلفریک اسید او اوبه)
۵. د جستو څخه جوړ شوي ترمینالونه



د اوبو او انرژي فصلنامه
یوولسم کال نولسمه گڼه، د ۱۴۰۱ هـ ش کال دوهم ربع چې د ۱۴۴۳- ۱۴۴۴هـ - ق کال سره سمون لري

# دسېلابونو د زيانونو عوامل او د هغه د کنترول حل لارې

ترتيب کوونکي انجينرفضل الرحمن "عمرزی"

د اوربښتونو له کبله رامنځ ته شوي سېلابونو په ټول هيواد کې ډيرې سيمې زيانمنې کړې دي خلکو ته يې مالي او ځاني زيانونه ورسول د سيلاب د زيان اړونې د کچې زياتوالي ګڼ شمېر عوامل لري چې ځيني يې په لاندې ډول دي.



- په غرونو کې د عامو خلکو لخوا د ځنګلاتو شنو بوټو په خپل سروهل او د سون مادې په حيث د هغو څخه استفاده کول همدا علت دی، چې باران يعنې اوربښت خاوره نه جذب کوي او په زيات سرعت سره د باران اوبه سره يوځای کيږي او د ځان سره ډير رسوبات انتقالوي څکه شنې ساحې د اوبو په جذب کې مهم رول لري .



- د تيزو بارانونو په واسطه د ځمکې خاوره مينځل کيږي او د شيلو سبب ګرځي يوازې شګې پاتې کيږي چې ګياه او شنه بوټي پکې ښه وده او نمو نشي کولی همدا شګلنه ساحه اوبه نه جذبوي اومستقيماً اوبه سره يوځای کيږي او د سيلاب د حجم سره مرسته کوي .



په دښتو او ډاګونو کې دکښت او باغونو نه موجوديت او نورو زراعتي فعاليتونو د کمښت له امله د سيلابونو په رامنځته کيدو سره خاوره مينځل کيږي او د زراعتي خاورو رسوبات انتقالوي خوړونو ته چې رسوبات د سيلابونو په حجم کې ځانګړی اهميت لري او ډير تخريبات او زيانونه رامنځ ته کوي .



- په سيلابي ساحو کې د خاورين بندونو يا فرعي ډنډونو موجوديت چې رسوبات او د سيلاب د اوبو حجم کنترول کړي.



- د خلکو له لوري د سيلابي اوبو لارې (خوړونه) بندول او د اوبو د طبعي مسير په مقابل کې ودانۍ جوړول .



- د اوبو لار (خوړ) د زراعتي ځمکو په توګه کارول.

د ځمکې ناسمه او غير مسلکي کندنه او په خپل سر د اراضي بڼې ته تغير ورکول.





- - د شته تأسيساتو نه ساتنه او د هغه حفظ او مراقبت ته جدي توجو نه کول.



- -په سيندونو او خوړونو کې د رسوباتو د حجم زياتوالی او د خوړ د عرضي ميلان تغير چې د سيلاب د مسير د تغير سبب کيږي په نتيجه کې زياتو ساحو د تخريب سبب ګرځي.



• -په سیندونو او خوړونکی د رسوباتو د حجم زیاتوالی او د خوړ د عرضي میلان تغیر چې د سیلاب دمسیر د تغیر سبب کیږي په نتیجه کې زیاتو ساحو د تخریب سبب ګرځي.

## دوهم د سیلابونو د کنترول د حل لارې :

• د غرونو د ځنګلاتو او بوټو حفظ او مراقبت باید وشي او د غرونو هغه برخې چې ونې نه لري، باید ونې پکې وکرل شي او د ګیا تخمونه هم په هغو ساحو کې وشیندل شي چې د ګیا څخه خالي دي نو د بارانونو او واورو اوبه به په ښه ډول سره خاوره جذب کوي چې د عظمي سیلابونو رامنځته کیدلو مخنیوي کوي او زیرزمیني اوبه هم تغذیه کوي لکه چینې او کاریزونه او خلکو ته د کار زمینه هم مساعده کیږي.



• د اور په مقابل کې باید د غرونو جدي ساتنه وشي کومه ځمکه چې ځنګلات، بوټي او ګیاه ولري هلته د باران د اورښت د جذب قابلیت زیات وي او د ځمکې په منفذونو کې ښه نشر کېږي او د سیلاب د حجم ظرفیت کموي او د غرونو د ښویدو مخنیوي هم کیږي .

• او همدارنګه ټول وزارتونه خپلې د اراضې ساحې تثبیت او د غصب مخنیوی یې وشي .
• په غرونو، غونډیو او ډاګونو کې د اوبو د ټولونې ساحه یعنې water shed د پروژو تطبیق کول چې د سیلابونو په کنترول او د زیرزمني د اوبو د تغذیې لپاره موثره طریقه ده او خلکو ته د کار زمینه برابریږي.
• د اوبو د منابع او د تأسیساتو دحریمونو تثبیت کول د سیلابونو په کنترول کې مهم اهمیت لري.
په حوبلیو کې د کم عمق څاګانو ابستل چې هلته د کورونو د بامونو اوبه زخیره شي د زیرزمني اوبه په ښه ډول تغذیه کوي او په کانالونو کې د اوبو مقدار کنترولیږي او تخریبات زراعت ته نه رسوي .
• د اوبو د منابعو او سیلابي ساحو کې د اساسي او خامه کانالونو طرحه کول چې د سیلاب تخریبات کنترولوي او د زراعت لپاره هم تری استفاده کیږي .
• په سیلابي ساحو کې د خاورین بندونو جوړول ډیر ضروري دي .
• د بندونو جوړول خو ډیره بهتره خبره ده که امکانات وي ځکه بندونه ډیرې بودیجې ته ضرورت لري د امکاناتو لپاره یوه لاره داده چې په ټولو ولایتونو کې د وړو وړو پروژو پرځای د اوبو اساسي پروژې تطبق شي زما په اند دا به د هېواد په اقتصاد باندې مؤثر تاثیر ولري څرنګه چې د دولت نورو وزارتونو د انکشافي پروژو لپاره کومه بودیجه تخصیص کیږي نو د اوبو او انرژي وزارت ته دې نسبت نورو وزارتونو ته په انکشافي برخه کې زیاته بودیجه ونیول شي چې مهم بندونه پرې جوړشي چې هم د انرژي څخه او هم د زراعت څخه زمونږ هېواد په ځان بسیا شي او خلکو ته پراخه کاري زمینه مساعده کیږی او د بندونو لومړیتوب چې د کومو بندونو څخه زمونږ هېواد ډیر غني کیداي شي او عایدات او د زراعت لپاره ډیر مؤثر وي اول باید هغه جوړ شي ځکه زمونږ هېواد هم د څښاک د اوبو له کمښت او هم د زراعت لپاره د اوبو د جدی ستونزې سره مخامخ دی، او د سیلابونو د مالي او ځاني زیانونو څخه به وژغورل شو که دا کاروشي لاندې ګټې لري د اوبود Water table سطحه به راپورته شي.

- ✓ چینې بیرته راژوندۍ کیږي.
- ✓ د څښاک د اوبو څاه ګانې راژوندۍ کیږي.
- ✓ له کاره لویدلې د اوبو رسونې شبکې بیرته فعالولی شو.
- ✓ د برق او انرژي څخه زمونږ هېواد پوره غني کیدای شي.
- ✓ چاپیریال او فضا مو د الوده ګي څخه ژغورل کیږي.
- ✓ زراعت مو ښه پرمختګ کولی شي.
- ✓ خلکو ته پراخه کاري زمینه برابریږي.
- ✓ صنعت مو پیاوړی کیږي.
- ✓ واردات مو کمیږي او په مقابل کې یې صادرات زیاتیږي.
- ✓ هېواد مو د فقر او غربت څخه خلاصیږي.
- ✓ د ګاونډیو هیوادونو د اړتیاوو او مجبوریتونو څخه خلاصیږو.
- ✓ اوبه به مومهارشي.
- ✓ عایدات مولوړیږي.

د اوبو او انرژي فصلنامه
یولسم کال نولسمه ګڼه، د ۱۴۰۱ هـ ش کال دوهم ربع چې د ۱۴۴۳- ۱۴۴۴هـ - ق کال سره سمون لري

# د افغانستان د اسلامي امارت د استقرار څخه راوروسته د اوبو او انرژي وزارت د انرژي معینیت اړوند د انرژي د پالیسیو ریاست یو کلنو کړنو ته کتنه!

ترتیب کوونکی: ډاکتر فتح الله خالد

دا چې د تمدن فعلي تر ټولو مهم رکن (برېښنا) بللی شو، او یو هیواد چې د افغانستان غوندې حاصل خیزه ځمکه ولري، د خړوبولو لپاره د اوبو بندونو ته ضرورت دی؛ تر څو کرهڼه چې د یوه هیواد د اقتصادي بډاینې په لار کې مهم رول لري؛ دا چې کرهنې مو توسعه کړې وي اوبو ته ضروت دی، نو د اوبو او انرژي وزارت د هیواد له سرشاره اوبو، باد، شفاف لمر او د سوځېدونکو پریمانه معدنونو څخه د ګران هېواد افغانستان د پراخو ځمکو د خړوبولو، د صنعتي پارکونو، فابریکو د چلولو، د برېښنا د را واردولو پر ځای په کور د ننه د کم مصرفه برېښنا برابرولو لپاره ځان ژمن بولي چې د اوبو او برېښنا بندونه جوړ کړي او په دې لار کې داسې پالیسیو ته ضرورت دی، چې د پورته ذکر شویو حیاتي سکتورنو څخه سمه ګټه اخیستنه تحقق ومومي نو په همدې منظور د یاد وزارت په چوکاټ کې د انرژي معینیت اړوند د انرژي د پالیسیو ریاست چې د دغه وزارت یو د کلیدي ریاستونو څخه دی، په ۱۳۸۸هـ ش کال کې د ضرورت په اساس دغه ریاست رامنځته شوی دی، دغه ریاست د وزارت اړوند د انرژي په برخه کې د ټولو تقنیني سندونو لکه پالیسیو، قوانینو، طرزالعملونو او مسودو د ترتیب او تدوین دنده په غاړه لري، یاد ریاست چې دوه امریتونه او نیږدې په شپاړسو متخصصینو او کارشناسانو مشتمل دی، په تېر یو کال کې تر سره کړي، تر کار لاندې، په پلان کې کارونه په لاندې ډول دي:

۱: دا نرژي او برېښنا خدماتو د قانون بیا کتنه

۲: د انرژي او برېښنا د تولید ،انتقال ، توزیع ، وارداتو او صادراتو د جواز ورکولو او کرڼلارې پروسې بیا کتنه

۳: د Net Metering یا د بام په سر د سولر دستګاه نصبوبولو کرڼلارې بیا کتنه

۴: د تولید شویو منابعو او د برېښنا د توزیع لپاره د تعرفې د لوړي ټاکلو د لارو چارو او بیا کتنه

۵: د بین الوزارتي کمیسون د پروپوزل ترتیبول

۶: د انرژي معینیت مسؤ لیتونو او صلاحیتونو کړنلارې ترتیبول

همدارنګه لاندې پالیسي ګانې هم ترتیب شوې دي:

۱: په ودانیو کې د انرژي د تحفظ د پالیسي مسودې ترتیبول

۲: د لمریزې انرژي د پالیسي مسودې ترتیبول

۳: د انرژي د موثریت پالیسي مسودې ترتیبول

۴: د لوړ مصرف لرونکو معمولي څراغونو په وارداتو د محدویت پالیسي مسودې ترتیبول

۵: د انرژي د سکتور په برخه کې د اړتیا وړ انرژ ي کړنلارې پالیسي مسودې ترتیبول

۶: د انرژي تولید د مختلفو منابعو څخه د مالي او تخنیکي ماډلونو پالیسي مسودې ترتیبول

۷: د بین الوزارتي کمیسون ترمنځ د پرپوزل ترتیبول

۸: د پالیسیو او طرزالعملونو ژباړه په دریو ژبو(دری ،پښتو او انګلیسي)

۹: د پالیسیو ریاست تشکیل ترتیبول

۱۰: د انرژي پالیسیو ریاست د ډیټابیس، ارشیف او ډیجیټل سیستم جوړول

په راتلونکې کې لاندې کارونه په پلان کې لري:

۱: د انرژي امنیت پالیسي.

۲: د مشارکت عامه او خصوصي پروژو د څارنې کړنلاره.

۳: د برېښنا انرژي د نوي قانون ترتیبول.

۴: د انرژي د مثمریت قانون ترتیبول.

همدارنګه یو شمیر نور اړوند ضروري اسناد چې د انرژي د بهبود په لار کې په کار راځي په پلان کې نیول شوي او په ترتیبولو یې کار شروع شوی دی.

د یادولو وړ دي چې د نوموړو اسنادو څخه ځینې وروستي شوي او د منظورۍ لپاره چمتو دي او وروسته له منظورۍ څخه به د اجرا وړ وي، یو شمیر چې د مقام له لوري تائید شوي دي د منظورۍ لپاره لوړو مقاماتو ته لېږل شوي دي دا په داسې حال کې ده چې یاد ریاست د اسلامي امارت د راتګ څخه مخکې ۷ تنه تشکیل پوره کړی وه د دوو تر دریو پالیسیو معمولي کار تر سره شوی وه خو اوس یاد ریاست تر شلو زیات تشکیل لري، یاد ریاست اوس د خوځنده ځوانې کاري ډلې په درلودلو سره د انرژي معینیت د تقنیني سندونو په لار کې د پلان سره سم روان دي، امید ددې دی چې په راتلونکې کې به د یاد وزارت د انرژي معینیت په ټوله معنا د ټولو تقنیني سندونو خاوند وي.

د انرژي د پالیسیو ریاست له خوا د دغو تقنیني سندونو د برابرولو موخه که له یوې خوا د شته منابعو څخه د انرژي سم تولید دی له بل پلوه به د هیواد په سطحه د انرژي د معیاري پالیسیو او طرزالعملونو په ترتیبولو سره به هغه خارجي ډونران چې غواړي په افغانستان کې پانګونه وکړي په اسانی سره به په انګلیسي ژبه د اوبو او انرژي وزارت د ویب سایت څخه به ټولو پالیسیو او طرزالعملونو ته لاس رسی ولري او همدارنګه هغه څیړونکي، محصلین او نور چې غواړي د انرژي په برخه کې څیړنې وکړي په اسانی سره د هیواد په دواړو رسمي ژبو او انګلیسي ژبه ټولو پالیسیو، طرزالعملونو او نورو اړونده معلوماتو ته لاس رسی لرلی شي.

د انرژي د پالیسیو ریاست سره ددې چې د پالیسیو او تقنیني سندونو د جوړولو، ترتیبولو دنده په غاړه لري، په پلان کې لري چې د هیواد د پوهنتونونو سره په ګډه د انرژي د بهبودۍ لپاره یو شمیر سیمینارونه په لار واچوي همدارنګه د وزارت اړوندو ریاستونو کارمندانو ته د انرژي اړوند پالیسیو او طرزالعملونو په باره کې د عامه اګاهي پروګرامونه په لاره واچوي، هیره دې نه وي چې یاد ریاست د بین الوزارتي موضوعاتو په اړه چې څو ګوني وزارتونه په کې شامل دي، د هغوی د نماینده ګانو سره د کمیټو په ایجادولو سره ګډ کار کوي چې یو له هغو څخه د انرژي د ملي پالیسي د تدوین او ترتیب په اړه تازه د څلورو سکټوري وزارتونو د نماینده ګانو سره د دغه ریاست د متخصصینو له خوا کار شروع شوي چې په پایله کې به د افغانستان په سطحه د انرژي په برخه کې یوه جامع پالیسي ولرو تر څو د انرژي په سکتور کې د چارو د اسانتیا څخه ډاډ ترلاسه کړو او انرژي په سکتور کې د انرژي د بهبودۍ تر حده به کار وشي، یاد ریاست فعلا د انرژي په ځانګړي ډول د برېښنا انرژي په برخه کې د جامع پالیسیو او کړنلارو په جوړولو کار کوي، دا په داسې حال کې ده چې مخکې یا جامع او یا ټولنلې پالیسي ګانې نه وې او یا یې موثریت کم وه ځکه چې تر اوسه د انرژي په سکتور کې ستونزې همغه شان موجودې دي.

د اوبو او انرژي فصلنامه
یوولسم کال نولسمه گڼه، د ۱۴۰۱ هـ ش کال دوهم ربع چې د ۱۴۴۳- ۱۴۴۴هـ - ق کال سره سمون لري


# تحلیل اوسط بارند گی سالانه در سطح حوزه های دریایی افغانستان

انجنیر فایزالرحمن عزیزی

بطور کلی، شناخت چگونگی روند تغییرات اقلیمی و به ویژه روند تغییرات بارش از جمله مواردی است که در سالهای اخیر مورد توجه پالیسی سازان، مدیران ارشد بخش پلانگذاری، محققان علوم هواشناسی ، هایدرولوژی و برنامه ریزان سکتور آب و حوزه های دریایی قرار داشته است. بدون توجه به این که یک جغرافیا در اقلیم خشک و نیمه خشک قرار دارد، اگاهی از روند تغییرات بارندگی یک مکان میتواند بسیاری از مدیران و دست اندر کاران مرتبط به آب را نسبت به تصمیم گیری های آینده خود در ارتباط به اجرای پروژه های انکشاف منابع آب یاری دهد. قرار گیری بخش های زیادی از افغانستان در کمر بند خشک و نیمه خشک جهان از سوی دیگر نزولات اقلیمی در تآمین آب کشور نقش حیاتی را داشته می باشد.

در زمنیه شناخت گسترش بارندگی در سطح حوزه های دریایی و افغانستان تحقیقات گسترده ای صورت نگرفته است، عوامل عدیدی مثل کمبود ظرفیت بشری لازم و دسترسی نداشتن به ارقام هایدرومیتیورولوژیکی را میتوان اشاره کرد. تنها در سال ۱۹۷۵م میلادی اداره ملی هواشناسی آنوقت با استفاده از ارقام جمع آوری شده از استیشن های خودکار هواشناسی، متوسط سالانه بارندگی را در سطح کشور ۲۵۰ الی ۳۰۰ ملی متر اعلان نموده بودند. از آن به بعد فعالیت های هواشناسی و هایدرولوژیکی برای یک وقفه طولانی ۲۸ ساله متوقف گردید و تمام استیشن های هواشناسی و هایدرولوژیکی در نتیجه جنگ های تحمیلی تخریب و بعد از سال ۱۹۸۰م فعالیت برای مدتی طولانی متوقف گردید.

خوشبختانه وزارت انرژی و آب با همکاری مالی بانک جهانی فعالیت های هایدرومیتیورولوژیکی را در پنج حوزه دریایی از سر گرفتند. متخصصین بانک جهانی و منابع آب بعد از بررسی های همه جانبه طرح نصب ۱۷۴ استیشن هایدرولوژیکی ، ۳۰ استیشن برف سنج و ۲٦ استیشن میتورولوژیکی را در مناسب ترین نقاط و مکان های مناسب تهیه نموده و به وزارت انرژی و آب پیشنهاد نمودند. از سال ۲۰۰۷م الی اکنون این وزارت به تعداد ۱۷۲ استیشن هایدرولوژیکی ۵٦ استیشن برف سنج و متیورولوژیکی را در ۵ حوزه دریایی نصب نموده و پروسه حفظ و مراقبت از استیشن ها را شروع نمودند ( شکل ۱). پروسه جمع آوری ارقام هایدرولوژیکی و میتیورولوژیکی بعد از نصب استیشن ها آغاز شد. از تاریخ نصب تا حال از اکثر این استیشن‌ها آمار و ارقام بطور پایدار جمع آوری گردیده و ارقام جمع آوری شده توسط تیم تخنیکی ریاست منابع آب تحلیل و تجزیه میگردد. آمار و ارقام تحلیل شده به شکل سالنامه ای آبی و سالنامه های میتیورولوژیکی تبدیل شده و حسب ضرورت به نهاد های دولتی و غیر دولتی توزیع میگردد.




شکل ۱: موقعیت استیشن های هایدرومتیورولوژیکی در حوزه های دریایی کشور

بمنظور تحلیل و تجزیه متوسط سالانه بارندگی در کشور از ارقام و آمار روزانه ۱۱۸ استیشن هایدرولوژیکی و میتیورولوژیکی استفاده گردید . ابتدا ارقام تمام اشتیشن ها را بررسی و از میان همه استیشن نصب شده ارقام ۱۱۸ استیشن برای پیشبرد این مطالعه مناسب انتخاب شد. در قدم دوم کلیه ارقام به اساس حوزه های فرعی و حوزه های اصلی صنف بندی و بعد از طبقه بندی کلیه ارقام صنف بندی شده تحلیل و تجزیه گردید تا خلاها و مشکلات موجود در ارقام شناسایی و با استفاده از شیوه های سازمان هواشناسی جهانی اصلاح گردید.در این مطالعه با استفاده از سه روش میانگین بارنده گی سالانه در سطح حوزه های فرعی دریایی، حوزه های اصلی دریایی و کل کشور محاسبه گردید. روش های کاربردی در این مطالعه عبارت اند از :


- روش میانگین حسابی (Arithmetic mean)
- روش متوسط وزنی (Weighted mean)
- روش تیسن (Theissen method)

از آنجایکه هر روش مقادیر مختلف از بارندگی را نظر به شرایط و مقاصد خاص ارایه نموده است و روش تیسن پولیگون مناسبترین روش برای محاسبه و توزیع بارندگی نظر به مساحت عمومی افغانستان می باشد، بناً اوسط عمومی بارندگی افغانستان ۲۴۶ ملی متر به اساس ارقام ۲۰۰۸ الی ۲۰۱۶ محاسبه گردید. هر گاه وزن تولید بارندگی را نظر به حوزه های فرعی ، اصلی دریایی و تعداد استیشن ها به اساس روش وزنی در نظر بگیریم میانگین عمومی بارندگی در کل کشور به ۲۹۸ ملی متر تخمین گردید. سپس میتوان گفت که اوسط بارندگی در محدوده ۲۴۶ الی ۲۹۸ ملی متر می باشد .

تحلیل اوسط سالانه بارندگی در سطح افغانستان با استفاده از روش های میانگین حسابی، متوسط وزنی و تیسن در جدول (۱) و شکل (۲)نشان داده شده است.

| خلاصه جدول محاسبه میانگین بارندگی در سطح حوزه های دریایی کشور (افغانستان)– ۲۰۰۸–۲۰۱۶ | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| شماره | حوزه دریایی اصلی | میانگین حسابی | میانگین وزنی | میانگین به روش تیسین پولیگون | تعداد استیشن | مساحت(کیلومتر) | مساحت به فیصدی |
| 1 | هلمند | 205.43 | 222.39 | 165.50 | 16 | 300882.3 | 47.0 |
| 2 | پنج –آمو | 370.08 | 388.92 | 396.00 | 48 | 96700.1 | 15.1 |
| 3 | هریرود مرغاب | 234.92 | 244.20 | 234.07 | 9 | 99162.5 | 15.5 |
| 4 | کابل | 369.51 | 368.29 | 360.55 | 23.00 | 67408.8 | 10.5 |
| 5 | شمال | 238.38 | 269.88 | 281.28 | 22.00 | 76101.0 | 11.9 |
| میانگین مجموعی(پنج حوزه دریایی) | | 283.66 | 298.73 | 246 | 118 | 640254.6 | 100.0 |
| میانگین مجموعی بارندگی افغانستان | | | | | 246 | | |

جدول(۱): بررسی اوسط بارندگی افغانستان با استفاده از روش های میانگین حسابی، متوسط وزنی و تیسن




(۲): نقشه توزیع بارندگی در افغانستان ( راپور تحلیل بارندگی حوزه های دریای، ریاست منابع آب ۱۳۹۸)

علت تفاوت روش تیسن با دو روش دیگر این است در این روش به هر استیشن یک سطح مشخصی از حوزه نسبت داده می شود. همچنان حوزه دریایی هلمندکه تقریبابیشتر از ۴۷ فیصد کل مساحت کشور را احتوا نموده است کمترین میزان بارندگی را دارا می باشد.

# قرارداد پروژه بند پاشدان ولایت هرات مورد بررسی و بازنگری قرار گرفت

به ادامه سلسله جلسات قبلی هیئت بررسی کننده قراردادهای بزرگ، در این جلسه که با حضور محترم ملا عبداللطیف منصور سرپرست وزارت آب و انرژی، محترم ملا محمد یونس آخندزاده سرپرست وزارت احیا و انکشاف دهات، معینان و نمایندگان وزارت آب و انرژی، وزارت اقتصاد، وزارت مالیه، وزارت فواید عامه و اداره تدارکات ملی برگزار گردید، قرارداد پروژه بند پاشدان ولایت هرات بررسی و باز نگری شد.

در جلسه متذکره قرارداد پروژه بند پاشدان به صورت مفصل و همه جانبه مورد بررسی و ارزیابی قرار گرفته بعد از بحث و تبادل نظر های لازم روی محتوای این قرارداد، هیئت یاد شده نتایج بررسی های خویش را طی یک گزارش تهیه نمودند تا با کابینه امارت اسلامی شریک سازند.



پروژه بند پاشدان یکی از پروژه های بزرگ تحت کار وزارت آب و انرژی می باشد، که در ولایت هرات به هدف آبیاری و تولید برق راه اندازی شده است.

---

# د سترو پروژو د قراردادونو د څېړنې د رهبري پلاوي دوهمه ناسته د کجکي بند د قرارداد پهٔ هکله ترسره شوه

د هلمند ولایت د کجکي بند پروژې د قرارداد د څېړنې د مخکنی ناستې په دوام کې، دا ناسته د اوبو او انرژي وزارت د سرپرست وزیر ښاغلي ملا عبداللطیف منصور، د کلیو پراختیا وزارت د سرپرست وزیر ښاغلي ملا محمد یونس آخند، ، د اوبو او انرژي وزارت، د اقتصاد وزرات، د مالیې وزارت، د ټولګټو وزارت او د تدارکاتو ملې اداري د معینانو او استازو پهٔ شتون کې ترسره شوه.

پهٔ یاده ناسته کې، د اوبو او انرژي وزارت، مالیې وزارت، د پانګونې د آسانتیا واحد او د افغانستان برېښنا شرکت یوه ګډه کمیټه چې د ریاست الوزرا عالي مقام د ۲۰۹ نمبر حکم پر



اساس د ۱۴۴۴/۱/۲۲ نیټې منظور شوې ده، موظفه شوه، ترڅو یاد قرارداد پهٔ بشپړه توګه وڅېړي او د خپلو بیاکتنو پایلې پهٔ یو بشپړ راپور کې د رهبري مقام ته وړاندې کړي.

# د انرژي معینیت اونیزه ناسته د رئیسانو د راپورونو د څېړنې او د یاد معینیت د یو شمېر پروژو د ستونزو د هوارولو په هکله ترسره شوه

یاده ناسته، د اوبو او انرژي وزارت د انرژي معین ښاغلي ملا محمد عیسی ثاني تر مشري لاندې د وزارت د انرژي سکتور د رئیسانو او مسؤلینو په شتون کې ترسره شوه.

په دې ناسته کې، د انرژي ښاغلي معین خلکو ته د ربښتیني خدمتونو د رسولو د توفیق غوښتنې ترڅنګ، رئیسانو او نورو ټولو مسؤلینو ته د چارو د ښه والي په پار لازم هدایات ورکړل او ټینګار یې وکړ ، چې هر څوک د خپلې دندې د لایحې سره سم په خپلې کاري ساحه کې فعالیت وکړي ، ترڅو د وظیفوي تداخل څخه مخنیوي وشي.

په ورته وخت کې، یو شمېـر رئیسانو خپـل کاري راپورونه د انرژي معین حضور ته وړاندې کړل او همدارنګه توظیف شوې کمیټې د جغتو ولسوالي د بربېښنا اوبیزې تولیدي کوچنې دستگاه او د بدخشان ولایت د شورابک بند پروژې د وضعیت د څېړلو او ستونزو د هوارولو په هکله خپل راپورونه د انرژي لهٔ معین سره شریک کړل.

# رئیس جدیدالتقرر ریاست تنظیم آبیاری و آبرسانی به همکاران معرفی شد

محترم انجنیر محمد اسماعیل "عمار" به حیث رئیس آبیاری و آبرسانی وزارت آب و انرژی طی یک برنامه با حضور محترم قاری محمد عبدالعزیز "عزیز" رئیس عمومی دفتر، محترم الحاج محمدالدین "نیازی" رئیس عمومی مالی و اداری، محترم عبدالغفور "عمری" رئیس عمومی تنظیم امور آب و شماری دیگر از روسای وزارت به همکاران معرفی گردید.

در این برنامه آقای نیازی رئیس عمومی مالی واداری، موفقیت نظام اسلامی در کشور را یکی از نعمت های بزرگ الهی بیان نموده با اشاره به تلاش صادقانه برای رفاه مردم و آبادی کشور ، تاکید کرد که در حال حاضر ارائه خدمات صادقانه به ملت شریف افغانستان مهمترین مسئولیت همه ما می باشد.

همچنان در ادامه آقای عمری رئیس عمومی تنظیم امور آب در مورد اهمیت ساحه کاری ریاست عمومی تنظیم امور آب و شماری از فعالیت های این ریاست صحبت نموده به سعی و تلاش بیشتر در راه آبادی کشور تاکید ورزید.

در اخیر آقای عمار رئیس جدید تنظیم آبیاری و آبرسانی وزارت از پیشبُرد این مسئولیت به وجه احسن آن به همکاران اطمینان داده تعهد سپرد که در راستای انجام مسئولیت ها تمام سعی و تلاش خویش را به کار خواهند گرفت.

قابل یادآوری است که انجنیر محمد اسماعیل "عمار" دارای سند تحصیلی لیسانس از پوهنتون پولیتخنیک کابل بوده و قبل از این به حیث رئیس حوزه فرعی دریایی میدان وردک ایفای وظیفه می نمود.

# باغیس ولایت کې د دایزنګي او تګاب کانالونو د پاکاري، د اندري او قرقیطو کانال د پاکاري او د محافظوي دیوار پروژو د جوړولو چارې پیل شوې

د باغیس ولایت په آبکمري ولسوالي کې د دایزنګي کانال د پاکاري او د یوې برخې په پاخه ډول جوړولو، مقر ولسوالي کې د اندري کانال د پاکاري او د پرچاوې ودانۍ د جوړولو، د قلعه نو اړوند د چینې پاکاري، د قرقیطو سرچینې د محافظوي دیوال د جوړولو او د قلعه نو اړوند د تګاب اسماعیل او باغبان کانالونو د پاکاري او د محافظوي دیوال د جوړولو چارې د هریرود- مرغاب سیندیزې عمومي حوزې رئیس ښاغلي ملا عبدالسلام مستوفي آغا، د GIZ دفتر د استازي او د هغه ولایت د یو شمېر محلي مسؤلینو په شتون کې پرانیستل شوې.

د یادو پروژو د پرانیستـــــــې په مراسمو کې، د هریرود- مرغاب سیندیزې عمومي حوزې رئیس د اقتصاد او کرنې په وده کې د اوبو د رول په هکله هر اړخیزه وینا وکړه او د یادو پروژو د چارو په ترسره کولو کې پر لوړ کیفیت باندې ټینګار وکړ.

د یادو پروژو چارې د GIZ د دفتر په مالي ملاتړ پر مخ وړل کېږي.

## د میدان ښار سیندیزې حوزې رئیس د دادل او جوقل چکډمونو د چارو له بهیر څخه څارنه وکړه



د میدان ښار سیندیزې حوزې رئیس ښاغلي انجنیر محمد اسماعیل عمار د دادل او جوقل د چکډمونو د ودانیزو چارو لهٔ بهیر څخه څارنه وکړه. د میدان ښار سیندیزې حوزې رئیس ساحوي انجنیرانو ته د یادو چکډمونو د ودانیزو چارو د ښهٔ پرمخ وړلو لپاره لازمې لارښوونې وکړې.

## رئیس حوزه دریایی تالقان از امور پروژه نمک آب ولایت تخار نظارت نمود



محترم مولانا صبغت‌الله، رئیس حوزه دریایی تالقان و هیئت تخنیکی همراه اش از امور اصلاح مسیر پروژه نمک آب ولایت تخار نظارت کرده و راجع به پیشرفت کار و چگونگی پیشبرد روند امور کاری برای مسئولین پروژه هدایات لازم تخنیکی را ارائه نمود.

## کار بازسازی کانال چپ ولسوالی خان آباد ولایت کندز با هزینه بیش از ۷ صدهزار افغانی آغاز شد

کاربازسازی کانال چپ ولسوالی خان آباد ولایت کندز با هزینه در حدود هفت‌صدو چهل هزار( ۷٤۰۰۰۰) افغانی با حضور محترم انجنیر رفیع الله مجتبی، رئیس عمومی حوزه دریایی پنج آمو و شماری دیگر از مسئولین محلی آن ولایت آغاز گردید.
کار بازسازی پروژه متذکره به حمایت مالی سکتور آب در هماهنگی با حوزه دریایی پنج آمو به پیش‌برده می‌شود و کار آن در مدت ٤٥ روز تکمیل خواهد شد.

## کندز ولایت کې د یوهٔ کانال د بیارغونې چارې د ۹ میلیونه افغانیو پهٔ لگښت پرانیستل شوې

د کندز ولایت علي آباد ولسوالي پهٔ لاله سیمه کې د یوهٔ کانال د بیارغونې چارې د ۹ میلیونه افغانیو پهٔ لگښت د پنج آمو سیندیزې حوزې عمومي رئیس ښاغلي انجنیر رفیع الله مجتبی، د UNDP موسسې د د فتر د مسؤل او د کندز ولایت د یو شمېر نورو محلي مسؤلینو پهٔ شتون کې پرانیستل شوې.
یاد کانال د ۲۷ کیلو متره اوږدوالي پهٔ درلودلو سره د ۵۰۰۰ جریبه ځمکې د خړوبولو وړتیا لري او شاوخوا ۳۰۰۰ کورنۍ به ورڅخه برخمنې شي.
د دې کانال د بیارغونې چارې د پنج آمو سیندیزې حوزې په همغږې د UNDP موسسې پهٔ مالي ملاتړ د سویدن کمیټې لهٔ خوا پلي کېږي.

## بازسازی سه کانال با هزینه دومیلیون افغانی در ولایت بامیان آغاز شد

بازسازی کانال‌های داوودی، سوماره و سید آباد مربوط مرکز ولایت بامیان با هزینه دو میلیون افغانی با حضور والی ولایت بامیان، رئیس حوزه دریایی کندز علیا(بامیان) و شماری دیگر از مسئولین محلی آن ولایت آغاز گردید. بازسازی کانال‌های مذکور به حمایت مالی نهاد تمویل کننده بشردوستانه آب و همکاری تخنیکی حوزه دریایی کندز علیا به پیش‌برده می‌شود.

د اوبو او انرژي فصلنامه
یوولسم کال نولسمه گڼه، د ۱۴۰۱ هـ ش کال دوهم ربع چې د ۱۴۴۳- ۱۴۴۴هـ - ق کال سره سمون لري

## مسئولین حوزه فرعی دریایی وسطی کابل به منظور انجام بهتر و به موقع امور جلسه برگزار کردند



این جلسه تحت ریاست محترم مولوی ولی محمد تائب، رئیس حوزه فرعی دریایی وسطی کابل در تالار جلسه‌های آن ریاست به منظور انجام بهتر و به موقع امور برگزار گردید.

در این جلسه، پیرامون موضوعات تخنیکی، اداری و شماری دیگر از موضوعات بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

## د گوملي پهٔ سیندیزه فرعي حوزه کې د چارو پهٔ ښهٔ توگه او پر وخت د ترسره کولو پهٔ موخه د همغږي ناسته ترسره شوه



دا ناسته د گوملي سیندیزې فرعي حوزې رئیس ښاغلي قاري فتح محمد ذاکر او د یاد ریاست د ټولو کارمندانو پهٔ گډون ترسره شوه او د چارو پهٔ ښهٔ تو گه او پر وخت د ترســره کولو باندې بحث او د نظر تبادله وشوه.

پهٔ یاده ناسته کې، د گوملي سیندیزې فرعي حوزې رئیس د اداري او تخنیکي چارو پهٔ ښهٔ توگه او پر وخت ترسره کولو باندې ټینگار وکړ.

## پروژه تصفیه، ذخیره سازی و استفاده از آب‌های سطحی به عوض آب‌های زیرزمینی برای سرسبزی و آبیاری ناحیه پنجم شهر کابل به بهره برداری سپرده شد

این پروژه با حضور محترم مولوی ولی محمد تائب، رئیس حوزه فرعی دریایی کابل وسطی و محترم مولوی محمد خالد، معاون خدمات شهری شاروالی کابل با قطع نمودن نوار به بهره برداری سپرده شد.

پروژه مذکور به همکاری تخنیکی ریاست عمومی حوزه دریایی کابل و حمایت مالی شاروالی کابل تطبیق و به بهره برداری سپرده شد.

## د غزني پهٔ ولایت کې د سروکانړو بند چارې پیل شوې

د غزني ولایت پهٔ قره باغ ولسوالي کې د سرو کانړو بند پروژې د جوړولو عملي چارې د غزني ولایت د سیندیزې فرعي حوزې رئیس ښاغلي مولوي اسدالله منصوري او د یاد ولایت د یو شمېر نورو محلي مسؤلینو پهٔ شتون کې د DRC موسسې پهٔ مالي ملاتړ پهٔ رسمي توگه پیل شوې.

یاد بند به د ۱۲ متره پهٔ لوړوالي سره جوړ شي چې د ۵۰۰ زره متر مکعبه اوبو د ذخیره کولو وړتیا به و لري.

د یادونې وړ ده، چې د دې بند لومړنۍ سروې څه موده وړاندې د غزني ولایت د ولاړو اوبو او سیندیزې فرعي حوزې لهٔ خوا ترسره شوې وه.

## سروی تخنیکی سربند قریه جلگه درازگرد در ولایت پروان انجام شد

سروی تخنیکی سربند و پاک‌کاری کانال آبیاری قریه جلگه دراز گرد ولسوالی سیاه گرد ولایت پروان از سوی تیم تخنیکی حوزه فرعی دریایی غوربند- چاریکار انجام شد.

کانال متذکره ظرفیت آبیاری ۴۵۰ هکتار زمین را دارد.

## پکتيا ولايت کې د ټنډانو سربند رغنيزې چارې د څه باندې ۹۹ زره آمريکايي ډالرو په ارزښت پيل شوې



د پکتيا ولايت مرکز ګرديز اړوند د ټنډانو په سيمه کې د ټنډانو سربند او کانال پروژې رغنيزې چارې د پکتيا سينديزې فرعي حوزې رياست تر څارنې لاندې د (TLO) مؤسسې په مالي ملاتړ د نهه نوي زره ، نهه سوه او اته وېشت اعشاريه يو شپيته آمريکايي ډالرو (۶۱/ ۹۹۹۲۸) په ارزښت د پکتيا سينديزې فرعي حوزې د مسؤلينو، د يادې موسسې ولايتي مسؤل او يو شمېرنورو محلي مسؤلينو په شتون کې پيل شوې.

د ياد سربند او کانال په بشپړيدو سره به ۴۳۱ کورنی ورڅخه ګټه پورته کړې او لهٔ ۳۷۰ جريبه زياته ځمکه به خړوبه کړي.

---

## د کابل ولايت په پغمان ولسوالي کې د دريو ټولګټو پروژو پرانيسته



د کابل ولايت د پغمان ولسوالي په بېلابېلو کليو کې د سربندونو ، اوبو لګولو کانالونو د پاکارۍ او بيارغونې پروژو چارې د کابل منځنی سينديزې فرعي حوزې رئيس ښاغلي مولوي ولي محمد تائب، د کابل عمومي سينديزې حوزې د سلاکار ښاغلي روح الله مايار،د پغمان ولسوالي مرستيال او د يادې ولسوالي د يو شمېر مشرانو په شتون کې پرانيستل شوې او عملي چارې يې پيل شوې
د حکيم کلا او د زرګر کلي د سربند او اوبو لګولو کانالونو د پاکارۍ پروژه، د قرغې بند د ننوتلو کانال د پاکارۍ او بيارغونې پروژه او د ملک کلا د ترسبګاه د پاکارۍ پروژه په يادو ټولګټو پروژو کې شامل دي، چې د اوبو او انرژۍ وزارت لهٔ خوا به د بشر پاله مرستو په مالي ملاتړ په پغمان ولسوالي کې پلي شي.

د کابل عمومي سينديزې حوزې سلاکار ښاغلي روح الله مايار د يادو پروژو د پرانيستلو په بهير کې د يادو پروژو د پلي کيدو څخه موخه د قرغې بند ته د رسوباتو د ننوتلو څخه مخنيوی، د کرنيزو ځمکو خړوبول او خلکو ته د کار زمينې برابرول ياد کړل.

د يادوني وړ ده، چې د يادو پروژو په پلي کيدو سره به په توليز ډول ۱۷۰ هکتاره ځمکه تر اوبو لګولو لاندې راشي او تر ۱۷۰۰ زيات کسان به په مستقيم ډول او زرګونه کسان به په غير مستقيم ډول ورڅخه ګټه واخلي.

## تخار ولایت کې د اوبو ګټه اخیستونکو ټولنو ته د فعالیت د جواز ورکولو غونډه ترسره شوه



یاده غونډه د ۷ کانالونو څخه د اوبو ګټواخیستونکو ټولنو ته د جواز ورکولو په موخه د تالقان سیندیزې حوزې رئیس ښاغلي مولانا صبغت الله قانع په ګډون ترسره شوه.

په یاده غونډه کې، د تالقان سیندیزې حوزې رئیس په اسلامي شریعت کې د اوبو د ارزښت، د اوبو سپما او د اوبو په مدیریت کې د اوبو ګټې اخیستونکو ټولنو د رول په اړه خبرې وکړې.

د یادې غونډې په پای کې د اوبو ګټې اخیستونکو ټولنو رئیسانو ته د فعالیت د جواز ورکولو ترڅنګ د اوبو د چارو د تنظیم آمر ښاغلي انجنیر حبیب الله لهٔ خوا د دولتي اداراتو او د اوبو ګټې اخیستونکو ټولنو د دندو او مسئولیتونو په اړه پریزنټیشن وړاندې شو.

## سمینار اصلاحی و تربیوی ریاست دعوت و ارشاد پیرامون توبه و اهمیت آن برگزار شد



این سمینار با حضور محترم مولوی گل الرحمن عارف، رئیس دعوت و ارشاد وزارت آب و انرژی و اشتراک شماری از کارمندان این وزارت برگزار گردید.

در این سمینار رئیس دعوت و ارشاد پیرامون اهمیت، ارکان و شرایط توبه به اشتراک کنندگان این برنامه معلومات همه جانبه ارائه نموده و همه کارمندان را به توبه از گناهان گذشته ترغیب کرد.

وی افزود، افرادی که از گناهان گذشته خویش توبه می‌کنند، درصورت که توبه شان از سوی خداوند(ج) پذیرفته شود، مانند افرادی است که مرتکب گناه نشده باشند.

وی تاکید ورزید که توبه در حقیقت بازگشت از نافرمانی به سوی اطاعت است و تا زمانی‌که دروازه توبه باز است، باید از خداوند(ج) آمرزش بخواهیم که گناهان گذشته ما را عفو نماید.

## استیشن هایدرومیتیورولوژی پل خوست ولایت پکتیا پس از تغییر موقعیت به بهره برداری سپرده شد

استیشن هایدرومیتیورولوژی پل خوست مربوط ریاست حوزه فرعی دریایی پکتیا که از موقعیت اصلی‌اش به جای دیگری انتقال و جا به جا شده بود، طی محفلی به بهره برداری سپرده شد.

در محفل متذکره، محترم شیخ عزیزالرحمن منصور، معاون مقام ولایت پکتیا، محترم مولوی محمد کریم فاتح، رئیس حوزه فرعی دریایی پکتیا و شماری دیگر از مسئولین نیز اشتراک داشتند.

در این محفل، رئیس حوزه فرعی دریایی پکتیا هدف از انتقال استیشن متذکره را از موقعیت قبلی به موقعیت جدید ازدیاد کثافات و رسوبات خواند که فعالیت نورمال استیشن را با چالش مواجه کرده بود.

## بامیان ولایت کې د دوو ټولګټو پروژو چارې د دوه میلیونه افغانیو په لګښت پیل شوې

د بامیان ولایت د مرکز اړوند د حیدر آباد او جیګره خیل کانالونو د پاکارۍ چارې د دوه میلیونه افغانیو په لګښت د بامیان سیندیزې حوزې د رئیس ښاغلي ملا محمد شفیع(شفیع الله) او د یاد ولایت د یو شمېر نورو مسؤلینو په شتون کې پیل شوې.

د یادو پروژو چارې د یوې مرستندویه ټولنې په مالي ملاتړ د پورتني کندز سیندیزې حوزې (بامیان) تر څارنې لاندې پرمخ وړل کېږي.

## کمیته انرژی ولایتی در ولایت بغلان ایجاد شد

کمیته انرژی ولایتی در ولایت بغلان با حضور والی آن ولایت، رئیس حوزه فرعی دریایی بغلان و شماری دیگر از مسئولین محلی آن ولایت ایجاد گردید.

محترم انجنیر آصف الله رحیمی، مشاور تخنیکی ریاست حوزه فرعی دریایی بغلان هدف از ایجاد این کمیته، لایحه وظایف و سایر معلومات ضروری مربوط به کمیته مذکور را طی پرزنتیشنی با اشتراک کنندگان شریک کرد.

# مطبوعاتي اعلامیه

چهارشنبه ۱۹/۵/۱۴۰۱ - ۱٦:۳



د افغانستان اسلامي امارت د اوبو او انرژي وزارت د وزیر ښاغلي ملا عبداللطیف منصور په مشرۍ د یاد وزارت پلاوي نن له غرمې وروسته د ایران اسلامي جمهوریت د نیرو وزیر ښاغلي علي اکبر محرابیان په مشرۍ له راغلي ایراني هیئت سره د اوبو او انرژي وزارت په مقر کې وکتل.

په دې کتنه کې د دواړو لوریو تر منځ د اوبو او انرژي اړوند بېلابېلو مسائلو په اړه رغنده بحثونه وشول. د اوبو او انرژي وزیر ښاغلي ملا عبداللطیف منصور وویل: د افغانستان اسلامي امارت د افغانستان او ایران تر منځ د هلمند سیند د اوبو په اړه د ۱۳۵۱ هـ ل کال د معاهدې د بشپړې پلي کېدو په اړه ژمنتیا لري. همدارنګه د ایران د نیرو وزیر ښاغلي محرابیان یاد ټرون ته د ایران هېواد د ژمنتیا سربېره زیاته کړه چې ایران هېواد چمتو دی د بادي برېښنا د تولید، د برېښنا صادرات، د افغانستان لویو ښارونو ته د څښاک اوبو د انتقال په لویو پروژو کې د افغانستان اسلامي امارت سره همکاري وکړي او په دې اړه خپلې تجربې ورسره شریکې کړي.

په پای کې پرېکړه وشوه چې د هلمند سیند د اوبو معاهدې مطابق د ایران هېواد د حقابې د ورکړې دریو ځایونو د ټاکل کېدو په اړه عملي چارې د ټاکل شوي مهالوېش مطابق ډېر ژر پیل شي.

---

**اعلامیه مطبوعاتی:**

هیئت وزارت آب و انرژی امارت اسلامی افغانستان به‌رهبری محترم ملا عبداللطیف منصور با هیئت اعزامی وزارت نیرو جمهوری اسلامی ایران به‌رهبری وزیر نیرو محترم علی اکبر محرابیان در مقر وزارت آب و انرژی دیدار کرد. طی این دیدار میان دو طرف پیرامون موضوعات مختلف مربوط به آب و انرژی بحث های سازنده صورت گرفت.

وزیر محترم آب و انرژی ملا عبداللطیف منصور فرمودند: امارت اسلامی افغانستان متعهد به تطبیق کامل معاهده ۱۳۵۱ هـ ش آب دریای هلمند میان افغانستان و ایران می باشد. همچنین وزیر نیروی ایران محترم محرابیان علاوه بر متعهد بودن جانب ایران به تطبیق معاهده متذکره بیان داشتند که کشور ایران آمادگی دارد در بخش های تولید برق، صادرات برق و پروژه های انتقال آب شرب به شهرهای بزرگ، امارت اسلامی افغانستان را همکاری نموده و تجارب خویش را در زمینه با ایشان شریک سازد.

در پایان فیصله صورت گرفت که کارهای عملی برای تثبیت سه محل تحویلدهی حقابه کشور ایران در مطابقت به معاهده آب دریای هلمند طبق تقسیم اوقات تعیین شده هر چه زودتر آغاز گردد.

# اوبه او انرژي

Islamic Emirate of Afghanistan
Ministry of Energy and Water




نمای زیبا از بند برق ماهیپر